# تړون

د خدائي خدمتګارانو د روحونو،

د پښتونخوا د اولسونو،

زمکې،

غرونو،

سيندونو،

ځنګلونو،

اونو بوټو،

مرغيو،

ژوو څاروو

او موسمونو

په نامه

CamScanner

# لیکلړ


- شتمنه پښتونخوا ولې د غربت او پسماندګۍ ښکار ده؟ ډاکټر سمیع الدین ارمان – 6
- د مولانا خانزېب قامي او تاریخي زیار/ روښان ایسپزی – 11
- وَلَا تَعۡثَوۡا فِي الۡاَرۡضِ مُفۡسِدِیۡن/ حیات روغانی – 15
- ېو څو خبرې/ مولانا خانزېب – 19

1. د پښتنو جغرافیه – 20
2. د پښتونخوا وطن وسائل – 32
3. قلمي خونه – 60
4. د لاچي بوټو نه پښتونخوا ژغورل غواړي – 64
5. د افغانستان سره ترلې لارې – 65
6. د منځنۍ او سوېلي اېشیاء په چوک پروت – 70
7. سوات موټروې – 75
8. د شاتو مچۍ – د قدرت کرشمه – 78
9. د پښتونخوا د څرمنو سوداګري او کارخانې – 82
10. د پښتونخوا وطن سیندونه وپېژنئ! – 85
11. د پښتونخوا ټراوټ کبان – 103
12. د ورو ممکنه قات! پښتونخوا کښې حکومت شته؟ – 106
13. پښتونخوا: د بجلۍ شتمني – 108
14. په مومندو کښې اولس ته بجلي ولې نشته؟ – 112
15. د پښتونخوا د اوبو مقدمه – 115

16. د پنجاب باغ: کالا باغ – 121
17. د وزیرستان خزانې د ښامار په خوله کښې – 129
18. جنوبي وزیرستان کښې بجلي نشته؟ – 134
19. قدرتي وسائل او اسلام – 138
20. وطني توت – 143
21. د پښتونخوا ځنګل – 144
22. پښتونخوا او سېلګري – 147
23. د پښتونخوا په ځنګلونو کښې اورونه – 149
24. نورستان: جنت نښان – 151
25. کوکنار – 154
26. د پېښور سانده – 158
27. د پښتونخوا نوې ضلعې او معدنیات – 161
28. 'داسو برېښنا بند' او د تربېلې پینځمه پراختیائي پروژه – 167
29. عوامي نېشنل پارټي او د بجلۍ د ستونزې حل – 172
30. د پښتونخوا فقر مصنوعي دی – 173
31. اسلام او صوبائي خودمختاري – 176
32. سر چینې – 178
33. جدولونه – 180

CS CamScanner

# شتمنه پښتونخوا
## ولې د غربت او پسماندګۍ ښکار ده؟

د مولانا خانزېب په دې کتاب کښې د پښتونخوا د شتمنيو تفصيلات دا خطه په قدرتي توګه د مالدارۍ يوه ټوټه ګرځوي. د بېلابېلو قدرتي شتمنيو/ وسائلو يو مستند بهير دلته ثبت دی. د دې نه علاوه دلته د پښتونخوا جغرافيائي موقعيت او تاريخوالې يوه بله ستره حواله ده. دا حواله د تجارت او سفارت هغه بې شمېره وسائل په ګوته کوي چې د اسودګۍ او خوشحالۍ فطري لاملونه دي.
مهم سوال دا دی چې د بې شمېره قدرتي شتمنيو باوجود دا خاوره او دا خلک پسمانده ولې دي؟ مولانا خانزېب دې سوال ته ضمناً اشارات کړي دي. د دغو اشاراتو لنډيز دا دی چې وسائل او قدرتي شتمنۍ هله نتيجه خېزي وي چې کله سياسي شعور او واکمني تر لاسه وي. که دا نه وي نو په زرګونو قدرتي شتمنۍ نه د يو وګړي او نه د يوې ټولنې د اسوده کېدو لامل ګرځېدې شي. زه دا نکته نوره هم زياته سپړدل او څرګندول غواړم.

1. د اسټرېليا او سنګاپور per capita wealth يو رنګ او يو هومره دی. حال دا چې اسټريليا د قدرتي وسائلو نه مالامال ده او د دې په پرتله سنګهاپور کښې هېڅ قدرتي وسائل نشته.
2. په کانګو کښې د قدرتي وسائلو شتون د سنګاپور سره د مقائسه کولو تهوک هم نه جوړېږي خو کانګو د لوږې مري او سنګاپور اسوده دی.
3. جاپان کښې د قدرتي وسائلو بې دربغه شتمني نشته خو د دې باجود د جاپان اکانومي د نړۍ پينځه لوړ اکانومي لرونکو هېوادونو کښې راځي.
4. په روس کښې د قدرتي وسائلو بې دربغه شتمنۍ دي خو د دې باوجود نه په انفرادي توګه او نه په ټولنيزه حواله دوي کله د نړۍ سيال ګرځېدلي.
5. سويت يونين د خپل عروج په وخت د نړۍ د ټېلو تر ټولو ستر پلورنکی ؤ. د

نړۍ تر ټولو زیاته ښېرازه ځمکه ورسره وه، د نړۍ د ګېس پهٔ درېو کښې یوه برخه د دوي پهٔ لاسونو کښې وه، اوسپنه، تانبا او بېلابېل معدنیات پهٔ یو غټ مقدار کښې د دوي سره وو. د دې باوجود د دوي د اکانومي زور او اغېز د جاپان، جرمني او امریکا هومره نهٔ ؤ. د دوي د یو وګړي د ژوند خوشحالۍ، ازادي او سهولیات د جرمني جاپان او امریکې پهٔ پرتله ډېرې کم کوز ؤ.

6. پهٔ افریق، وېنزوېلا او عربو کښې د قدرتي وسائلو بې شمیره ذخیرې دي. عن تر دې چې یوه څېړنیزه مطالعه دا را ښائي چې کهٔ محض عرب د تېلو فرض زکات ادا کړي نو د نړۍ د نیمې نه د زیاتې برخې غربت پرې ختمېږي. د نورو قدرتي وسائلو زکات د دې نه علاوه دی– خو د دې باوجود پهٔ ټولنیزه حواله او د یو فرد د آسودګۍ پهٔ حواله نړۍ کښې د دوي اغېز او کردار متاثر کن نهٔ دی.

7. عرب اماراتو د خپلې اکانومي بنیاد او مرکز د قدرتي شتمنۍ (تېل اساسه اکانومي) نه سیاحت او تجارت ته ولې راوړو او د دې د کامیابۍ شماریات مونږ ته څهٔ هدایات او عبرت راکوي؟

8. اسرائیل دا مهال د نړۍ یو زورور او مالدار ترین هېواد دی. د اغېز پهٔ مد کښې د نړۍ ستر قوتونه ورته زیر دي. کهٔ د قدرتي شتمنیو پهٔ ګرځې وهو نو دلته نهٔ ګېس شته نهٔ تېل – عن تر دې چې د قدرتي اوبو د وسائلو سخت کموت هم لري. دوي د قدرتي وسائلو کموت پهٔ انساني وسائلو، تعقل او ټېکنالوژۍ پوره کړی دی.

داسې نور ډېر مثالونه شته چې د قدرتي وسائلو د شتمنیو پهٔ باره کښې زمونږ ادراک رسا کولی شي. یویشتمه پېړۍ کښې د امارت او غربت پهٔ حواله چې انسانیت څو مره تقسیم دی، څومره ترمې ترمې دی، دومره تاریخ کښې کله هم نهٔ ؤ. دې کښې هېڅ شک نشته چې قدرتي وسائل او شتمني د امارت او آسودګۍ

لپاره یوه زمینه جوړېدې شي؛ خو دا زمینه د معاصر صورت حال پابنده ده. دا زمینه لازمي غوښتنې لري. دې غوښتنو کښې سیاسي شعور او واکمني تر ټولو مهم دي، د وسائلو عادلانه تقسیم ضروري دی، د محنت غښتلې مقام ټاکنه ضروري ده، سائنس او ټېکنالوژي لازمي ده، فن او هنر غوښتلي دي، د دې ادراک پکار دی چې د اکانومي مرکزیت جنګ دی کهٔ جاګیر؟ اسلحه ده کهٔ کارخانه؟ سائنس و ټېکنالوژي ده کهٔ د قدرتي وسائلو خامه شتمني؟ سیاسي شعور د سیاست سپېځلی حیثیت ټاکي. دا شعور د تعلیم، خبرداري او تنقیدي فکر نه وده مومي. تخلیقي آزادي دې ته خلا ور بخښي. د سیاسي شعور بې لارې کولو لره سیاسي مذهبیت، نصابي کتابیت او ریاستي تربیت نه کار اخستلی کېږي، جذباتي سرمایه کاري کېږي، مرګ ګلوریفائي کېږي، تشدد ته د غېرت او شجاعت نوم ورکولی کېږي، عدم تشدد او د دې پهٔ سلګونو مزاحمتي لارو ته بې غېرتي وئیلې کېږي.

د پښتونخوا مقدمه کښې د سیاست سپېځلتیا او رسائیت مقدم دی. دا به امن راولي، دا به ټولنه د اساسي انساني حقونو تر لاسه کولو جوګه کوي. د دې دا مطلب نهٔ دی چې قدرتي شتمنۍ کوم ارزښت نهٔ لري یا کوم مهم کردار نهٔ شي تر سره کولی؛ د دې مطلب دا دی چې دغه قدرتي شتمنۍ نړۍ کښې نتیجه خېزې څنګه ثابتېږي؟ باید د دې رسا ادراک ور سره سم ولرو.

د قدرتي شتمنیو باوجود د یوې ټولنې ګڼ اړخیز غربت کښې کوم کوم لاملونه فعال وي؟ پهٔ دې حقله بېلابېلې څېړنې شوې دي خو یو زړهٔ راکښونکی تالیف دې مد کښې د Lawrence E. Harrison او د Samuel P. Huntington دی. د دې نوم Culture Matters دی. دې کښې یوه لاس ته راوړنه دا څرګنده شوې ده چې کلتوري قدرونه، کلتوري عقیدې او مائنډ سېټ د آسودګۍ او غربت پهٔ حرکیاتو کښې بنیادي کردار لوبوي. James Russel د دغه عنصر لنډېز داسې بیانوي:

1. مالداري پهٔ محنت ده/ د مالدارۍ د محنت سره هېڅ تعلق نشته، دا پهٔ

قسمت ده.

2. دولت لامحدود دی او دا زېږول کېږي. چې څوک ئې زېږولې شي، باید د هغو ملکیت شي/ دولت محدود دی، دا دې محض د ضرورت په اساس تقسیم شي.
3. د تجارت د ودې لپاره د قانون بالادستي لازمي ده او قانون به د ټولو لپاره مساوي وي/ ملک، سردار، سالار او برهمن په قانون کښې د مزدور، شودر او نوکر سره برابرول انصاف نهٔ دی.
4. وګړی دې د روزګار په مد کښې خود مختاره وي/ وګړی به خود مختاره نهٔ وي، ریاست او مقتدره ته به جوابده وي.
5. د اعتماد بحالي او عموماً په سوداګرو اعتبار/ د اعتماد عدم بحالي او د دې تاثر راج چې په روزګار کښې به په هېڅ چا اعتماد نهٔ کوې.
6. د روزګاري شراکت حوصله افزائي/ شراکت ته سپکاوی، لکه پښتانهٔ وائي "ښځه شریکه ښه ده خو روزګار شریک نهٔ دی ښهٔ".
7. روزګار او تجارت ته درناوی/ نوکرۍ ته درناوی.
8. د زمکني حقائقو ادراک ته ترجیح ورکول/ زمکني حقائقو نه پرته د عقیدې او تخیل یا نرګسیت ښکار کېدل.
9. نغدې سودا ته ترجیح ورکول او حال یا نژدې مستقبل مرکز ګرځول/ شانداره ماضي یادول او یوټوپیائي مستقبل باندې انحصار.
10. چې د چا وړهٔ کارونه سم وي نو غټ به ئې هم سم وي/ وړهٔ کارونه خېر دی کهٔ ناسم وي، غټ کارونه سم ساتل لازمي دي.
11. تقدیر د امارت په لار کښې خنډ نهٔ دی، زهٔ خپل تقدیر په خپله لیکم/ زهٔ د ژوند سزاوار یم، زهٔ د تقدیر غلام یم.
12. په محنت اهلیت تر لاسه کېږي/ د اهلیت د محنت سره څهٔ دی؟ هر څهٔ د ضرورت تر مخه مخ په وړاندې تګ کوي.

CamScanner

13. دولت د تخلیق او معیار قائم ساتلو سره زیاتېږي/ پهٔ وسائلو، جاګیر او مالِ تجارت باندې قابو ساتلو سره دولت زیاتېږي.
14. تجارتي معاملاتو کښې مذهب د معیار پېمانه نهٔ ده/ مذهب پهٔ هره حواله د معیار اخري پېمانه ده.

د یوې ټولنې د آسودګۍ پهٔ قیام کښې واقعي د دوي اجتماعي معیارات مهم کردار لوبوي. دغه پورته ذکر شوي معیاراتو کښې کهٔ یوه ټولنه یو رنګ حرکت خپلوي نو یوه نتیجه ئې راوځي او کهٔ دغه دوېم رنګ پېمانه خپلوي نو بله نتیجه به ئې راوځي. د پښتونخوا د نن اولس د دولت، امارت او تجارت پهٔ باب له مجموعي پېمانې نن هم د زمکني حقیقتونو مطابق رسا نهٔ دي. دې نا رسائیت له مقتدره مذهبي، سیاسي او نصابي سرمایه کارۍ کړې دي چې دا خاوره او دا خلک پهٔ غېر مشروط صورت حال محکوم وساتلی شي. د سوال او نیوکې جوګه نهٔ شي، د خپل قامي ملکیت نه لاس واخلي، خپل هویت او تاریخ ورته مسخ شوی ور وښائي، د دوي پهٔ شتمنیو نور خلک راج جاري وساتي.

د دې صورت حال تدارک لپاره د مولانا خانزېب دا کتاب د رسا رهنمایۍ یو مستند علاج دی. باید دا کتاب د پښتونخوا سره تړلي هر وګړي ته ورسېږي، د دې ژباړه پهٔ نورو ژبو کښې وشي او بیا بیا چاپ شي. زهٔ ګڼم چې دا کار دې وخت کښې پهٔ تعلیمي ادارو او پروفېسرانو څېړنکارانو فرض ؤ خو هغوي نه پوره نهٔ شو او مولانا خانزېب دغه فرض ادا کړو. یقیناً دا زیار به ئې تاریخ پهٔ زر زرینو ټکو یادوي.

سمیع الدین ارمان
اوولسم ستمبر، 2024
اریانا، پېښور

# د مولانا خانزېب قامي او تاريخ زيار

قدرتي وسائل د يو قوم کلهم د ژوند ژواک، د علم، تهذيب و تمدن، معيشت، سياست او تجارت په پرمختګ کښې بنيادي مهم رول ادا کوي، خو په شرط د دې چې هغه قوم کښې د خپلو دغو قدرتي وسيلو علمي ادراک او سياسي شعور هم موجود وي او د دغو وسيلو تر لاسه کولو لارې چارې ورته هم رښې او معلومې وي چې دغه وسيلې به په کوم ډول او په کومو علمي، سائنسي او سياسي لارو چارو تر لاسه کوو؟ په دغو وسيلو به خپل واک او اختيار څنګه حاصلوو؟ آيا دا به صرف په زباني خرچ، جذباتي نعرو تر لاسه کېږي او که نه. دې دپاره به يو کوټلې، عقلي او سياسي تحريک او متعلقه فورم هم پکار وي؟ د نړۍ کومو قومونو ته چې په خپلو قدرتي وسيلو اختيار حاصل دی او د خپلو شتمنيو علم او ادراک لري، نن هغوي د ژوند په هره شعبه کښې د ترقۍ معراج ته رسېدلي دي. د يو قوم قدرتي وسيلې کومې دي او د دغو وسيلو تر لاسه کولو د پاره تګلاره کومه ده؟ دا ډېر مهم سوالونه دي – بايد چې له هر څه اول مونږ ځانونه له دغو سوالونو خبر کړو او بيا دغو سوالونو ته علمي، سائنسي او سياسي جوابونه ولټوو.

زما په نظر تر ټولو ښه ليکونکی او دانشمند هغه دی چې په يو بې ټيکاوه او ناقلاره سماجي، سياسي او معاشي صورت حال کښې د خپل عصر ډېر زاړه سوالونه هم حل کړي او ورسره د زړو سوالونو د جوابونو راوړلو سره نوي نوي سوالونه هم را پورته کړي.

په دې نظر زمونږ ستر قامي ليکونکي او عالم دين ښاغلي مولانا خانزيب نه صرف په دې کتاب 'شتمنه پښتونخوا: د پښتونخوا د قدرتي وسائلو علمي، سائنسي او سياسي لوست' کښې نه يوازې زړو تاريخي او سياسي سوالونو ته

CamScanner

جوابونه کړي دي بلکې نور ډېر نوي او ناشنا سوالونه ئې هم خپل قام، خپلو دانشمندو او سياستدانانو ته وړاندې ايښي دي. د مولانا خانزيب تر ټولو ياد او د کمال زيار دا دی چې زاړهٔ او نوي سوالونه ئې ډېر پهٔ علمي او سائنسي انداز کښې وړاندې کړي دي. مونږ عام طور دا خبره اورو او کوو چې الله تعالیٰ مونږ ته د سرو سپينو وطن راکړی دی، ولې دغه سرهٔ او سپين څهٔ څيز دی، دا کوم ځای پروت دی، دا څوک او څنګه استعمالوي؟ دې لړ کښې بيا مونږ سره څهٔ قوي معلومات او علم نهٔ وي.

د ستر خوشحال بابا يو شعر دی چې:

يم حېرانه، پهٔ دا خلکو نه پوهېږم
ترږی مري ولاړ تر حلقه پهٔ دريا کښې

او دا شعر چې مونږ پهٔ خپل پښتون قام منطبق کوو نو ظاهره ده چې جوت تصوير، مثال او نمونه ئې هم مونږ يو. د هر قسمه قدرتي وسيلو لرلو باوجود وږی ترږي، سر وهلي بر وهلي، در پهٔ در او خاورې پهٔ سر ګرځو. هغه د رحمت شاه سائل صاحب خبره چې:

زما وطن د سرو او سپينو نه ډک
زهٔ مزدرو پسې بهر ګرځمه
زهٔ يو پښتون خانه بدوش د وطن
کله پهٔ سر او در پهٔ دز ګرځمه

او دا ځکه چې نهٔ خو مونږ د خپلو قدرتي شتمنيو نه سم پهٔ علمي، سائنسي او سياسي توګه ځانونه خبر کړل او نهٔ مو د دغو شتمنيو تر لاسه کولو د پاره تر اوسه سمه نېغه علمي، سائنسي او سياسي تګلاره خپله کړې ده. د پردو خلکو پهٔ شنو باغونو او خوبونو پسې تلي يو. د ښاغلي مولانا خانزېب دا کتاب زمونږ دغه دواړه مسئلې حل کوي. مونږ د خپلو شتمنيو نه هم خبروي او د هغو تر لاسه کولو د پاره راته نېغه علمي، سائنسي او سياسي تګلاره هم ښائي. اګرچې پهٔ دې کتاب

کښې شامل زیاتره مواد په ورځپاڼه 'شهباز' او 'پښتون' مېګزین کښې وخت په وخت خپاره شوي دي، ولې په کتابي شکل کښې ئې اوس 'مفکوره' خپل اولس ته د وړاندې کولو اعزاز تر لاسه کوي. که څه هم د دې کتاب نه لږې ورځې وړاندې زمونږ د پښتو او اردو ډېر ښه لیکونکي او صحافي ښاغلي شمس مومند په اردو ژبه کښې د 'پختونخوا کی وسائل' نومې کتاب هم خپور شوی دی او تر خپله وسه ئې او خپلو معلوماتو په رڼا کښې ئې ډېره مدلله مقدمه خپل اولس، لیکونکیو، دانشورانو او سیاستدانانو ته وړاندې کړې ده، ولې تر څو چې د دې کتاب 'شتمنه پښتونخوا' تعلق دی، نو دا د ښاغلي شمس مومند د کتاب نه د موضوعاتو په لحاظ تنوع لري؛ ځکه چې دې کتاب کښې مولانا خانزېب د پښتنو د هغو ټولو قدرتي وسیلو او دې قام ته د را پېښو ډېرو مسئلو ذکر په زیات تفصیل سره باقاعده په کوټلي دلائلو، اعداد و شمار او ثبوتونو ثبت کړی دی. ځینې هغه وسائل، مسائل او موضوعات ئې وړاندې کړي دي چې تر اوسه ورته په دې نظر پام نه دی شوی. د مثال په توګه زمونږ په قیمتي اونو کښې قلمي خونه څومره زیات ارزښت لري، د دې د زیاتوالي د پاره کومې طریقې پکار را وستلې شو؟ دغه رنګ د لاچي بوټی څومره زیات نقصاني او سپېره بوټی دی او دا زمونږ په خاوره د کومو مقصدونو تر لاسه کولو د پاره کرلی کېږي؟ زمونږ په صوبه کښې د ځرمنو سوداګري او د هغو کارخانو څه صورت حال دی؟ زمونږ وطني توت څومره فائده مند او قیمتي دی؟ د شاتو د مچیو کاروبار، زمونږ سیندونه او بیا په هغو کښې څومره کیوسکه اوبه، او دغه اوبه څوک او څنګه استعمالوي، ګټه ترې څوک اخلي؟ د کوکنار غوندې قیمتي فصل ولې او د څه مقصد د پاره ختم کړی شو، وزیرستان، نورستان، پېښور ښار په کومو ستونزو کښې ګېر دی؟ افغانستان سره د تجارت د ټولو لارو نقصان، د پښتونخوا نوي ضلعې او معدنیات، زمونږ ځنګلونه او تر ټولو مهم مضمون 'قدرتي وسائل او اسلام' د ښاغلي مولانا خانزېب یو داسې تحقیقي زیار دی چې

د لوستونکو سترګې پرانیزي؛ ځکه چې د هرې وسیلې په باره کښې ئې باقاعده پاخهٔ دلیلونه او اعداد و شمار ورکوي. چرته ئې هم خپله خبره بغېر لهٔ د لیل او ثبوته نهٔ ده کړې. دغه وجه ده چې مخالفین ترې هم انکار نهٔ شي کولی. مونږ دا خبره بغېر د څهٔ تردید د وېرې کولې شو چې هر هغه پښتون، هغه کهٔ د هرې سیاسي ډلې سره تعلق لري، خو چې خپل ځان د قوي، علمي او سائنسي دلائلو پهٔ بنیاد د خپلو قدرتي وسیلو نه خبرول غواړي نو هغهٔ له دا کتاب خامخا لوستل پکار دي. د وسائلو تر لاسه کولو د پاره د ملک پهٔ متعلقه هر فورم کښې دا کتاب یو داسې دلیل او ثبوت دی چې څوک هم ترې مخ نهٔ شي ګرځولی. پهٔ خصوصي ډول زمونږ قوم پرست سیاستدانانو، منتخب د صوبائي، قومي او سېنټ ممبرانو د پاره خو دا کتاب د لارې داسې مشال او مثال دی چې خپله خبره یا دعوي ډېره پهٔ علمي او سائنسي بنیاد سره کولې شي.

خدای دې وکړي چې پښتانهٔ د ښاغلي مولانا خانزېب دا زیار د خپل قامي، سیاسي او معاشي پرمختګ د پاره پکار راولي او پهٔ دې ورته خدای د پوهېدولو او عمل کولو توفیق ورکړي. او مولانا خانزېب ته دې الله تعالیٰ نور هم ژوند او توان ورکړي چې دغسې پهٔ نوو نوو قامي موضوعاتو د خپل علم او فکر د مشالونو نه مونږ مستفید کوي.

روښان ایسپزی
یوولسم دسمبر، 2023
جلسی، صوابی

CamScanner

## وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ

د پاکستان او دلته د ځائي قامونو تر منځ تعلق د اسلام نۀ، د آئين دی-د اسلامي وروروليۍ تعلق دا خلک د افغانستان سره هم لري، ايران سره هم، هندوستان کښې پۀ لوی شمېر اوسېدونکو او د نړۍ د نورو مسلمانانو سره هم.
بايد دا خبره سپينه وي چې پۀ اوسمهاله پاکستان کښې د قامونو نه تاو کړې شوې د اسلام پۀ نامه د تعلق کرښه مصنوعي او د 'ہم ایک قوم ہیں' سره د پاکستانيت نعره غېر فطري ده. هغه ځائي قامونه چې د مذهب او ملک پۀ نامه پۀ پاکستان کښې د ځېښناک سره مخ دي، نۀ خو ئې 'قراردادِ پاکستان' وړاندې کړی ؤ او نۀ ئې د درېم جون (1947) د پلان لاندې کېدونکي رېفرنډم کښې ووټ اچولی دی.
دغه قامونه ډېر پۀ شدت سره پۀ خپله خواره ورځ د اسمان نه سترګې زمکې ته راړوي. د انسانانو د مادي ستونزو، لوږو او محروميو حل د زمکو او اسمانونو خدای پۀ زمکه کښې ايښی دی-دا ډېره پېچلې فلسفه نۀ ده. د لوږې او ډوډۍ د جدلياتو قصه ډېره ساده ده. د عدم تحفظ، لوږې او محروميۍ احساس به زر ده چې د خلکو سترګې د اسمان نه زمکې ته را واړوي. دا کتاب هم د خلکو سترګې د اسمان نه زمکې ته د را اړولو يوه علمي او سياسي هڅه ده. سترګې تر يوۀ حده را اوړېدلې دي.
پاکستان به د آئين لاندې پۀ دې خاوره د زرګونو کلونو راهسې د مېشته قامونو د ژبو، کلتورونو او بشري، ارضي، آبي او معدني وسيلو حق مني او ورکوي. د مذهب او ملک پۀ نامه بلېکمېلنګ د ملکونو وجودونه برقرار نۀ شي ساتلی.
بايد د دې ملک د سرو او سپينو زورور پۀ دې خبره سر خلاص کړي چې دلته مېشته قامونه د 'ملک' او 'وطن' پۀ معنيو پوهه شوي دي. هغوي بايد خپله خپسه د پارلېمان نه پاځوي او دې اولسونو ته پۀ ځانونو د حکمرانۍ حق ورکړي.

پهٔ تېرو څو لسيزو کښې پښتنو 'من حيث القوم' د لاريونونو او پرلتونو رويې له وده ورکړې ده. پښتانهٔ به نهٔ را ټولېدل، اوس را ټولېږي. هغوي به خبرې نهٔ کولې، اوس خبر لوخ شوي دي. هغوي به وېرېدل، هغه د وېرې تبه شلېدلې ده. هغوي به د 'محب وطن' نامې ته پسخېدل، اوس پهٔ غدار يادېدلو وياړېږي.
پهٔ تېرو څو مياشتو کښې چې د پښتونخوا د وسيلو پهٔ اړه د معلوماتو، ملکيت، انتظام، پېداوار او منډۍ اړونده مونږ څومره ليکونه او لوستناستي وليدل، نهٔ مو وو ليدلي. دا کارونه به عوامي نېشنل پارټۍ او پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ پهٔ تنظيمي او څهٔ خلکو پهٔ انفرادي کچ کول. اوس ټول وطن کښې دا روايت وده او پراختيا مومي.
ښاغلی مولانا خانزېب پهٔ دې بهير کښې د سر سړی دی چې نهٔ يوازې خپل ليکونه پهٔ دې اړه د کثرت سره کوي، ځان ئې پهٔ يو ګرځنده کتابتون اړولی دی. د دې نه وړاندې د مولانا خانزېب مشر ورور او د عوامي نېشنل پارټۍ باجوړ مشر شيخ جهانزاده د 'قبائل څهٔ غواړي؟' پهٔ نامه يو کتاب پهٔ 1997 کښې چاپ کړی وُ. د دغه کتاب ډېرې نکتې د فاټا د خيبر پښتونخوا سره د ادغام حوالې ګرځېدلې دي.
قام چې د زمکې، غرونو، ځنګلونو او سيندونو د ملکيت د دعوې نه دستبردار شي نو خلک ئې پهٔ زمکه کېدې کالجونه بريد کړي، ځنګلونه ترې پهٔ شا کړي، د سيندونو مخې ئې واړوي او دغه قام د ګيلو، ښېرو او اسوېلو پهٔ دونکاچه ناست پاتې شي. زئينړ مولانا خانزېب د زمکې، غرونو، ځنګلونو او سيندونو د ملکيت د قصې سره سم، دا پهٔ هندسو کښې هم را شماري، صنعتونو ته مو هم پام اړوي او د پېداوار او بازار پهٔ تعلق را ته هم غږېږي. هغه د رګ وېډ او اوېستا پهٔ اسطورو او ګاتونو کښې د افغان غرونو او سيندونو نامې هم لټوي او پهٔ قامي حافظه کښې د راکښلې شوې ډېورنډ کرښې اغېزونه هم پهٔ ګوته کوي. هغه د امو دريا نه تر اباسين، د سوات، پنجکوړه، چترال، کونړ نورستان، اليشنګ، پنج

شېر او کابل سیندونو 'د اشنغر غېږ' ته راتللو نه د قامي تحریک فطري حواله هم چنیوي او د خپلواکه او اولسي پارلېمان معنې هم زوتوي.

زهٔ د قران دوه آیتونه دلته د 'امن'، د امن پهٔ نامه 'کډوالۍ' او پهٔ خدائي شتمنیو د څائي اولس د 'اختیار' اړونده د دې هیلې سره راوړل غواړم چې دا آیتونه به د پښتونخوا د اولسونو د اوسني حال پهٔ شالید کښې ولوستلې شي.

وَ اِذِ اسْتَسْقٰى مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ فَقُلْنَا اضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ ؕ فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ؕ قَدْ عَلِمَ كُلُّ اُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ؕ كُلُوْا وَ اشْرَبُوْا مِنْ رِّزْقِ اللّٰهِ وَ لَا تَعْثَوْا فِى الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ۝

او هغه وخت یاد کړئ چې موسیٰ د خپل قام د پاره 'اوبهٔ' وغوښتې نو مونږ ورته ووې چې دغه تیږه پهٔ خپله کونټې ووهه! د دغه تیږې نه دولس چینې (د دولس قبیلو د پاره) بهاندې شوې. هرې قبیلې 'خپله چینه' پېژندله. دوي ته ښونه وکړې شوه چې د خدای لهٔ خوا تاسو ته ذرکړې شوي رزق نه خورئ څښکئ او پهٔ زمکه کښې فساد مهٔ خوروئ!

باید قامونه د خپلې زمکې جغرافیه، د خپلو غرونو معدنیات، د خپلو اوبو چینې او سیندونه هم وپېژني او د دې د ملکیت، انتظام، پېداوار او مارکیټ دعوې هم د عملي سیاست تر لارې وکړي.

وَ اِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ لَا تَسْفِكُوْنَ دِمَآءَكُمْ وَ لَا تُخْرِجُوْنَ اَنْفُسَكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ ثُمَّ اَقْرَرْتُمْ وَ اَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ ۝ ثُمَّ اَنْتُمْ هٰۤؤُلَآءِ تَقْتُلُوْنَ اَنْفُسَكُمْ وَ تُخْرِجُوْنَ فَرِيْقًا مِّنْكُمْ مِّنْ دِيَارِهِمْ ۫ تَظٰهَرُوْنَ عَلَيْهِمْ بِالْاِثْمِ وَ الْعُدْوَانِ ؕ وَ اِنْ يَّاْتُوْكُمْ اُسٰرٰى تُفْدُوْهُمْ وَ هُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ اِخْرَاجُهُمْ ؕ اَفَتُؤْمِنُوْنَ بِبَعْضِ الْكِتٰبِ وَ تَكْفُرُوْنَ بِبَعْضٍ ۚ

او یاد کړئ مونږ تاسو نه کلک لوظ اخستی ؤ چې د یو بل وینې به نهٔ تویوئ او یو بل به بې کوره (IDPs) کوئ نهٔ! تاسو پهٔ خپله دغه ژمنه

خپله ګواهان يئ. خو تاسو نن يو بل وژنئ، بې کوره کوئ او تېرى، ظلم زياتى کوئ. او (د تښتولى شوو، برمته شوو) کورنى چې درله راشي نو فديه/ بهته/ مچلکه ترې اخلئ؛ حال دا چې د دوي بې کوره کول هم حرام دي. نو تاسو به د کتاب يوه برخه (د خپلې تفهيم سره) منئ او بله برخه به نهٔ منئ؟

د قرآن د دې آيت پهٔ شاليد کښې د پښتنو پهٔ سيمه د مصنوعي ترهګرۍ د مخنيوي د پاره د پاکستان د امنيتي ځواکونو او فوج طريقه کار ته لږ پښه نيولي شئ او ځان پهٔ قصه پوهه کړئ!

فوکو د 'مړغيژن اولس' (Docile Bodies) يو تصور پهٔ 'ډسپلن اينډ پنشمنټ' کښې وړاندې کړى ؤ. 'ژوندي' هغه وي چې هوښيار غږ او پړتال شوى حرکت/ پاڅون لري. پښتانهٔ د خپل مړغيژن انځور نه ژوند پله روان دي. پهٔ دې مزل او بهير کښې به تاريخ تل د مولانا خانزېب علمي او سياسي برخه د وياړ سره يادوي او زبادوي.

قام بيا وطن
حيات روغانى
دپرشم ستمبر، 2024
مفکوره، پېښور

CS CamScanner

# يو څو
# خبرې

ډېره زياته مننه کوم د 'د مفکوره څېړنيز پراختيائي مرکز' چې زما په 'پښتون' مجله، 'شهباز' ورځپاڼه او ټولنيزو رسنيو کښې وخت په وخت د خپرو شوو ليکنو د چاپ کولو لوی کار ئې وکړو. زما دغه ليکنې خالص د قامي شعور او پښتنانۀ د باچا خان بابا د فکر په رڼا کښې د خپلې خاورې د مسائلو او وسائلو سره د تړلو په اړه د شعوری هڅې برخه ده.

د پښتونخوا وطن د وسائلو دا برخه هم د هغه ليکنو يو وړوکی انتخاب دی چې په نورو ګڼ شمېر ټولنيزو موضوعاتو وخت په وخت ليکلې شوې دي.

زما همېشه دا کوشش وي چې د پښتونخوا په مختلفو برخو کښې د خپل اولس سره نېغ په نېغه علمي او سياسي رابطه وکړې شم او هم د دغه کوشش د يوې برخې په طور په ټولنيزو رسنيو هم د فاعل کردار ادا کولو د پاره ليکنې او تبصرې کؤم. زۀ دا وينم چې کله پښتنو سره رابطه/ انټرېکشن وشي نو دوي په خبره پوهېږي.

دا کتاب هم په دې باور او اميد د خپل يو علمي خدمت په طور قام او راتلونکي کهول ته سپارم. دعا کؤم لۀ لويه خدايه چې زما دا ډالۍ د قام په پوهه او شعور کښې برخه واچوي.

په ډېر درښت
مولانا خان زېب

# د پښتنو جغرافیه

لکه موج په بېلتانهٔ کښې، زما زړهٔ وهي لهٔ سترګو
پهٔ دا موج کله بهېږي، جېحون هسې سېحون هسې
صدر خان خټک

قام پهٔ جغرافیه خپله خاوره کښې جوړېږي، خپل وجودي حقیقتونه غواړي. تاریخ د قام پهٔ برکت لیکلی شي، قام پهٔ خپل کلتور ژبه ژوندی پاتې کېږي. د یو قام جغرافیه فطري وي، دا پهٔ زور نهٔ جوړېږي. هم دغه لامل ؤ چې ختیځ پاکستان 'پاکستان' پاتې نهٔ شو، بلکې خپل اصل، چې 'بنګالیت'، ته پهٔ قامي تکل ستانهٔ شول.

د پښتنو فطري جغرافیه چې د بې ساري قدرتي شتمنیو / وسائلو ډکه ده، هغه ده چې پهٔ کوم باندې د احمد شاه بابا واکمني پاتې شوې او تر شل لکهه مربع کلومیټره پورې خوره وه. اوسنی پښتونخوا لر او بر ډېر ماته ګوډه، نیمګړې او رنځوره کړې شوې ده. د پښتنو جغرافیه پهٔ هر وخت کښې د نړۍ د زورورو د تاړاکونو پهٔ یرغل کښې ښکېل پاتې شوې. پهٔ ریاستي بڼه کله وړه او کله غټه شوې خو دغه هر څهٔ د وخت سره تم شوي او پښتانهٔ بېرته پهٔ خپل قبائلیت کښې خوارهٔ وارهٔ ازاد پاتې شوي دي.

د نړۍ دوو قوتونو د پښتنو جغرافیه او قامیت تر اوږد وخت پهٔ جبر مات کړی دی: یو مغل او بل پېرنګ. خو د پښتنو د قامیت او جغرافیې کوم دوامداره پهٔ سائنسي هنر ماتوالی چې پېرنګي کړی، کوم اوږد مهاله زیانونه ئې چې تر اوسه پهٔ دې خاوره پرېښې او د پښتنو د خپل منځي کمزوریو لهٔ کبله هغه حقیقتونه جوړ شوي، نو هغه د پېرنګي پرېکړې او د هغهٔ د تګلارو تسلسل دی.

د نړۍ پهٔ سر ډېر نور قامونه نن هم مات ګوډ پراتهٔ دي؛ لکه عرب، کُرد، شمالي

سوېلي کوريا. د ډېرو ماتو قامونو مات ګوډ رياستونه هم شته او ځنې لکه د کُردانو د درې کروړه وګړو سره بې رياسته در په در خاورې په سر وي. د پښتنو رياست هم د نړۍ مارو د جاخو د لاسه کله وجود ته راغلی او کله لکه د اوس وخت په شان د سقوط سره مخ شوی. خو پياوړې، پرمخ تللی او مثالي کېدو ته کله هم نړيوالو او ګاونډيانو نۀ دی پرېښی.

د نړۍ دغه نور مات را مات قامونه د خپلې جغرافيې د ماتوالي سره د دومره بدبختيو ښکار نۀ دي لکه څومره چې پښتانۀ ښکار دي. شايد چې د دې لوی لامل دا وي چې زمونږ دانشورانه ذهنيت او تنقيدي شعور ډېر ټيټ پاتې دی او زمونږ اکېډمک توان ډېر ژوبل شوی ضعيف پاتې شوی. زمونږ دانشور، اديب، ليکوال او سياستمدار د مصلحتونو ښکار پاتې شوی او د حقيقتونو په ځای د خوبونو په ټالونو کښې ډېر ځنګيدلی. دغه کنګل ماتول کۀ هر کله وي، زمونږ د اجتماعي پوهې په زور ماتول به زمونږ لويه بريا وي.

د افغانستان دننه د احمد شاه بابا نه پس رياست کله هم د اولس په باور نۀ دی پاتې شوی. تر اوسه هر څۀ د خپلې ټولنې د کره کتنې په ځای د بهرنو قوتونو په چشمو کښې کتل کېږي. د تېر شل کلن دور واکمن هم يوه پرځولې شوې پوکنۍ وه. زياتره په کښې د ډالرو د غلا په اراده د ارګ په نرمو بسترو کښې په تشو خبرو 'د ترېورانو د زور ماتولو په ارمان' پراتۀ د تېښتې په تکل ناست وو. د تېښتې د ټکټونو سره هر وخت به ئې په يو جېب کښې تذکره او په بل کښې ګرين کارډونه پراتۀ وو. د داسې دوځو سره قامي رياستونه کله هم نۀ جوړېږي او نۀ پاتې کېږي. نړيوال سامراجي زورور هم کله په دې جغرافيه کښې د پښتنو يو خپلواک مترقي او متمدن رياست منلو ته نۀ دي تيار. دا ازمېښت د پښتنو په سر دی.

د پښتنو ماته جغرافيه سره يو کول قامي وحدت دی. دغه د وحدت راز په يورپ مېشت ګڼو قامونو موندلی. د ګڼو رياستي اکايانو سره ئې ځانونه د اقتصادي

توان د پاره لکه د يو قام پېژنلي.
رياستونه چې د اولسونو په حقونو قابض شي او خپلې پنګې د بې وزله قامونو په خاوره د دوامداره جنګونو په زور په جنګي اقتصاد پسې غوټه کړي نو هله ماتېږي، سقوط کوي، چې په ضد ئې قامي مبارزه پيل کېږي.
د رياست او وګړو تر منځ يو سماجي تړون وي. په خاوره، وګړو او اقتدار اعلیٰ باندې ټول ارتکاز د قدرت او اختيار وي. د اولس د ښېګړو نه پرته ورته بل هېڅ تقدس نه وي حاصل. رياستونه جوړېږي او ماتېږي، خو قام کله هم نه ماتېږي.
رياست يو معروضي وجود او قاميت يو نه ختمېدونکی قائم بالذات ستر حقيقت دی. په يو رياست کښې هم ګڼ قامونه سره ژوند کولی شي او په ځانګړي رياست کښې هم. خو د قام پرېکون او شلون هله بوږنوونکی شي چې کله د قاميت د ماتولو تحليل کولو د پاره ارادې او هڅې جوړې شي چې په نتيجه کښې دغه قام د بد امنيو او وژونکي فقر سره لاس او ګرېوان شي. چې محروميت وزېږولی شي او د غريب شړې شلولې شي نو د زورور د شال هم خري وري کېدل لازم شي.
اتلسمې پېړۍ نه د صنعتي انقلاب سره د قامي ماډرن رياستونو تصور په جوړېدو شو او د شلمې پېړۍ په نيمايۍ کښې سر ته په بشپړ ډول ورسېدو. د پښتنو په جغرافيه کښې د نړۍ په سر د رياست تشکيل د احمد شاه بابا په ټاکلو 1747 کښې شروع شو؛ خو له بده مرغه د دغه ټولنې درې پېړۍ په قبائلي ساخت کښې د پاتې کېدو له کبله د رياست د تشکيل دغه تصور لا نن هم خام، غېر مترقي او نيمګړی پروت دی.
پښتانه په حېث د قام څنګه او کله وجود ته راغلل؟ پښتو کله ژبه شوه؟ د پښتنو خپله فطري جغرافيه کومه ده؟ مونږ د تاريخ په چاپېريال کښې څومره خپل وېش زغملی شو؟ – دا هغه پوښتنې دي چې د کوټلي مستندو حقيقتونو پرته جواب ورته وئيل ډېر ګران دي خو ناممکن نه دی. ځکه چې تر څو مونږ د خپل تېر وخت نه، د خپلې جغرافيې نه، د خپلو قامي غورزو پرزو، لوېدو پاڅېدو نه ځان نه

خبروو، حقیقتونه مخې ته نهٔ راوړو، تر هغې به زمونږ د قامي مسئلې تاکل ستونزمن او لانجمن عمل وي.
پښتانهٔ د اریاو پهٔ نسل کښې د 'مرکزي باختر آرین' قبیلو زوزاد دی. د خپلو ځانګړو قبیلو سره د ساکانو ټبرونه هم پهٔ کښې مدغم شوي دي. وخت پهٔ وخت د نړۍ د ډېرو نسلونو خلک هم د دې قام برخه شوي، ځانونه ئې جذب کړي او پښتانهٔ کړي دي. د یونس سیتهي د څېړنې تر مخه، پهٔ پښتونخوا کښې درې پنځوس سلنه (53%) ټبرې خپلې، پهٔ اووهٔ څلوېښت سلنه (47%) کښې اووهٔ ویشت سلنه (27%) پښتانهٔ هم نهٔ دي او شل سلنه (20%) نسلاً غېر پښتانهٔ دي.
پښتانهٔ د اریاو د وخت پهٔ وخت کوچېدو هجرتونو نه پس څهٔ پهٔ اتمه قبل از مسیح پېړۍ خواوشا کښې د یو اوږد ارتقائي مزل او عمل نه پس، پهٔ حېث د یو قام هله جوړ شوي، کله چې ګڼ قامونه سره پهٔ یو ټاټوبي کښې را غونډ شو او د قامیت پهٔ تړون سره پېل شوي د 'پهکت' پهٔ تړون 'پکتون'، 'پکتین'، 'پکتیکا'، 'پښتون'، 'پښتین' او بیا 'پښتونخوا' او 'لویه پښتونخوا'.
د لویې پښتونخوا پهٔ نسبت پښتونخوا هغه سیمه ګڼلې شي چې پهٔ کومه قامي جرګه کښې پهٔ بنو کښې پهٔ یویشتم جون 1947 کښې د هندوستان او افغانستان تر منځ د یو جدا پښتون قامي ریاست پرېکړه لیک شوې وه. بیا وروستو د 'پښتونستان' تصور هسې یو سراب شو چې د قامي مقدمې نه زیات د ریاستونو د خپلمنځي خړاو پهٔ ډغرو کښې یو هیولائي تصور جوړ شو. د باچا خان او پښتنو قامي سیاسي مشرانو تګلاره د پېرنګي د تلو نه پس د چاپېریال پهٔ پېښ معروضي حقیقتونو اډانه یوه غوره او د عمل وړ سیاسي تګلاره ده.
اروابناد پوهان حبیب الله تږی پهٔ خپل کتاب 'پښتون' کښې د پښتو ژبې پهٔ اړه وائي:

> "ژبپوهان د پښتو ژبې پېژندګلو پهٔ باره کښې درې ډلې شوي دي: یوه ډله پښتو د هندي ژبو سره نژدې ښائي، بله ډله ئې د اوېستا خپلوانه

بلي او درېمه ډله ئې د دواړو ژبو تر منځه ژبه بولي.
کۀ د پښتو ژبې پۀ سمه توګه سائنسي میتود سره جاج واخستلی شي نو معلومه به شي چې دا ډېره زیاته لرغونې ژبه ده او ډېرې ژبې د دې لۀ خېټې زېږېدلې دي. د پښتو ژبې او پښتون نسل پېژندګلو کښې یوه ستره ستونزه دا را منځ ته شوې ده چې دغه دواړه ځیزونه مؤرخینو او ژبپوهانو د ساکانو د دوېم مهاجرت سره تړلي دي چې دا بېخي ناسم، بې بنیاده او غېر سائنسي خیال دی. پښتون او پښتو ژبه د هغه وخت سره تړاو لري کله چې پینځۀ زره کاله پخوا پۀ وړومبني وار ساکان د اباسین او هند پۀ لور ووتل. پښتانۀ او پښتو پۀ کوم خاص وخت کښې وجود ته راغلۀ، پۀ تاریخ کښې لکه د ډېرو نورو پوښتنو، د دې هم جواب نشته، ځکه هر تولنیز عمل پۀ یو آن کښې نۀ بلکې د ډېرو وختونو پۀ تېرېدو سره وجود ته راځي. هم دغه حقیقت د ژبې او قامیت شا ته هم وي. البته د پښتو، پښتنو او د دوي د جغرافیې پۀ اړه مونږ ته پۀ زرګونو کلونو وړاندې د پښتنو وجود پۀ بشپړ ډول پۀ لاس راځي، خو دا دوه پوښتنې بیا هم نۀ ځواب کېږي چې دا قام زرګونه کاله لرغونیت لري نو 'لرغوني اثار' ئې کوم دي؟ دغه راز د محمود غزنوي پۀ وخت کښې د حسن مېمندي نه وړاندې د پښتو لیکدود او زمونږ علمي آثار څۀ شول؟ آیا داسې خو نۀ ده چې پښتو د محمود غزنوي نه وړاندې هډو د لیک ژبه نۀ وه؟ د دوېمې پوښتنې د ځواب پۀ اړه علامه حبیبي داسې وائي،

'د 'بېستون د ډبرلیک' نه څرګنده ده چې د 'دارا یوش' د وخت سره اړیکه لري. د پښتو د لیکدود وړومبی خط مېخي ؤ. څۀ وخت پس ارامي لیکدود شو چې د پښتو لیکدود بنیاد ګڼلی شي. لامل ئې پۀ ګندهارا کښې د ځنې سامي قبیلو استوګنه وه. مونږ دا وئیلی شو چې دغه وخت دغه لیکونه به پۀ پښتو کښې وو. پۀ ارامي لیکدود پسې 'خروشتي لیک' مخې ته راغلو کله چې سکندر یوناني د هخامنشانو واکمني ختمه کړه نو د یونانیانو د واکمنۍ پۀ وجه دلته

یوناني لیکدود مروج شو. دغه یوناني لیکدود تر 1000 پورې رواج ؤ چې د محمود غزنوي په وخت کښې حسن مېمندي او شېخ ابو الفتح پښتو په عربي لیکدود واړوله. پښتو کله په نسخ کله په نستعلیق کښې لیکلې شوه خو اوس ئې د نسخ بڼه خپله کړې.

ژبه د یو قام پېژندګلو او د قام د ژوند د ټولو اړخونو مهم بنسټ وي. د ژوندو قامونو ژبې تل ژوندۍ وي، ځکه چې د قامونو د تاریخي ژوند ثبوت د هغوي ژبې، ادب، فوکلور، کلتور او تعلیم وي.

د نړۍ د لویو تهذیبونو په لویوالي کښې د هغوي ژبو ډېر مهم رول لوبولی دی. د هم دې بنسټ په سبب په نړیوال کچ د مورنۍ ژبې اهمیت او ضرورت منلی شوی دی. ځکه چې د مور غېږه د هر انسان د زدکړې لومړی ښونځی او مورنۍ ژبه ئې لومړۍ زدکړه ده. د نړۍ د پوهه او پرمخ تللو قامونو د پاره دا خبرې اوس زړې او د بحث ضرورتمندې نهٔ دي، خو زمونږ ټولنې چونکې د ناپوهۍ، نا اهلۍ، بې لارې سیاست او د قامي شعور د نشتوالي لهٔ کبله هغه د چا خبره 'د زمکې نه تر بلۍ د ارتقاء سفر' هم نهٔ دی کړی نو زمونږ د پاره نن هم تر هر څهٔ زیات مهمه مسئله دا ده.

څېړنکار عزیز رانیزی وائي چې د آریاو وړومبی هجرت د باختر په 2000 ق م کښې پېل شو. تر لوېدیځې ایشیاء ورسره څهٔ خلک یونان ته ننوتل او څهٔ د یونان نه وړاندې د 'رهائن' او 'ډینیوب' سیندونو په سیمه کښې خوارهٔ شول. ښهٔ چاپېریال پهٔ لاس ورته نهٔ ؤ نو کوچان پاتې شول. دا خلک وروستو پهٔ هند یورپي آریاو یاد شول.

د آریاو دوېم هجرت د 2000 ق م نه څهٔ لږ وروستو پېل شو. دا خلک د باختر نه د سوېل پهٔ لور لاړل، د 'کوبها' او 'ارغنداو' د کڅو نه تېر شول او د پنجاب پهٔ خاوره خوارهٔ شول. دا خلک پهٔ 'هندي آریاو' یاد شول. 'بهارتا' ډله هم ورته وئیلی شي. درېمه ډله د هجرت د سوېل لوېدیځ د 'هرات' پهٔ لوري لاړل، تر 'خراسان' تېر

شول، د 'پارس' خاوره ئې ونيوله او په تاريخ کښې د 'لوېديځ ارياو' په نامه ياد شول.

دا درې ډلې چې د باختر د دې انساني معدن نه لاړې نو پاتې سيمې پاتې خلکو ته وزګارې شوې. دوي دا زمکې ودانې کړې. دا خلک په تاريخ کښې په 'مرکزي باختري آرين' نامه ياد شول. دغه اريائي قبائل د پښتنو نيکونه وو چې په پينځۀ څانګو کښې وېشلی شوي وو: پکتها، الينا، وېشانن، بهالانه او سېواه - پکتها د کرومو او ګوماتي درو پښتانۀ دي، الينا د دير چترال خلک، وېشانن د ګندهارا خلک وو چې په 'مرکزي ګندهارا' يادېږي چې پېښور، چارسده او تر اباسين سيمې اباد دي، بهالانه د بولان خلک سېوا د کابل تر پنجشېر پورې.

د پښتنو د لرغوني ارياو سره د دومره نسبت تړون مقصد دا دی چې پښتانۀ لرغوني خلک دي چې په 'رګ وېد' کښې په 'پکهت' او 'اوېستا' کښې په 'بخد' ياد شوي دي.

د پښتنو او پښتونخوا جغرافيه د منځنۍ او سوېلي ايشياء په منځ کښې د 'امو سيند' نه تر 'اباسين' ده چې کشمير، اټک او ميانوالي هم د دې جغرافيې برخه ده. پښتونخوا کله هم د هند برخه په تاريخ کښې نۀ ده پاتې شوې، بلکې دا تړون د پېرنګي په وخت کښې راوستلی شوی دی. د مغل لټرېچر د حوالې په رڼا کښې دا جوته ده چې په راولپنډۍ کښې هم خټک پښتانۀ مېشت دي.

درست پښتون لۀ قندهاره تر اټکه
سره يو د ننګ په کار پټ او اشکار
خوشحال بابا

د هند سره د پښتنو تاريخي پوله د مارګلې کنډاو دی چې د پښتو لرغونی فولکلوريک ادب نه بشپړ دی.

تر مارګلې به درسره يم
په هندوستان کښې دې په خدای سپارم مئينه!

CamScanner

باز مې د لاسه ځنې والوت
اوس به کنډاو د مارګلې ورته نیسمه
جانان به بل ملک ته پرې نهٔ ږدم
ورته پېزوان د مارګلې پهٔ کنډاو ږدمه

شېر شاه سوري پښتون باچا ؤ خو د مارګلې د کنډاو نه هغهٔ هم کله ګام نهٔ دی اړولی. دغه راز د برټش بلوچستان دننه هم د پښتونخوا یوولس ضلعې دي چې دغه پرېکون هم پېړنګي راوستی دی.

د 'تاریخ حیات افغاني' لیکوال د افغانستان د جغرافیې پهٔ اړه لیکي چې پهٔ تاریخ کښې د پښتونخوا جغرافیه د وخت تاړاکونو سره متغیر پاتې شوې خو پهٔ اوس وخت، یعني پهٔ کال 1865 کښې د افغانستان جغرافیه داسې ده،

شمالي برخه کښې 'هندوکش' او 'ترکستان' پراتهٔ دي، لوېدیځ ته ئې 'پارس'، سوېل ته ئې 'د هند سمندر' او ختیځ ته ئې 'سندهٔ'، چې دغه ځای ته پهٔ هند پورې اړوند 'پنجاب موقعیت' لري. اوږدوالی د 'اټک سیند' نه تر 'هرات' لوېدیځ پورې چې د 'ایران' سرحد ته رسي، شپږ سوه میله پلنوالی د هندوکش نه تر بلوچستان سوېل پورې پینځهٔ سوه میله خور دی.

یو بل مستشرق سټیورټ الفنسټن د افغانستان د جغرافیې پهٔ اړه لیکي چې ختیځ ته ئې 'هند'، چې د 'سندهٔ' کیڼ اړخ ته راځي او 'کشمیر' هم د افغانستان برخه ده. سوېل ته ئې 'خلیج پارس'، لوېدیځ خوا ته ئې یوه لویه بېدیا ده، شمالي سرحد ئې تر ختیځ د 'ققفاز' غرونو ته رسي، د لوېدیځ پهٔ لور د 'امو سیند' بړید راوړي.

پښتو ژبه هم د اریائي ژبو برخه ده چې د اریائي ژبو یوه څانګه د ایراني ژبو ده، بله ئې د هندي ژبو ده چې بنګالي، پنجابي، سندهي ئې برخه ده. دریمه څانګه ئې 'مرکزي اریائي باختري' ده چې 'پښتیک' څانګه بللې کېږي. د دې څانګې لویه ژبه پښتو ده چې د 'سېحون' او 'جېحون' تر منځ وئیلې شي. پښتو د لوېدیځ او

ختیځ اریائي ژبو تر منځ یوه مرکزي ژبه ده چې د هندي سنسکرت په نسبت اوېستا ته ډېر نږدیکت لري. ډېر پوهان پښتو، سنسکرت او اوېستا خوېندې بللي.

تر څو چې د باختر نه اریا نه وو تلي نو د ټولو یوه ژبه، یو کلتور او خو چې کله یوه ډله د هند او پارس په لور وکوچېدله، د هغه ځای مېشت خلکو غلبه پرې راغله، په هغوي کښې ضم شول، خپله ژبه ترې هېره شوه، د هندي آرین د جوړښت نه بله ژبه په وجود کښې راغله چې په 'سنسکرت' سره یاده ده او اوس کومه قامي نه کتابي ژبه ده. دغه هندي آرین خلکو د مهابهارت قبیلې چې کله طاقت ومونډو نو د خپلې قبیلې په نسبت خپل وطن ته ئې 'بهارت' نوم کېښودو.

بله ډله چې د لوېدیځ په لور تلي وه، څه قبیلې په کښې د 'پارسوا'، 'پارسوانا' په نامه یادې شوې. د دغه اریائي او مقامي خلکو په ګډون بله ژبه په وجود کښې راغله چې په 'اوېستا' او نن په 'زړه پارسی' یادېږي.

په 800 ق م د اشوریانو د واکمنۍ نه پس چې دغه خلک د واک قابل شول نو دې پارسوا اریائي قبیلې د 'ماد' په نامه حکومت جوړ کړو چې د پارسوا په نسبت 'پارس' سره یاد شول. دغه قبیلې خپله ژبه څکه ژوندۍ و نه ساتله چې په دغه خاوره نور ډېر ستر قامونه او کلتورونه موجود وو چې د هغوي په وړاندې دغه ژبه ختمه شوه او د دغه خلکو سماجي اقدار دوي قبول کړل.

د باچا خان د وېنا تر مخه، چې د ژبې ورکېدو سره قام ورکېږي، هغه شان د دې خلکو سره وشوه او څه وخت پس ئې خپل قامیت وبائیللو.

'افغانستان په اوېستا کښې' دوست محمد شینواری لیکي،

"ساک، ساکپښتنو (ساکان) چې د افغانستان او منځنۍ اشیاء د ابادو او کلتوري سیمو په څنډو او پیڅکو کښې خوارۀ وارۀ پراتۀ وو او په بېلو بېلو ځانګو یادېدل، د اوومې مخزېږدې پېړۍ په پایې او د شپږمې پېړۍ په پېل کښې چې ټول په یو مرکز سره راغونډ شول او

یوه لویه سیاسي اتحادیه ئې جوړه کړه، د دغه سیاسي اتحادیې مشرتوب د یوې ساکي قهرماني ښځې زرینې په غاړه ؤ.

پکتیین خلک چې خوربدل او شاړې ئې ودانولې، د دوي مخې ته بل کوم قام، ژبه، کلتور ګواښ نهٔ ؤ نو دوي خپله ژبه او کلتور خورا ژوندی وساتلو. ځکه ژبپوهان لکه مسټر ګریس، مسټر ټروپ، میجر راورټي، بیلو، انولډسن، ډاکټر شاهد الله وغیره دا په کلکه مني چې پښتو ژبه د لرغوني اریائي ژبو یوه مستقله ژبه ده چې د وخت سره سره د لږ ډېر بدلون سره ئې ځان ژوندی ساتلی دی.

د نړۍ په ستر تاریخ لیکوالانو کښې د هیروډوټس په شان د یونان 'سترابو' هم دی چې 64 ق م کښې د یونان په امیزیا ښار کښې زیږېدلی ؤ. سترابو د نړۍ د هغه وخت د جغرافیې په اړه ډېر کوټلي معلومات په کتابي شکل کښې لیکلي وو چې نن سبا دغه کتاب په انګرېزۍ کښې په اتهٔ ټوکه کښې دی. په دې کتاب کښې د دغه زمانې د پښتنو د وطن د جغرافیې په اړه هم ډېر مهم معلومات وو خو دغه کتاب د پښتنو په تاریخ کښې دومره نهٔ ؤ خپرلی شوی لکه څومره ذکر چې په هر ځای کښې د 'رګ وېد'، 'اوېستا' او د 'هیروډوټس' په حواله کېږي. دغه کمی لیکوال خاطر مانیروال په ډېر زیار پوره کړی او په دغه لوی کتاب کښې هغه ټول خوارهٔ وارهٔ معلومات ئې راچاڼ کړي، کوم ځای کښې چې د پښتنو د وطن د اوبو، د ښارونو، باختر، زری اسپه، باختریه، اریانه ویجا، اراکوزیا او د ساکانو قبیلو د مختلفو ټبرونو سره د پښتنو قبیلو ذکر راغلی چې تش د شعر د اټکل په ځای د پښتنو د جغرافیې په اړه د دوي د زرګونو کالو د وجود او تمدن د تنستې د کوشېرولو په اړه د تاریخ په حقائقو ډېر کوټلي دلائل په لاس ورکوي.

په زرګونو کاله پخوانۍ دا د جنت په څیر تاریخي جغرافیه دې قام له هیڅ چا نهٔ، بلکې خپل لرغوني وجود ورکړې ده. د کتاب په اخر کښې د هغه وخت د نومونو سره د اوس وخت د نومونو سمون راوستلی شوی دی چې کوم د دغه کتاب په اساس په اوس وخت کښې شتون لري. دغه شان دا کتاب هغه چا ته هم ښهٔ مدلل

جواب دی چې څوک د پښتنو د اوسني مسخ کړې شوې تاریخي څهرې په نظر دوي په تاریخ کښې هم وحشیان او غېر متمدن بولي، ځکه چې په دې کتاب کښې دوه زره کاله پخوا د پښتنو د ډېر لوړو تهذیبونو او ښاریو ذکر دی چې دا د دې دلیل دی چې پښتانهٔ کهٔ چا نن هم لږ پرېښودل نو د هر چا نه د پرمختګ پهٔ ځغل کښې مخکښې کېدی شي. د دې کتاب پهٔ مخې ته راوړو کښې د ګران ایاز ایسپزي هم ډېر زیار دی چې دا دومره مهم کار ئې تر سره کړو. دا کتاب د 'مفکوره' لهٔ اړخه چاپ شوی. باید چې هر هغه څوک دا کتاب ولولي، څوک چې د پښتنو د وطن د رښتینې جغرافیې رېښې د زرګونو کاله د تاریخ پهٔ رښتیني قدامت او وجود کښې لیدل او کتل غواړي.

اوس سائنسي زمانه ده. کهٔ څوک د خپلې ژبې او تاریخ پهٔ اړه کار کول غواړي نو یقیناً چې هم دغه شان نوي او مهم زیار ته اړتیا لري. پهٔ ځانګړې توګه د پښتنو د تاریخ یاداشتونه هم دغه شان د عربي ادب پهٔ لړمون کښې هم کتل او موندل غواړي. خدای دې وکړي چې دغه کار ته هم څوک سمه ملا وتړي او زمونږ د تاریخ د نیمګړتیا پهٔ اړه د نورو خلکو د لیکونو پهٔ مرسته څهٔ نه څهٔ پرمختګ وکړی شي.

د پښتون وطن د جغرافیې پهٔ اړه اروانښاد عبدالرحیم مندوخېل لیکي:

"افغان ملت چې پهٔ بل نوم یا پهٔ بله ژبه مشهور پهٔ پښتون پټهان دی، د تاریخ پهٔ بېلابېلو دورو کښې ئې د خپل ملي وجود نشونما او تکامل کړی دی. خپله ژبه پښتو ئې لهٔ قدیم باختري، اوښستائي ژبې څخه اوسني پړاو ته را رسولې ده. خپله خاوره اریانا ئې د امو دریا لهٔ غاړې ښائسته بخدیا (بلخ) څخه تر اباسین پکتیا (پښتیا) او د کېسپئین تر غاړې (پارتهیا) داسې واحده خاوره ده چې فارس او فارسي پهٔ واضحه توګه ځینې د باندې دي. 'اریانا' خاورې داسې ژبه لرله چې لهٔ امو تر اباسین بیا تر کېسپئین دا ټول خلک پرې پوهېدل

او غرېدل او نن د ټول لر او بر افغان ژبه پښتو هم د هغې ژبې تسلسل دی او پر هغه مینه ئې د هغو خلکو اولاد وائي."

د قبل مسیح د اخري پېړيو لیکوال اېروستونتېين پۀ خپل کتاب 'قدیم اریانا' کښې او د لومړۍ عیسوي پېړۍ نامتو لیکوال 'ستر ابو' پۀ خپل کتاب 'د دنیا جغرافیه' کښې لیکلي دي چې د دې خلکو ژبه 'اوېستا' وه. اوېستا هغه ژبه ده چې پۀ 600 قبل مسیح کښې د زرتشت مذهبي کتاب پۀ دې ژبه لیکلی شوی دی. زمونږ پۀ تاریخ کښې یو غټ زیاتوب دا شوی دی چې زمونږ دغه د 'اریانا' تاریخ د فارس تاریخ بللی شوی دی. اریانا پۀ خپل ټول تاریخ کښې ځان له ډېر غټ غټ مملکتونه (states) جوړ کړي دي. بهترین علمي او ادبي تمدن ئې درلود. تاسو اندازه ولګوئ چې یو مذهبي کتاب چې پۀ هغه ژبه لیکلی کېږي نو هغه خلک به څنګه ټولنیز، سیاسي، اقتصادي او کلتوري نظام نۀ لري؟

هر څو اریانا د فارس سره نزدې وه او د ژبو بنیاد ئې هم یو ؤ نو د یورپ لیکوالانو د ژبو پۀ حواله 'ایراني ګروپ' نامه ورکړه. یوناني مورخ سترابو د اراکوزیا پۀ اړه لیکي چې دا د 'هند' یو ښار ؤ. پۀ یوناني تاریخونو کښې د 'اراکوزیاس' او 'کوفین' نومونه یو ځای هم یاد شوي دي. 'کوفین' د کابل د سیند نوم ؤ او یو بل مؤرخ پلایني د کوفین سیند پۀ غاړه یو ښار 'اراکوزیاس' بللی دی. د کابل نوم هغه وخت د پارس واکمنو 'اورتسپانه' یادوۀ.

پۀ 'اریانا' د ایران دعوي د وخت لۀ سره د 'اریانا' لرغونتیا پۀ ځان پورې د نتي کولو د پاره ده. دا اوس چې د 'اریانا' او 'ایران' تر منځ کومه لساني رېښه د دلیل پۀ توګه وړاندې کولې کېږي، یاده دې وي چې ټولې نړۍ به ایران د 'فارس/پارس' پۀ تاریخي نامه پېژندۀ او یادوۀ نو پۀ 1935 کښې د پارس د شاه (رضا شاه پهلوي) پۀ غوښتنه دا نامه 'ایران' کېښودلې شوه او اوس د تېرو لس اتیا (89) کالو نه ئې نړۍ د 'ایران' پۀ نامه لیکي او بلي.

CamScanner

## د پښتونخوا وطن وسائل

چې کله د يو قام اجتماعي احساس ورستو شي نو قام ته په مجموعي توګه محکوميت ور په غاړه شي. دغه محکوميت د ځان سره مرګونی افلاس، بې وسي، بد امني، تنګدستي او بوږنوونکې غربت راوړي. تر دې چې د قام عام وګړي په انساني توګه د ژوند کولو جوګه پاتې نهٔ شي. دا د يو قام د اجتماعي ژوند هغه پړاو وي، کوم کښې چې څهٔ ژوندي روحونه د قامي احساس، خپلې ژورې مشاهدې، د انساني شرف، سياسي جدوجهد او سائنسي سوچ په بنياد د قام د ريښې ريښې وجود را غونډولو هڅه کوي.
قدرتي وسائل د يو قام د مادي ژوند د بقاء او ارتقاء ذريعې وي او د يو قام د سماجي ادارو د نظام په ښهٔ ډول د مخکښې بوتللو بنياد هم ګرځي. په قامي وسيلو قامي اختيار د يو قام د سياسي اختيار بنسټ ګرځي. سيندونه، دريابونه، چينې، درې، د غرونو څوکې، هواګانې، ګلونه، ځنګلې، مارغان، ځناور، معدنيات، فصلونه، کانې بوټې، جغرافيائي مقاميت او ابادي د يو قام د فطري وسيلو غټې غټې ډولونه دي. هنرونه، لارې کودرې، سوداګريزې لارې، د جرګو مرکو مرکزونه، د لانجو هوارولو، زدکړو او انتظام ادارې، روغتونونه، د پېداوار او پنګې ادارې، د نکاسي نظام او د استوګنې ټول ځايونه د يو قام د مادي وسيلو غټ غټ ډولونه دي.
د يو قام وسائل مونږ په څلورو غټو ډولونو وېشلی شو:

1. قدرتي وسائل
2. سماجي وسائل
3. کلتوري وسائل
4. مارکيټي وسائل

CamScanner

قدرتي وسائل؛ لکه نمر، هوا/ سیلۍ، اوبهٔ، کرونده، غرونه، وګړي، ژوي او څاروي، معدنیات، ځنګلونه.
سماجي وسائل؛ لکه د زدکړو او ټولنیزو ښېګړو اداري، روغتونونه، څېړنیز ځایونه، کاربزونه، یاوړی، حجرې،جوماتونه، لوبغالي.
کلتوري وسائل؛ لکه ژبه، ادب، آرټ، جامه، خوراکونه، دود دستور او مذهب.
مارکیټي وسائل؛ لکه کارخانې، نوکرۍ، سوداګري، ټرانسپورټ، رسنۍ، برېښنا، څاروي پالنهٔ وغېره.
د قامي وسائلو بحثونه، غوښتنې، د قام د سوکاله ژوند هڅې پېغمبري سنت دی. پهٔ مدینه کښې د خدای رسول صلي الله علېه وسلم د خپل قام د مکې مشرکانو له د ابو سفیان پهٔ جرګه د قحط نه د بچ کېدو او باران سوال کړی ؤ، سره د دې چې دغه خپل قام پېغمبر د خپل وطن څخه وتلو ته اړ کړی ؤ.
قرآن کښې یوازې د نمونځ، جهنم، جنت، حورو او شرابو بحث نهٔ دی، د انساني حقوقو، د زنانو سره د ښهٔ چلن، د ټولنیزو حقوقو، د ظلم پهٔ مقابل کښې د اولسي پاڅون، د قبطي پهٔ مقابل کښې لکه د حضرت موسیٰ علېه السلام د مظلوم خپل قامي سړي سره د ودرېدو خبرې هم دي. تېره ورځ پهٔ یوه جنازه کښې یو مُلا صاحب یوه ګېنټه تقریر د نفل نمونځونو پهٔ ثواب او د شودو شرابو نهرونو او پهٔ ثوابونو وکړو خو زرګونو خلکو ته ئې یوه خبره هم د سورة النساء پهٔ رڼا کښې د هغوي د خپلمنځي ټولنیزو حقونو او حسن معاشرت و نهٔ کړه.
د قامي حقونو او قامي وسائلو مقدمه چرې هم د اسلام خلاف نهٔ ده، ځکه دا د حقونو مبارزه ده. اسلام د انسان خهٔ چې د ځناورو د حقونو ادا کولو غوښتنه هم کوي. د قام د حقونو خبره د شرک پهٔ درجه کښې ودرول پهٔ خپل کبیره ګناه ده. دا ډول فکر مذهبي سیاسي دی، د حقیقي اسلام نهٔ. د آمرانه فکر د خود ساخته سیاسي مذهبیت دی. یوه ورځ یوې ښځې ته پهٔ دې خبره د خدای رسول صلي الله علېه وسلم جهنمي ووئیله چې یوه پیشو ئې پهٔ لوږه وژلې وه. یوه ګناهګاره پهٔ دې

جنتي شوی وه چې د خپل څادر او پنې په وسیله ئې تړي سپي له د کوهي څخه اوبه را ویستې وې.
د مولانا شبلي نعماني تر مخه، د عمر فاروق د ریاست مدینه ټول تصور فلاحي او په ټولنیزو حقونو ولاړ ؤ. تر دې چې د فرات د سیند په غاړه د تندې د لاسه د مړې ګډې چېلۍ په سر ئې ځان اولس ته ګرم ګڼلو.
سورة النساء د یو سل شپږ اویا (176) آیتونو پوره سورت د انسانانو او ټولنیز حقونو په اړه نازل شوی دی. د منبر صاحبان په دې پوهه کوڵ غواړي چې د قام د حقونو خبره د خدای رضاده، ځکه خدای خپل حقونه معاف کوي خو د بندیانو حقونه چرې هم نه بخښي.
په خپل کلي کښې چې دې غریب وي نو بل کلي له زکات لیږل هم منع دي. خپل قام دې چې خوار غریب او د ستونزو ښکار وي، د هغې د پاره غږ نه پورته کول او د نورو صوبو او هېوادونو د پاره چغې جلسې جلوسونه د اسلام په ضد عمل دی. د فرد نه واخله تر ټولنې، بشري حقونه درجه په درجه دي.
په سورة الدّخان کښې خدای پاک وائي چې موسٰي علیه السلام فرعون ته دوه خبرې کړې وې: یوه دا چې د خدایۍ دعوٰي پرېږده! دوېمه، اَنْ اَدُّوْٓا اِلَیَّ عِبَادَ اللّٰهِ
-ژباړه: ما ته زما قام د غلامۍ نه ازاد کړه! (الدخان:18)
که بني اسرائیل هر څومره هم بې کاره خلک وو خو موسٰي علیه السلام ورسره تر مرګه ولاړ ؤ. نه ترې کوم وخت ناهیلې شوی ؤ. مونږ یو تقریر وکړو، بیا وایو، یره! پښتانه جاهلان دي، عقل نه لري. که پښتانه داسې په لار وی نو بیا خو په کښې ستا د خبرې ضرورت نه ؤ.
سورة هود (آیت 113) کښې خدای پاک وائي؛
وَلَا تَرْكَنُوْٓا اِلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ
د ظالم سره ودرېدل څه کوې چې ور نزدې کېږه هم مه! ګنې نو اور به دې وسېزي.

د قرآن لارښودنه خو دا ده چې کۀ قام هرځومره بېکاره شي خو د قام د دښمن پۀ صف کښې به نۀ ودرېږي.
د خپلو وسیلو د اختیار سره د دغه وسیلو د لټون د تخمیني د پاره بشپړه سائنسي څېړنه او هغې ته اداراتي شکل ورکول، وسیلې پۀ جدید مترقي پېداواري شکل کښې د بدلولو د پاره ذرائع او د آلاتو ایجاد او پۀ خپله ټولنه کښې د دغه هر څۀ ګټه وټه پۀ منصفانه توګه وېشل لازم وي. قدرت د پښتنو خاورې له ډول ډول وسیلې ورکړې دي خو پۀ دغه وسیلو زمونږ اختیار او واک تش د نوم تر حده دی.
د قدرتي شتمنیو شتون یوازې د پرمختګ لامل نۀ وي، چې تر څو د هغې نه پۀ منظم ډول د سیاسي واک پۀ مرسته ګټه وا نۀ خستلې شي. لوی مثال ئې افغانستان دی چې د قدرتي شتمنیو ډک دی خو سیاسي عدم استحکام دغه هر څۀ شنډ کړي دي او د اولس پۀ ښه د راتللو پۀ ځای پۀ دغه قدرتي شتمنیو چُور تالان جوړ دی.
پښتانۀ بچي ډېر زېږوي. پۀ نړۍ کښې چې کله د ژوند کومه منظمه تګلاره نۀ وي نو د وګړو زیاتوالي سره بې شمېره ټولنیزې ستونزې هم جوړې شي. دغه ګڼه ګوڼه پۀ اوس وخت کښې د چین، ترکي او ملائشیا پۀ شان هېوادونو پۀ یوه ګټوره وسیله بدل کړې ده چې پۀ لوی کچ ئې هنري زدکړې او لوي واړۀ صنعتونه جوړ کړل.
د پښتنو د وګړو اویا سلنه کچه د عمر د شلو نه تر پینځۀ دېرش کالو پۀ ځوانانو مشتمله ده. د پښتونخوا پۀ هره ضلع کښې د هنري زدکړو ښونځي جوړول پکار دي. د شپاړسم نه پرته تر لسم زدکړې هم دغه هنري زدکړو د پاره پوره وي. پۀ لوی کچ وړې هنري صنعتي یونټې پکار دي. پۀ نتیجه کښې به ئې د وګړو ګڼه د یوې ګټورې وسیلې پۀ توګه مخې ته راشي.
د اباسین پۀ غاړه پښتانۀ د باران سوال کوي. د اباسین پۀ څنډو د پښتنو اتیا

سلنه د سرو زرو پهٔ شان زمکې للمې پرتې دي او د نړیوالو اصولو تر مخه پهٔ یوه خاوره د زرګونو کالو نه د روان سیند مخ پهٔ بل لور اړول نړیوال جرم دی، ځکه چې د دې سره تړلې انساني ټولنیز ژوند او تمدني تهذیب لهٔ منځه ځي خو د بده مرغه د 'غازي بروتها' پهٔ شکل کښې دغه پروژه د صوابۍ نه ښکته اباسین د منځه وړل دي.

د غازي بروتها پهٔ نامه بجلي ګهر او بیا 9/51 کلومیټره د نړۍ لوی پوخ نهر وېستلی شوی خو دغه نهر نهٔ بلکې پهٔ حقیقت کښې سیند دی؛ ځکه چې دغه نهر درې سوه فټه پلن او اتهٔ څلوېښت فټه ژور دی. پهٔ یو سېکنډ کښې 1600 کیوبک میټر اوبهٔ پهٔ کښې ځي. د اباسین نه څهٔ اتیا زره کیوسک اوبهٔ پهٔ دغه نهر کښې اړولې شوې دي. اباسین به زر پهٔ خوړ بدل شي او د غازي بروتها پهٔ لار د اسلام اباد او راولپنډۍ 'مقدس' ځای ته به خوږې د څښکلو اوبهٔ ترې هم ورکړی شي.

باچا خان بابا یوه ورځ وئیلي وو، کهٔ د خپلو وسائلو نه ځان نهٔ خبروئ نو اباسین به درنه څوک پهٔ بډه کړي او خبر به هم نهٔ یئ! اباسین پهٔ بډه کړی شوی دی. د پښتنو د تخت اسلام اباد د سیاست پهٔ څملولو پاڅولو کښې کوم څهٔ خبر نشته، د خپلو وسائلو مسائلو غم ته ورته وزګار ېدل پکار دي.

د بنو پهٔ 'پښتون قامي جرګه' کښې د خاورې سره د دې خیانت پهٔ ضد هم پهٔ پرېکړلیک کښې غږ شوی. باید چې دا غږ پهٔ هر ځای کښې بدرګه کړی شي.

پښتونخوا د پاکستان د ټول ګېس پنځوس سلنه برخه پېدا کوي. پهٔ لکي مروت کښې څو ورځې وړاندې اوس نوې زېرمې هم موندلې شوې دي. دغه کچه به نوره هم ډېره شي خو د پښتونخوا د نوو ضلعو پهٔ شمول پهٔ دې کښې یوې برخې ته هم ګېس نهٔ دی ورکړی شوی.

پښتونخوا صوبه د خپلو اوبو پهٔ برکت د تربېلې، ورسک، خان پور، کرم تنګي، ګومل زام، ملاکنډ، چترال او بې شمېره وړو بندونو نه 6,847 مېګا واټه بجلي پېدا کوي خو واپس مونږ ته زمونږ د ضرورت د 2,300 مېګا واټه پهٔ ځای 1,400

مېګا واټه راکولې شي چې په نتیجه کښې ئې لوډ شېډنګ وي. زمونږ د کارخانو صنعت ته د بجلۍ د کموت له کبله هدیره جوړه شوې ده.

دا تېر لس کاله د پي ټي آئي په پښتونخوا کښې د واکمنۍ په وخت کښې تر اوسه څه څلور زره (4,000) کارخانې بندې شوې دي. کارخانه دار په تاوانونو کښې ډوب شوي او پنجاب ته ئې خپل روزګارونه وړي دي. زمونږ مات ګډ صنعت ته فقط 64 مېګا واټه بجلي ورکولې کېږي او بل خوا د پنجاب صنعتونو ته 9,000 او د کراچۍ صنعت ته د 1,000 مېګاواټو نه سوا ورکولې کېږي.

د خپلو اوبو دغه بجلي مونږ په یوه روپۍ او دولس انې (Rs. 1.75) یونټ جوړوو، خو دغه بجلۍ د 'ون یونټ' د وخت نه د لاهور په 'واپډا هاؤس' کښې خزانه کولې شي او بېرته مونږ ته د 'شل روپۍ یونټ' نه د پرش روپیو پورې راکولې شي (اوس دغه یو کم څلوېښت روپیو ته خوله اچوي). دا اوس کوم انصاف دی؟

د قدرتي شتمنیو شتون یوازې د پرمختګ لامل نه وي چې تر څو د هغې نه په منظم ډول د سیاسي واک په مرسته ګټه وا نه خستلې شي. پښتانه به په زیاتو بچو زېږولو نه، بلکې په سیاسي شعور به ګټه کوي. پاکستان په نړۍ کښې د زېږون په کچ په شپږم او د پرمختګ په څغل کښې په 146م نمبر دی.

د شوروي اتحاد په وخت کښې د افغانستان د قدرتي شتمنیو د څېړنې تر مخه کۀ د دې هېواد دا زېرمې په سائنسي هنر سره وسپړدلې شي نو د دې هېواد د وګړو تر 2,500 کاله پورې اقتصادي کفالت کولی شي، خو د دې خزانو نه ګټه اخستل هسې په خبرو او خوبونو نه بلکې په سائنسي هنر او جدید سائنسي وسائلو ممکن ده. بجلي غواړي، صنعت غواړي، د اورګاډي پټلۍ غواړي، ګودامونه غواړي، پلن پاخۀ سړکونه غواړي، لېبارټرۍ، د سائنسي علومو څېړنکار او لوستي هنر مند خلک غواړي. پۀ عربستان کښې پۀ 1960 کښې تش تېل ښکاره شول. د شګو نه ئې ګلستان جوړ کړو خو د افغانستان پۀ خاوره د نړۍ پۀ سر پۀ دوه زره ډوله معدنیاتو کښې 639 معدنیات د زمانو زمانو نه شتون لري

خو افغانان بیا هم د خپلې بې سوادۍ د لاسه د لوړې او بنیادي اسانتیاو د نشتون سره مخ دي.

په 1980 کښې د شوروي اتحاد سائنس پوهانو چې کومې څېړنې کړې وې، د هغې تر مخه افغانستان د راتلونکي وخت د لیتهئیم د معدن عربستان دی.

لیتهئیم په وړومبي ځل سوېډني عالم 'ارفزوان' په 1817 کښې درک کړی ؤ. د نړۍ په سر په یو نیم کروړ میلیون ټنه لیتهئیم کښې دېرش لکهه میلیون ټنه لیتهئیم په افغانستان کښې دي. په دې کښې یویشت میلیون ټن تش په غزني کښې او کۀ څېړنې وشي نو شاید چې نورې هم ډېرې زیرمې وموندلې شي.

لیتهئیم د اېټمي وسلو سره سره په خلائي راکټونو، لېپټاپس، آئي فونز او د برقي ګاډواو موبائل په بیټرېو کښې کارولی کېږي چې اړتیا به ئې د وخت سره نوره هم ډېرېږي. د راتلونکي وخت الېکټرونیکي سسټم به هم د لیتهئیم په برکت نور پرمختګ کوي.

افغانستان د زمکې د جغرافیې په قشر کښې د مرکزي او سوېلي اېشیاء تر منځ پروت داسې هېواد دی چې د سیاسي ارزښت سره سره د خپلې مړې قدرتي جغرافیې ځانګړتیا هم لري. د دې هېواد جیالوجیکي سائنسي کوټلتیا د سیاسي عدم استحکام لۀ کبله تر اوسه ټول په ټوله بشپړه شوې نۀ ده، خو بیا هم څېړنکاران وائي چې په دې خاوره کښې تر دېرش ټریلیون ډالرو پورې قدرتي شتمنۍ پرتې دي. 1433 داسې ځایونه امکاني دي چې د قدرتي شتمنیو نه پرڅېډلي نا سپړدلي پراتۀ دي. 639 ډوله معدنیات په کښې شتون لري. د 260 سیمو کره کتنه په کښې شوې. کوم مهم معدني خزانې چې معلومې شوي نو په هغې کښې لیتهئیم، یورینیم، ایرک (mica)، ازبست (Asbestose)، سینائت (syenite)، کونزېټ (kunzite)، رخام (Aragonite)، سفالیریټ (Sphalerite)، نفرائټ (Nephrite)، ټوپاز (Topaz)، اکوامرین (Aquamarine)، کریزوبیرل (Chrysoberyle)، تورمالین (Tourmaline)، بېروج، لاجورد

(Lazurite)، تانبا، سرۀ زر، اېلمونيم، قلعي، نيکل، کوئله، تېل، ګېس، روتينيم، پلاټين، راډيم، مالګه، ډول ډول لالونه، جست او نور ډېر ډول معدنيات.
په 1980 کښې د شوروي اتحاد په وخت کښې د شوې څېړنې تر مخه پينځۀ زره مېټرک ټن تېل په يو کال کښې وېستل ممکن وو. دغه راز د يو نيم سل ارب مکعب ميټر پورې د ګېس ويستل په کال کښې ممکن دي.
نن افغانان په خپله شتمنه خاوره کښې د ژوند د بقاء د سوال سره مخ دي، د لوږې ښکار کړی شوي دي، نړۍ ته د خوراک د يوې نمړۍ د پاره لاس په نامه دي. دا فقر د دې خاورې فطرت نۀ دی بلکې دا کسبي عمل دی. دا نېستمن خلک ډېره شتمنه او مړه خاوره لري، خو د افغانانو د تندي بدبختيو دا خاوره د زرګونو کلونو نه را واخله او د تېر دوه نيم سوه کاله دوام داره بدبختيو د لاسه ځو ځله بائيللې. دا خاوره ببرته شتمنه کول د نړۍ سره سيال کول هېڅ ناممکن ناشونی تصور نۀ دی.
ډنمارک په نړۍ کښې داسې هېواد دی چې يوه روپۍ قرض په ځان نۀ لري. د ورځې چې څومره لګښتونه دي نو خپل امروزه ټول لګښتونه د هرې ورځې په شمېر د خپل هېواد نه پوره کوي.
سائنس پوهان وائي چې د زمکې په خېټه کښې قدرتي شتمنۍ د زمانو زمانو د زمکې دننه د کيميائي عمل په نتيجه کښې جوړې شوې دي. کۀ چرته د يو خاص وخت پورې دغه خزانې و نۀ وېستلې شي نو ممکن ده چې څۀ وخت پس قدرت دغه خزانې ببرته خاورې کړي يا يوه شتمني نن مهم ده خو څۀ وخت پس ئې ارزښت ختمېږي - لکه کوئله يو وخت کښې د اِرزښت وړ وه خو د برقي پرمختګ لۀ کبله اوس دغه ارزښت ئې د محدود صلاحيت لۀ امله په کمېدو دی. د دې دلائلو په رڼا کښې دا ښېخي روڼ حقيقت دی چې د دې خاورې فقر او نيستي فطري نۀ بلکې اکتسابي عمل دی.
په ضلع مومند کښې د باجوړ د 'برنګ' په لار بهېدونکي سوات او پنجکوړه،

دوو غټو سیندونو ته د 'مومند ډېم' په نامه د پخواني وزیراعظم اقتصادي صلاح کار عبدالرزاق داؤد د زوي په وادهٔ کښې شرکت وئیلي وو چې د بجلۍ د پاره په 309 اربه لګښت باندې يو ستر ډېم په ټهېکه جوړوي تر 2025 پورې به سر ته رسي. ټول لګښت په دغه ډېم څهٔ 1,400 اربه روپۍ دی. 800 مېګا واټه به ترې برېښنا جوړولې شي، درې لکهه کيوسک به په کښې اوبهٔ را غونډولې شي، پېښور ته به ترې د ورځې 300 ميليون ګېلن اوبهٔ ورکولې شي او د چارسدې او نوښار څهٔ زمکه به هم ترې سېراب کولې شي. د دغه ډېم ډب د باجوړ د برنګ سيمې تر نيمايۍ به راځي خو د مومند او باجوړ پټي به ترې نهٔ اوبهٔ کېږي.

غټ ډېمونه اوس په نړۍ کښې ځکه بند کړی شوي چې خرڅ پرې ډېر راځي، زمکې ډېرې لاندې کوي او په راتلونکي کښې د ناکامۍ سره مخ کېږي خو پښتانهٔ په زمکو څهٔ کوي؟ په بې مالکه وطن کښې هر څهٔ ټيک وي. په پاکستان کښې په نورو ځايونو کښې د ډېم د پاره زمکه په شل لکهه روپۍ ايکړ اخستلې شي خو د مومند ډېم زمکه په درې لکهه روپۍ اخستلې شوې ده. په لوی کچ په کښې د معدنياتو غرونه به ډوب شي، د لکهونو په شمېر د غرونو اونې به په کښې ډوبې شي.

هم په دغه ضلع مومند کښې اتيا سلنه زمکه باراني ده. د مومندو زمکه شګه کمه او خاوره ډېره لري چې ښهٔ ډېر بارانونه وي نو هله څهٔ نه څهٔ غنم وکړي. جوار او بله غله خو هډو په ټول کال کښې په بارانونو نهٔ کېږي. د مومندو د سيمې خلک د زمانو نه په اشنغر کښې دوېم کور لري. په کرونده هم ډېر ښهٔ پوهېږي خو د اوبو د نشتوالي لهٔ کبله د مومندو زمکه چې د ټولې پښتونخوا د غنمو شل سلنه برخه پوره کولې شي، ټول کال شاړې دشتې پرتې وي.

کهٔ چرته د مومند ډېم نه هغه بجلي چې پنجاب ته به بوتللې شي، د هغې په ځای د کروندې د پاره يو نهری نظام ورکړی شوی وی نو دغه ټوله شاړه زمکه ډېره په اسانه خړوب کېدې شي. د مومند ډېم په نامه پخواني ستر قاضي ثاقب نثار هم

ايله بيله لس اربه روپۍ د چندې پټې کړې. که هغه ترې واخستې شي نو نهري نظام پرې تر يوه حده جوړېدی شي.
بد مرغي دا ده چې د مومندو پښتانهٔ د پاکستان په ښارونو او تر دوبۍ، جاپان پورې خځلي، هلته کورونه هم جوړوي خو خپل وطن ئې شاړ پروت دی. د مومندو ابادي هم د باجوړ هومره ده خو په باجوړ کښې په اوس وخت کښې څه شل لکهه پښتانهٔ په خپل وطن کښې ژوند تېروي خو په مومندو کښې پينځهٔ لکهه وګړي هم نشته.
سياسي نمائندګي هم د نثار مومند نه بغېر مکمل 'غېر سياسي او خاموش' ده.
د باجوړ په نسبت تعليم ته هم د ځوانانو پام ډېخي کم دی. زمکه ئې د باجوړ نه يو په دوه زياته ده خو بس هر تن د دوبۍ او جاپان د تلو په تکل کښې وي. که ډېر څهٔ نهٔ شي نو لږ تر لږه په مومند ډيم کښې دې د راغليو زمکو ويالې د پاره غړ پورته کړي، بهرتي کېدونکي خلک دې په کښې د مومندو ولګولی شي، د نهري نظام د پاره دې غږ وکړي، د غرونو نه د کراچۍ په لور وړونکي ماربلو د پاره دې د دغه غرونو سره نزدې د ماربل ستې جوړولو او هم د مومند ډيم نه دغه کارخانو ته د ارزانې بجلۍ د پاره غږ پورته کړي. که مومندو ته د دغه ډيم نه پنځوس مېګا واټه برېښنا هم ورکړې شوه نو د هر څهٔ د پاره پوره ده. دا مو حق دی د يو بل سره د پټې په سر د پټنو لانجو وخت تېر دی، خپل وطن په خپله ودان کړئ! بل څوک ئې درله نهٔ ودانوي.
په پښتونخوا کښې لوېې کارخانې ډېرې کمې دي. کومې چې دي نو نوي سلنه په وړه کارخانه او ورکوټي صنعت کښې راځي. د پښتونخوا د چيمبر آف کامرس د تصديق تر مخه په پښتونخوا کښې ټولې رجسټرډ کارخانې 2,986 دي. دغه د کارخانو په مات ګوډ صنعت کښې هم څهٔ دېرش لکهه پښتانهٔ په روزګار دي. د پي ټي آئي د واکمنۍ په وخت کښې په تېر دوه کاله کښې شپږ سوه صنعتي يونټې بندې شوې.

په ګډون کښې تر 552 پورې کارخانې اوس پاتې دي خو اوس په دغه کښې هم زياتره بندې دي. د هزارې ډويژن په هرې پور خطار کښې څه شل فيصده کارخانې په پوره ډول فعاله دي، نورې ولاړې دي.

حيات آباد، پېښور انډسټريل سټېټ، د کوهاټ انډسټريل سټېټ او رشکۍ، ګډون امازۍ او خطار د صوبې مهم صنعتي زونونه دي خو د ستونزو ښکار دي. په حيات آباد انډسټريل زون کښې څه 480 کارخانې دي خو څه کم 200 په کښې اوس رواني دي او نورې ولاړې دي. په مردان ګوجرګړهۍ کښې هم د اوسپنې د لوښو په سلګونو کارخانې د ستونزو ښکار دي. زياتې کارخانې په پښتونخوا کښې د ماربلو دي. دا عامو پښتنو په خپل همت ځای په ځای په پرائيوېټ زمکو جوړې کړې دي. حکومت ورته هېڅ کومه اساني نه ده ورکړې.

په تېر پينځه کاله کښې په پنجاب کښې اته صنعتي زونونه او ورسره زر کارخانې نوې جوړې کړې شوې دي، بجلي ورته پوره ورکړې شوې، ټېکس ورته کم کړې شوی دی، کارخانه دار ته امن دی خو په پښتونخوا کښې تش په نامه شپږ صنعتي زونونه اعلان شوي خو لا زمکه هم ورته نه ده برابر کړې شوې.

د پښتونخوا کارخانه دارو د نوو ټېکسونو په ګډون د بجلۍ او ګېس زيات قيمت او په درامداتو د زياتو ټېکسونو، د اوسپنې بې کچه ګرانېدل، بهته په زور پېسو غوښتلو د وېرې له کبله په تېرو څو کلونو کښې د پي ټي آئي په واکمنۍ کښې څه فيصده نه زياتې کارخانې وتړلې، د لس لکهه نه زيات پښتانه ورسره بې روزګاره شول. دغه پانګه وال د دې صوبې نه د کراچۍ، دوبۍ او پنجاب په لور د خپلې سرمايې سره لاړل.

په 1992 کښې د 1973 د آئين لاندې شوې د اوبو د تړون (ANG) قاضي فارمولې تر مخه د پښتونخوا صوبې هر کال د وفاق په غاړه 126 ارب رائلټي جوړېږي چې د 2023 پورې به د بجلۍ دغه کمېشن 230 اربه ته ورسي خو په دغه روپيو کښې وفاق پښتونخوا ته تر اوسه يوه روپۍ نه ورکوي. څوځل ئې ژمنې کړې دي خو

CamScanner

عملي کوي ئې نه، چې لۀ کبله ئې د صوبې پۀ مالي چارو کښې ستونزې وي. پۀ کهربونو روپۍ پۀ مرکز پاتې دي خو د پښتونخوا د لس کاله نه د پښتنو واکمن پۀ دې هر څۀ لا تعلق پۀ پېښور کښې چپ ناست دي. د دغه پېسو د پاره د ټولو نه ډېر کوشش عوامي نېشنل ګوند کوي او دا نور غلي وي.

ماهرين وائي کۀ چرته د پښتونخوا پۀ خوړو اوبو د بجلۍ پروژې جوړې کړې شي نو دا به ډېره ارزانه او چاپېريال دوسته بجلي وي. نو پښتونخوا صوبه د کوېټ د هېواد نه هم ډېره مالداره کېدې شي او نور ملک ته به ئې هم ګټه ورسي. د پاکستان واکمن د اوبو پۀ ځای د خپلو کمېشنونو د پاره د کوئلې، شمسي شيشو او د تېلو ګېس نه ګرانې بجلۍ ته پام کوي.

کله ځينې خلک وائي پښتنو پۀ اوسني عصر کښې څۀ کړي؟ يو جواب ئې دا دی چې پښتنو د زمانو زمانو نه پۀ کورونو کښې د خپل پېداواري کلتور پۀ برکت سره پېدا کوونکي د شاتو کورنۍ صنعت نړيوال کړو دا صنعت پۀ څلوېښت کاله کښې بې تعليمه او بې هنره پښتنو د خپلو صلاحيتونو پۀ مټ پۀ مسافرو شاړو دشتو کښې د هېڅ کومې رياستي مرستې پرته دې ته ورسولو چې پاکستان نړۍ ته د شل کاله نه پۀ شات ورکوونکو هېوادونو کښې شمار دی. پښتنو د شاتو يو وړوکی مقدار د انټرنېشنل مارکېټ برانډ جوړ کړو. پۀ دغه مارکيټي وسيلې سره اوس څۀ پينځلس لکهه پښتانۀ بغېر د کومې رياستي مرستې پۀ روزګار بوخت دي. څۀ پينځۀ دېرش زره فارمونه لري. نوي سلنه دا روزګار د افغانستان او پښتونخوا پښتانۀ کوي ځکه دې صنعت ته مونږ اوس خالص د پښتنو روزګار وئيلی شو. خو بد مرغي دا ده چې هم د پښتنو پۀ خوارۍ جوړ شات د وسائلو د کمي او د يورپ او عربو انټرنېشنل مارکيټ ته د نۀ رسېدو پۀ وجه د 'الاحمد' پۀ شان د پنجابيانو کمپنۍ هم د دوي شات پۀ خپل نوم او برانډ پۀ انټرنېشنل مارکيټ کښې خرڅوي او شپېتۀ سلنه ګټه هغوي د دې څخه اخلي.

پۀ شلمه د مۍ د شاتو د مچيو نړۍ واله ورځ نمانځلې کېږي. دې صنعت ته څومره

ستونزې دي، کوم خطرات دي، د شاتو او د مچۍ په بابله د پښتنو د قامي وسيلې په توګه په دغه ورځ ما په خپلو خبرو اترو کښې، چې زياتره په سوشل ميډيا، 'شهباز' او 'پښتون' مجله کښې په رېکارډ دي، ډېر څۀ وئيلي دي. خو دا وايم چې په پاکستان، هند، افغانستان او ايران کښې د منځني ختيځ پورې چې څومره شات خوړلی کېږي، په دې کښې اوس ډېره برخه د پښتنو د ذهني او هنري ګوتو کمال دی.

کۀ چرته پښتنو د سوداګرۍ په حېث دا صنعت ځلوېښت کاله وړاندې د 'يو اېن ايچ سي آر' په مرسته نۀ وی را اوچت کړی نو نن به په دې منطقه کښې ډېرو خلکو شات پېژندل هم نۀ. 'جديد مګس باني' په 1952 کښې په يورپ کښې مخې ته راغلې وه او پښتنو په 1980 کښې خپله کړه. په اوس وخت کښې د پښتنو دغه صنعت 30,000 مټرک ټن شات پېدا کوي. د بېرې په شان د انټرنېشنل معيار شات هم د دې صنعت په برکت پېدا کېږي چې تر 2,000 مېټرک ټن پورې په کښې عربستان ته لېږلی شي.

پښتانۀ به هم ګرم وي خو بېخي هر څۀ له په صفر کښې ضرب ورکول هم د قنوطيت انتها وي. پښتانۀ ټول په ټوله جاهله او بې هنره هم نۀ دي، بلکې داسې د خپل چاپېريال دننه جوړ کړی شوي دي.

زما د خبرې لوی دليل دا دی چې کۀ پښتانۀ په حېث مجموع فطرتاً بې هنره او قانون نۀ منونکي خلک وي نو چې کله د پاکستان نه وځي نو د نړۍ په هر هېواد کښې څنګه ترې يو دم سم سړی او د کار پرزه جوړه شي؟ دا ځکه چې هلته ورته هغه ماحول ملاو شي کوم کښې چې دی په خپل وطن کښې هم د کار سړی کېدی شي خو چې څوک ئې وږومبی لږ ژوند ته پرېږدي او د سر نه ئې تُوره لرې کړي نو د نړۍ د هر چا سره الوت کولی شي.

د پېښور جي ټي روډ سره د ځمکنو سره نزدې د سعودي عربستان د جدې په طرز جوړ 'انټرنيشنل هني مارکيټ' کښې د خپل وطن هر ډول معياري شات په مناسب

نرخ ملاوېږي. د مصنوعي جېمز نه ځان ساتل، شات د خپل امروزه خوراک برخه جوړول غذا او دوا دواړه دي.

د پښتونخوا د نوو ضلعو په ګډون د پښتونخوا د ټولې منطقې 147,000 مربع کلومیټره سیمې لاندې د معدنیاتو په شکل کښې د بیلینونو ډالرو پټې خزانې پرتې دي.

امریکه کښې مېشت پښتون جیالوجسټ ډاکټر عاصم ایسپزی په خپل کتاب 'افغانستان: فرام کولډ وار ټو ګولډ وار' (Afghanistan: From Cold War to Gold War) کښې د سیمې د معدنیاتو مرکزونه او مقدارونه یو اندازه ښودلي دي. وي او ای 'ډېوه' ته په یوه مرکه کښې وائي، د پښتونخوا په نوو ضلعو کښې لس زره میلیونه ټن ماربل، پینځۀ میلیونه ټن میګنیز، لس میلیونه ټن کرومائټ، یو اتیا میلیونه ټن کوئله، د پینځۀ دېرش نه تر پینځۀ پنځوس میلیونه ټن پورې کاپر، تانبا (تانبا په مائن کښې د پخېدو سره سرۀ زر هم ورکوي)، شپږ میلیونه ټن پوست کانې، دوه سوه میلیونه ټن جپسم، پینځۀ میلیونه ټن کوارټز او د سل میلیونو ټنو نه زیات ګرېنائټ پراتۀ دي.

خو د جیالوجسټ فاروق زمان د معلوماتو تر مخه دا شېرنه هم ډېره کمه او سرسري ده. بلکې حقیقت دا دی چې کوم ځۀ د نوو ضلعو په دغه غرونو او درو کښې پراتۀ دي نو ډېر په لوی کچ دي چې د دغه زېرمو دومره ډېر والي ته انسان ګوته په خولۀ پاتې کېږي.

د پښتونخوا یو بل جیالوجسټ شاکرالله خان وائي،

> "په چترال او ملاکنډ کښې د پینځۀ درجو (کېټېګریز) کانیزه ذخیرې دي چې په کښې تر ټولو ډېرې د ماربلو پنځوس قسمونه او د ګرینائټ نه علاوه لعلونه (جِم سټون) هم دي. په جِم سټون کښې ایمرلډ (زمرد)، ټوپاز (پکهراج)، ایکوا مرین او روبي (یاقوت) ډېر پرېوانه دي."

په کرک او لکي مروت کښې د یورینیم په لوی کچ ذخیرې پرتې دي خو د 'ډیفنس'

په نامه دغه خزانې بندې کړې شوې دي چې له کبله ئې د دغه قیمتي معدن د ګټې ځای په ځای اولس کښې د څرمن د کېنسر رنځ د خورېدو لامل ګرځي. دغه رنځ په دغه سیمه کښې په زیاتېدو دی.
زمونږ ځنګلې، د ښارو وساتلو هنر، د افغانستان په لار د منځنۍ ایشیاء پورې تلونکې تجارتي لارې بې اندازه ګټورې وسیلې دي خو پښتانهٔ لا په فکري جمود او پسماندګۍ کښې په حېث د قام ښکېل دي.
په پښتونخوا او ځانګړې توګه په نوو ضلعو کښې ډول ډول معدنیات قیمتي لالونه په لوی کچ پراته دي چې تېل او ګېس سره، تانبا، سرهٔ زر، یورینیم، ایکټونا لائټ، زبرجد، ایکوا مارین، روبي، لاجورد، یاقوت، زمرود، جسپر، نفرائټ، کرومائټ، سنګ مرمر، میګنیز، سوپ سټون، چائنه کلی، کنزائټ، لېتهیئم، اسپیسارټائن، سرپینټائن، یکوره، رانجهٔ، ګروسولر او بې شمېره د نړیوال مارکیټ څیزونه شته.
د دې ټولو خزانو سره پښتانهٔ د بدبختیو او بوږنوونکی فقر ښکار دي. د څلوېښتو کالو نه ئې خاوره د جنګونو مېدان دی. نړیوال د وسائلو نه پرته نورې ډېرې موخې دلته لري. د پښتنو ژوند ژواک رنځور دی. دا هر څهٔ بدبختی په خېر او ګټه بدلېدی شي خو قامي، سیاسي، تهذیبي او اجتماعي شعور غواړي. دا به کله وي؟ دا چې کله پښتانهٔ پرېکړه وکړي چې مونږ وړومبی د خپلې خاورې سیاست کوو، بیا د پاکستان او نورې نړۍ.
د پاکستان د غنمو په پېداوار کښې د خپلې کروندې د پاره د غوره نهري نظام په برکت اتیا سلنه برخه شل (20) میلین ټن پنجاب پېدا کوي. څهٔ ئې خاوره ډېره ده او څهٔ ئې سیاسي اجتماع، د سیندونو خوږې اوبهٔ په نهرونو کښې کروندګرو ته د پېرنګیانو او د پاکستان نه پس د پښتنو د اوبو نه پوره کړې دي.
په پښتونخوا کښې نږدې دولس (12) لکهه مېټرک ټنه غنم خپل پېدا کېږي او د صوبې ضرورت اتهٔ څلوېښت (48) لکهه مېټرک ټنه دی. د زرګونو کلونو نه د

پښتونخوا پهٔ خاوره سيندونه بهېږي خو زمونږ اويا سلنه (70%) برخه زمکه باراني ده. هغه د صاحب شاه شعر دی چې:

د صدو نه د سيندونو خوا کښې اوسو
خو زمونږ فصلونه اوس هم پهٔ باران دي

ځهٔ پښتانهٔ د کرونديې شوق نهٔ لري، پهٔ زميدارۍ ورته ځان سپک ښکاري او پهٔ پردي وطن کښې د پرې چاېږي مزدورۍ ته ښهٔ خوشحاله وي. کهٔ کوم پتې کري نو هم هغه د سلو کالو پهٔ پخواني دود -دغه راز د ځهٔ وخت نه د کرونديې جنتي خاوره د هاؤسنګ سوسائټيانو وېنو چڼ کړه. ځهٔ ستونزې مو پهٔ پاکستان کښې سياسي او د قامي حقونو د نهٔ ژغورنې نه پېدا دي او ځهٔ د پښتنو د خپلو نا اهليۍ نه. پښتونخوا صوبه کالو سر د غنمو پهٔ اړه زيات انحصار پهٔ پنجاب کوي. کهٔ زمونږ د زمکو اوبهٔ پهٔ جديد نوي نهري نظام تر سره کولو سره پوره شي، شمسي توانائي پکار را وستلې شي، جديد سائنسي کرونده خپله کړې شي، د شاړو او للمو زمکو نه د غلې هنر واخستلی شي نو د خپلو اړتياو نه زيات غنم به زمونږ خپله خاوره پېدا کوي. يوکرائن خپله کرونده سائنسي کړې ده نو د نړۍ د غنمو پهٔ لسو غټو هېوادونو کښې شمار دی. تېر کال پاکستان د خپل ضرورت اتيا سلنه (80%) برخه د غنمو ترې هم اخستې وه.

غرونه د يو قام پهٔ قدرتي شتمنيو کښې ډېر ارزښتناک وي ځکه چې ځنګلې، اوبهٔ، ځناور او ډول ډول معدنيات هم د غرونو پهٔ خېټو کښې پراتهٔ وي. د پښتنو د غرونو سره پهٔ غرونو کښې ژوند دی. عربي ادب کښې متل دی وائي؛ رَجَالُ الْجِبَالِ كَالْجِبَالِ (د غرونو خلک د غرونو پهٔ شان وي).

د پښتونخوا د غرونو لوی زنځير هندوکش دی چې د هماليه، قراقرم او پامير پهٔ لوېديځ کښې دی.

پښتانهٔ د غرونو او فطرت سره دومره نږدې خلک دي چې د هر غر د پاره ئې خپل خپل نوم ايښی دی. دغه نومونه ډېر خوارهٔ او تاريخي دي. د ډاکټر لياقت تابان د

څېړنې تر مخه پهٔ سوېلي پښتونخوا کښې 4,160 غرونه خپل ځانګړي نومون
لري.
پهٔ شمالي پښتونخوا کښې 1,130 داسې غرونه دي چې پهٔ خپلو نومونو نومولی شوي دي. د منځنی پښتونخوا او افغانستان د سيمې ټول غرونه هم پهٔ خپلو نومونو نومولی شوي خو لهٔ بده مرغه تر اوسه ټوله سرشمېره ئې نهٔ ده معلومه باید چې پهٔ دې هم څېړنه وشي.
د بي بي سي د يوې څېړنې تر مخه، د سوات نه تر وزيرستان پورې پهٔ غرونو کښې پښتانهٔ د 'يوې پيالې چاې' پخولو د پاره د شل زره روپيو قيمتي لرګي سېزي.
ډاکټر خادم حسېن د پښتنو د افغانستان پهٔ لور د تجارتي لارو پهٔ اړه ليکي،

> 'د پښتون وطن دوه ډېرې ګټورې وسيلې چې نوره دنيا کښې پرې د کلهم ملکونو سالم اقتصاديات ولاړ دی، د خشکی يا بري تجارتي لارې دي.'

د پښتون وطن د خشکی تجارتي لارې چې د انرجي وسيلو نه واخله تر فطري وسيلو او کلتوري تګ راتګ نه واخله تر مزدوريو پورې پهٔ ارزانه او اسانه اوړېدی راوړېدی شي. د کلکته او نيپال نه واخله تر پښتونخوا او افغانستان پورې او بيا مرکزي ايشياء، ترکيه، مشرق وسطي او بلې غاړې ته چين او روس پورې او بلې غاړې ته تر يورپ تګ راتګ کېدی شي. دغسې پښتونخوا نه تر مرکزي ايشياء، تر چين او روس او تر ترکيې او تر يورپ او تر ترکيې او تر مشرق وسطي دا لارې خورې دي. دا لارې دومره ګټورې دي چې پښتونخوا او افغانستان د پاره هر کال د کهربونو روپيو روزګار او تجارت جوړولی شي. دا ګټې هله خوندي کېدې شي چې دې ټوله سيمه کښې د امن اقتصاد وي او د جنګ او ترهګری اقتصاد نهٔ وي.
'چترال' تر ګلګت بلتستان تر اشکاشم تاجکستان – 'چمن' تر کندهار تر هرات تر ايران شهر تر کرمان تر تهران تر ترکي تر بلغاريه تر يونان – 'تورخم' تر کابل تر

مزار شریف تر ثمر قند تر تاشقند – 'تورخم' تر کابل تر هرات تر اشک اباد تر باکو تر آذربائیجان تر ارمینیا تر جارجیا – 'خرلاخي' تر خوست تر کابل تر مرکزي ایشیاء تر چین تر روس تر مشرقي یورپ تر مغربي یورپ – 'نیپال' تر انډین پنجاب تر واهګه لاهور تر تورخم تر کابل تر مرکزي ایشیاء تر چین، روس او په بله غاړه تر ترکي تر یورپ او په بله غاړه تر ګلف او تر مشرق وسطی.

د هندوستان په لور سوداګري چرې هم نه شي بندولې، ځکه چې هلته پنجابی سرمایه دار خپله پنګه کاروي خو د پښتنو تجارتي لارې هر وخت د سیاسي چاپېریال د اغېز لاندې وي، ځکه چې دلته زیاتره پښتانه سوداګري کوي او پښتانه د یویشتمې پېړۍ په سائنسي عصر کښې تجارتي مازغه ډېر کم لري.

د فکري شعور خورولو نه پس اصل انقلاب هغه وي چې د هغې په مرسته د یوې ټولنې سماجي اړیکې او Dynamics د بدلون په لور لاړ شي.

په اتلسمه پېړۍ کښې په نړۍ کښې صنعتي انقلاب راغلی. د هغې په نتیجه کښې خپلو اجناسو او خام مال موندلو د پاره استعماري خوي بوي سره د اولسونو استثمار هم لازم ؤ. کۀ عملاً اوس کوم هېواد ځوک د پښو لاندې کولی نۀ شي خو د سائنسي عصر په مرسته ئې د خپلو ګټو د پاره د نړیوالو بېنکونو په مرسته اقتصاد په خپلو منګولو کښې ساتي او وسائل ترې هم په خپله ولقه کښې اخلي. اصل جګړه د معیشت ده؛ دا نورې ټولې فلسفې د دغه اړخ نه تاوېږي. کارل مارکس وائي، د نړۍ د هرې شخړې شا ته حقیقي علت اقتصادي وي.

بد مرغي دا ده چې نړۍ دوه سوه کاله په تجارتي سائنس کښې لوی مزل کړی خو د پښتنو تجارت نن هم صنعتي انقلاب نه په وړاندې زمانه کښې ځانګې. د وطن د خان نواب نن هم ګزران د تجارت په ځای د پلار نیکۀ د پټي په خرخ ولاړ دی.

د کرک د تحصیل تخت نصرتي فقط په یو وېلج کونسل 'ګوډي خېل' کښې په 'واټر سائنس' کښې د نیو کلئیر سائنس اېنډ ټېکنالوژی لۀ خوا خوره شوې د یوې سائنسي خېړنې تر مخه اوولس کلومیټره د یورینیم یو اوږد 'سیم' یا 'رګ' په

زمکه کښې خور پروت دی چې اندازه ئې د سوونو ټنه په شمېر لګولې کېږي. داسې نور هم په تخت نصرتي کښې پينځۀ دېرش کلي په نخښه کړی شوي دي چې د يورينيم په خزانه پراتۀ دي. ځای په ځائی تر د لکي مروت پورې دغه خزانه شتون لري.

يورينيم په دې وخت کښې د اېټامک انرژۍ د پاره د مارکيټ د اوسني نرخ في کلو 414,285 ډالر يا په پاکستاني روپيو في کلو 7,871,4150 خرڅېږي. د بده مرغه دغه يورينيم د 'رياستي دفاعي اړتيا او اثاثې' په نامه تړلی شوي دي. عام اولس په کښې په خپله خاوره په دغه خزانه کښې هېڅ واک نۀ لري. رائلټي هم د دفاع په نامه نۀ ورکولې کېږي. په دغه خزانه د دفاعي ادارې ښامار پروت دی. د يورينيم تابکاري او خورېدل انسان وژونکي وي. د کرک دغه يورينيم هم د کرک په ټولو زمکني څښکلو اوبو کښې اثرات خوروي. دغه خزانه ځائي اولس د ګټې په ځای لکه د ښامار په خپله چيچي چې په نتيجه کښې ئې د څښکلو اوبو په ذريعه په عام اولس کښې ورځ په ورځ د کېنسر سره د څرمنې خطرناک رنځونه په تېزۍ سره په خورېدو دي. د کلو په سر اتۀ کروړه يورينيم په بدل کښې د کرک پښتنو ته يو ليټر پاکې اوبۀ هم نشته.

د کرک اولس چغې وهي، جلوسونه وباسي او جلسې کوي چې کۀ يورينيم نۀ راکوئ نو د څښکلو پاکې اوبۀ خو راکړئ کنه! فلټرېشن پلانټونه راته ولګوئ، روغتون خو راله راکړئ کنه چې د خپلو وګړو د کېنسر درملنه په کښې کېږي، خو هغه هم ورته نشته. د کرک نوي سلنه (90%) پښتانۀ تعليم يافته دي. د بده مرغه د اېف سي د مسافرو په نوکرو کښې په ډېره لږه تنخوا خپل ګزران کوي، ځکه چې د خپل جنت په خزانه کښې ئې برخه نشته.

کرک کښې اتيا سلنه (80%) وګړی خټک پښتانۀ دي. د 1982 پورې د کوهاټ يو تحصيل ؤ. اوس وخت کښې په درې تحصيلونو کرک، تخت نصرتي او بانډه داود شاه باندې د 3200 مربع کلوميټر او 734,365 وګړو باندې خوره ضلع ده. د زد کړو

CS CamScanner

کچه په ټولو پښتونخوا کښې 90 سلنه لوړه کچه ده. زمکه ئې زیاتره وچه شګلنه ده. کرونده په کښې ډېره لږه ده. د 2005 نه را په دې خوا په اوس وخت کښې په ټوله پښتونخوا کښې د قدرتي شتمنیو په اړه د ټولو نه زیاته شتمنه خو د بده مرغه د ټولو نه زیاته د پسماندګۍ ښکار سیمه ده. د څښکلو د پاکو اوبو ستونزه لري. هېڅ کوم مثالي روغتون نۀ لري. د وګړو زیات کار ژوند د ایف سي په څواک کښې وي. عام اولس ئې ډېر د غریبۍ سره مخ دی.

اوس به راشو د کرک قدرتي شتمنیو ته چې دا ضلع ټول پاکستان ته څومره ګټه ورکوي خو په خپله د اباسین په غاړه د تندې نه د مړۀ کېدو په مثال ده.

د ګېس او تېل څۀ اتۀ څلوېښت (48) کوهیان لري. نورې څېړنې په کښې رواني دي او وخت په وخت دغه شمېره نوره هم زیاتېږي. د امروزه په شمېر کرک پاکستان ته په اوس وخت کښې 25,890 بېرل اومۀ تېل ورکوي. دغه تېلو له د اوس وخت 90 ډالر في بېرل په کچه کۀ ضرب ورکړو نو کرک د ورځې په شمېر پاکستان ته څۀ د څلور څلوېښت کروړه اووۀ وېشت لکهه او نولس زره (442,719,000) روپیو تېل ورکوي چې د کال په شمېر دغه ورکړه یو کهرب او شپېتۀ اربۀ جوړېږي.

اوس به راشو د کرک د ګېس ورکړې ته. د ورځې په کچه چې څومره ګېس وېستلی شي نو هغه MCF 19605200 دی. د یو MCF مقدار 1032 کیوبک فټ برابر وي چې د هغې مالیت د پاکستاني کرنسۍ مطابق 47,974 روپۍ في MCF جوړېږي.

د قدرتي ګېس په مد کښې کرک پاکستان ته د ورځې په کچه نهه کروړه څلوېښت لکهه درې پنځوس زره نهه سوه شپږ اتیا روپۍ (9,40,53,986) جوړوي.

دغه شمېره د میاشتې په کچه دوه ارب، دوه اتیا کروړه، شپاړس لکهه، نولس زره پینځۀ سوه څلور نوي روپۍ (2,82,16,19594) جوړېږي او چې کال ته دغه حساب کتاب واړولی شي نو 33,859,435,332 جوړېږي.

34,302,154,344 یعني صرف د کرک ضلع پاکستان ته په کال کښې د درې

CamScanner

کهرب درې ځلو ښت ارب یوو ښت کروړ ځلور پنځوس لکهه درې سوه ځلور ځلو ښت روپۍ ورکوي.
اوس په دې کښې کرک ته د رائلټۍ په نامه تش لس سلنه (10%) برخه ورکولې کېږي. دغه روپۍ د سول انتظامیې، اسمبلۍ ممبرانو د بډو او درغلیو ښکار شي چې په نتیجه کښې ئې په کرک کښې په زمکه هېڅ هم نه ښکاري.
د آئل رېفائنریانې جوړول او مقامي خلکو ته په کښې روزګار ورکول لازم دي. دغسې شته سرکونه د کمپنیو غټو لارو ختم کړي. که د ټول کرک د پرمختګ خبره وکړو نو د ځښکلو اوبو نه تر روغتون او زدکړو ادارو د مثالي کولو د پاره لږ تر لږه دېرش اربه روپیو یوه پروژه دې اعلان کړې شي، ځائي خلکو ته دې ګېس کنکشن په ارزان نرخ ورکړی شي، د کرک نه دې د دوېمه سیوۍ (سوئي) جوړولو هڅې پرېښودې شي.
د کرک ټوله سیاسي نمائندګي د تېر لس کاله نه د پي ټي آئي په لاس کښې ده خو کرک په کښې تباه دی. کرک ژغورل او لکه د کوېټ مثالي سیمه جوړول د خپلو وسائلو په زور هم ممکن ده خو سیاسي نمائندګي او اولسي پاڅون او شعور ورله لازم دي.
د کرک ستونزې تش د کلو کوڅو د پخولو نه دي بلکې د اووهٔ لکهه پښتنو د ژوند ژواک او ښهٔ راتلونکي سوال دی. دې قامي سوال ته په قامي شعور ولاړ فکر ځواب وئیلی شي.
د پاک افغان ټرانزټ اخري تړون په اتهٔ ویشتم اکتوبر 2010 کښې د لس کاله د پاره په کابل کښې شوی ؤ. په یوویشتمه فرورۍ 2021 کښې دغه تړون ختم شوی. اوس هېڅ قسمه سوداګرۍ ته کوم نړیوال حېثیت نهٔ دی حاصل چې تر څو نوی تړون و نهٔ شي.
د 2002 نه تر 2012 پورې د افغانستان سره د 33 بیلین ډالر سوداګري شوې وه چې د کال په شمېر څهٔ د پاسه درې اربه ډالر وه. د دغه وخت نه پس چې په

افغانستان کښې منظمه بدامني روانه شوه، دغه کچه را ټيټه شوې ده. تر دې چې په 2021 کال کښې فقط د 37 کروړ ډالرو سوداګري وه.
د افغانستان په لور د سوداګرۍ د کمېدو يو څو بنيادي لاملونه وو: يو دا چې د جوړې کړې شوې بدامنۍ په نامه زياتره لارې وتړلې شوې. سوداګرو ته په تلو راتلو کښې د 'ويزې' په نامه سختي جوړه کړې شوه. تورخم د 'اين ايل سي' (National Logistic Company) په واک کښې ورکړې شو. د سوداګرو يو يو کنټېنر به لس لس ورځې د څارنې په نامه ودرولی شو. چې کله به سوداګر څنې مال منډۍ ته رسولو، هغه به سخا شوی ؤ.
د اين ايل سي نه وړاندې په تورخم به پينځۀ زره روپۍ باندې د يو کنټېنر کلېئرنس کولی شو خو دغه کار يو لاکه روپيو ته ورسولی شو. د غلا روپۍ په کښې نورې بې کچه وې. سوداګرو ته د بهتې په نامه دړکې ورکولې شوې. په کراچۍ کښې به د افغان سوداګرو مالونه په مياشتو مياشتو د کسټم په نامه ودرولی شول. نتيجه ئې دا شوه چې افغانستان ځان ته د منځنۍ اېشياء په لور د 'حېرتان بندر' او 'چاه بهار' د ايران د لارې کار واخستو. افغان سوداګر په دغه لارو مات شول او د پښتونخوا پښتانۀ د پنجاب، کراچۍ او دوبۍ په لور لاړل، ځکه چې سوداګر سړی خو خپله پنګه هر ځای ته وړلې شي.
او س حال دا دی چې په تورخم، غلام خان او چمن بې کچه رش دی. د سوادګرۍ دا مخه واپس هم راستنېدې شي خو شرط ئې دا دی چې د 'ناوا پاس' سره ځای په ځای لارې پرانستلې شي چې سوداګر په لږ وخت کښې په اسانه خپل مالونه رسوی. د اين ايل سي په شان قبضه مافيا دې د تجارتي لارو څخه لرې کړې شي، د 'وفاق' د قبضې په ځای دې د سوداګرۍ چارې هرې صوبې ته وسپارلې شي. دواړو خوا ته مېشت اولسونو ته دې د نړيوال اصولو تر مخه په دېرش کلوميټره کښې بغېر د ويزې د تګ راتګ اجازه ورکړې شي.
د ټرانزټ د پاره دې يو نوی تول عمري تړون جوړ کړی شي. مهمې لارې دې تولې

پرانستلې شي. سوداګري دې د سياسي اړي ګړي د لانجو نه وساتلې شي. ک
کابل او اسلام اباد کښې هر څوک وي خو اولسونه دې ازاد تجارت ته پرېښودلې
شي.
دا هر څۀ پۀ سوال نۀ کېږي. تېر کال ايمل ولي خان تورخم ته د پښتنو سره تلی ؤ
چې د افغانستان د لارو دا لانجه مخې ته بنه راشي. د باجوړ نه تر وزيرستان پورې
پښتانۀ ورسره وو خو پۀ لوارګي کښې ځائي خلکو پۀ حجرو کښې پيټاوي کولو.
د خپل ځان د پاره هم نۀ راوتل. حقونه داسې نۀ اخستلی کېږي.
د پرمختګ د پاره د يو قام د قامي وحدت سره اقتصادي او جغرافيائي شناخت
هم ضروري وي. چې جغرافيه يوه وي نو هغه قام وي خو چې جغرافيه ماته وي نو
د هغه قام پۀ قامي حافظه کښې هم ستونزې وي. لکه څنګه چې د پښتنو جغرافيه
پۀ پينځۀ ځايه وېشلې شوې وه.
کله چې پېرنګيان پۀ دې خاوره وو نو هغوي کۀ د خپلو سامراجي موخو د پاره د
دې خاورې ځېښناک او استحصال ته هم کار وئيلی ؤ خو بل خوا ئې پۀ زمکه د
باچاهۍ پۀ صفت څۀ نه څۀ کارونه هم کول. يو پۀ کښې هندوستان ته د سيندونو
څخه جديد نهري نظام ورکول وو.
د پاکستان جوړېدو نه پس د پنجاب غټ غټ زميندار د پېرنګيانو د وفادارۍ نه
پس د پاکستان وفادار شول. د خپلو زمکو د اوبۀ خور د پاره ئې شته نهرونه هم
سم وساتل او نور نهري نظام ته ئې هم پام کولی شو.
باچا خان او خدائي خدمتګار چې د سياسي غږ مزاحمت ئې کولو، پاخۀ زندانونو
ته واچولی شول. قام د مانکي پيرانو او د پېرنګي تالي څټ مسلم ليګيانو ته
پاتې شو. د حقونو د غږ ئې څوک نۀ وو او خبره دې وخت ته را رسېدلې چې پۀ
پښتونخوا وطن کښې دومره شاړې زمکې موجودې دي او د فصل د پاره تيارې
دي چې ګټه اخستل ترې ډېر اسان دي. کۀ دغه زمکو ته نهري نظام جوړ کړی شي
نو پۀ کرونده کښې به د پښتونخوا جنتي خاوره د خپل ضروت سره بهر نړۍ ته هم

د ورکړې جوګه شي. بونېر، سوات، باجوړ، مومند، خېبر، کُرمه، وزيرستان او داسې د کوهاټ نه تر ډېره اسماعيل خان پورې کۀ دا ټوله زمکه او داسې پۀ صوابۍ، مردان، چارسده، مانسهره کښې هم ډېرې زمکې شته. کۀ زاړۀ نهرونه پراخه کړی شي او نوی جديد نهري نظام راوړلی شي، د اوبو آئيني منلې شوې برخه تر لاسه کړو نو پس زمونږ د صوبې کفالت کولی شي.

پۀ پښتونخوا کښې پۀ اوس وخت کښې څۀ 258 د اوبۀ خور يا اېرې ګېشن سکيمونه لويې ورې ماتې ګوډې پروژې روانې دي، پېسه پرې لګي خو د اوبۀ خور د پاره کار آمد کولې نۀ شي. جوړ شي او بيا شاړ پراتۀ وي. څۀ وخت پس ختم شي. کۀ دغه لوي واړۀ د غرونو پۀ چړونو کښې بندونه جوړ کړی شي نو هم پوره کار کولی شي.

پاکستان کښې د اوبو د وېش د مرکزي ادارې 'ارسا' (Indus River Water Authority) د کال 1991 د تړون پۀ حساب چې د اوبو کوم وېش شوی، د هغې تر مخه تر نن پورې پښتونخوا ته پوره اوبۀ نۀ تر لاسه کېږی. پۀ يويشتمه مۍ 1991 چې کوم ناروا د آبي وسائلو ظالمانه پۀ ملکي کچ تړون شوی، نۀ د پارليمنټ مشترکه اجلاس ته وړاندې شوی او نۀئې منظور کړی. بايد چې نوي چاپېريال او د اوبو د پېداوار پۀ اوسني اساس دې د اوبو يو نوی تړون اعلان کړی شي او پۀ شپږ مياشتې کښې دننه دننه دې عملي هم کړی شي.

احمد کريم کنډي وائي:

"سندهـ ته د ګرم موسم لۀ امله اوبۀ پوره تر لاسه کېږي او د پښتونخوا بد مرغي دا ده چې د صوبې پۀ خپله برخه کښې درې مليونه ايکړه اوبۀ پنجاب او سندهـ صوبو ته پۀ مفتو کښې روانې دي. د 1991 د اوبو د تړون نه را پۀ دې خوا پۀ ډېرش کاله کښې زمونږ څۀ د شپږ سوه (600) اربه روپيو اوبۀ پۀ مفته کښې نورو صوبو وڅښکلې. د دې لوی علت پۀ صوبه کې د کېنال (د نوي نهري نظام) نشتوالی دی. د کومو

کېنالونو لوظ چې په 1991 کښې شوی ؤ، په نورو صوبو کښې دغه کېنالونه زیاتره جوړ شوي او یا جوړېږي خو د پښتونخوا په 'لفټ چشمه کېنال' باندې تر اوسه کاغذي کاروائي قدر له نشته. د 'ارسا' تر مخه د پښتونخوا د اوبو آئیني برخه 8.87 میلیون ایکړ فټ وه خو د نهري نظام د کموت له کبله د پښتونخوا درې میلیونه ایکړه فټ اوبه داسې دي چې هغه نورې صوبې د قیمته پرته کاروي. دوه دېرش (32) لکهه کنال زمکه به اوبه خور شي خو دې کښې هم زیاتره د پنجاب به وي. ځکه چې دغه نهري نظام به پنجاب ته وځي.

د پاکستان د چارواکو له خوا د منلې شوې شمېرې تر مخه د اټک د پل لاندې 93 میلیون ایکړ فټ اوبه د پښتونخوا وطن د لورې پنجاب ته ځي چې دا د پاکستان د ټولو خوړو اوبو 142 میلیون ایکړ فټ اوبو 65 سلنه برخه جوړوي. دغه راز دا مهم ده چې د اټک نه لاندې هم د پښتونخوا وطن نورې اوبه د پنجاب په لور خي چې د پښتونخوا وطن د اټک تر پله لاندې 12,050 کیوسک اوبه اباسین ته ورکوي.

د پښتونخوا اوبو په اړه بله ناشنا خبره دا ده چې د کشمیر د سر درو نه راوتی د پنجاب په لور د جهلم سیند د نیمو اوبو سرچینه هم د پښتونخوا غرونه دي. د کنهار او نیلم سیندونه د پښتونخوا د غرونو نه راوځي او په جهلم گډېږي. د جهلم په اړه دا تصور ناسم دی چې گنې دا خالص د پنجاب سیند دی. د اوبو د تړون تر مخه پښتونخوا د دغه اوبو هم قیمت غوښتی شي.

د اباسین په اوبو د پنجاب، سنده او بلوچستان زراعت، صنعت او ټول ښارونه ودان دي. د پاکستان د ستر تجارتي ښار کراچۍ د څښکلو اوبه هم د پښتونخوا د اباسینه دي. اوس د غازي بروتها په شکل کښې د راولپنډۍ او اسلام اباد د پاره هم اوبه د اباسین نه ورکولې کېږي.

د بلوچستان په ټوله 33,015 میلیون ایکړ قابل کاشت زمکه کښې 4,050 میلیون

اېکړ زمکه اباده او 27,065 میلیون اېکړ قابل کاشت زمکه شاړه ده چې ټوله قابل کاشت غېر اباد زمکه ئې 86% (شپږ اتیا سلنه) شاړه ده. دا د پښتنو او بلوڅ دواړو قامونو ګډه زمکه ده.
د شمالي پښتونخوا په ټوله قابل کاشت 6,055 میلیون اېکړ زمکه کښې 2,012 میلیون اېکړ زمکه اباده ده. 4,043 قابل کاشت زمکه غېر اباده او شاړه ده. یعني قابل کاشت زمکه ئې اتهٔ شپېتهٔ سلنه (68%) شاړه غېر اباده پرته ده.
د پنجاب په ټوله قابل کاشت 23,035 میلیون اېکړ زمکه کښې 20,078 میلیون اېکړ زمکه اباده او 2,057 میلیون اېکړ زمکه ئې غېر اباده ده. یعني په ټول پنجاب کښې یوولس سلنه (11%) برخه زمکه غېر اباده او شاړه ده چې هم د اټک او میانوالي زمکه په کښې شمېر ده. د سنده په ټوله قابل کاشت 1,653 میلیون اېکړ زمکه کښې 1,282 اباده او 21 میلیون اېکړ غېر اباده ده. یعني شل سلنه (20%) برخه قابل کاشت زمکه ئې شاړه ده.
پخوانی سنېټر رضا محمد رضا د پښتونخوا وطن د اوبو د شتمنۍ په اړه لیکي:
د پښتونخوا وطن مساحت.
شمالي او منځنۍ پښتونخوا: 101,741 مربع کلومیټر
جنوبي پښتونخوا: 69,252 مربع کلومیټر
اټک او میانوالي: 20,312 مربع کلومیټر
ټوله پښتونخوا: 191,305 مربع کلومیټر
بره پښتونخوا: 650,000 مربع کلومیټر
پښتونخوا افغانستان سره ګډ ټول پښتونخوا وطن 831,305 مربع کلومیټر خاوره جوړېږي چې د اوسني پاکستان نه شل برخې په جغرافیائي توګه زیات دی. پښتونخوا وطن د زمکې د "کرۍ" په بام اوچت واقع دی او د هندوکش، پامیر، هندو راج، سپین غر، بابا غر، کسي (سلېمان) غر، تورغر، پېروز کوه رنګه لوړو غرونو باندې په ژمي واورې او په اوړي بارانونهورېږي چې له کبله ئې په ځلورو

خو او مست او ځپاند سیندونه او بهاند خوړونه بهېږي چې بیا ئې ځنې په لوړ اباسین، ځنې په لوی امو او ځنې په لوی هلمند کډ ېږي.

د پېرنګيانو نه پس د 1970 پورې په پاکستان کښې د اوبهٔ خور د پاره څهٔ ځلوړ زره کلومیټره نهري نظام او 'بېراجونه' جوړ کړی شوي چې زیاتره په پنجاب کښې دي. په نهرونو کښې څهٔ یو لاکهـ کیوسک اوبهٔ په کښې ځائېږي خو د بده مرغۀ په پښتونخوا کښې یو کلومیټر نهر هم په نوي بنه ګټور کړی شوی نهٔ دی.

پښتونخوا له د خپلو اوبو په برکت غټ غټ نهرونه ورکول پکار وو خو ځلوېښت کاله وړاندې د 'چشمه لفټ کېنال' په نامه یوه وړه منصوبه ورکړې شوه چې په هغې کښې هم د ډېره غازي خان د پاره اوبهٔ ورکول مقصد وو او کرک، بنو، لکي مروت، وزیرستان او کوهاټ پرېښودلی شوي. خو دغه پروژه هم شنډه وګرځولې شوه. په 1981 کښې د یو انټر پراونشل (پښتونخوا او پنجاب) پراجېکټ لاندې دغه د 'چشمه رائټ بېنک کېنال' وړه منصوبه جوړه کړه چې صرف 4,870 د کیوسکه اوبهٔ ځای کولې شي. حالانکې چشمه جهلم لنک کېنال 22,000 کیوسکه اوبهٔ پنجاب ته اړوي. استعماري واکدارانو د چشمه رائټ بېنک دا وړه منصوبه هم داسې ډېزائن کړه چې د پښتونخوا د ډېره اسماعیل خان ډېره لږه زمکه سېراب کوي او نورې اوبهٔ د پنجاب ډېره غازي خان ته به ځي او دغه وړه منصوبه هم نیمه خوا پرته ده.

د اباسین په اوبو جوړه غازي بروتها منصوبه باندې 200 اربه روپۍ د قامي مشترکه خزانې خرڅ شوې. د زرګونو کلونو نه د اباسین قدرتي لار د پنجاب د شاړو زمکو سمسور کولو د پاره د نړیوال قانون په ضد په بل لور واړولې شوه. اباسین ټول په بډه کړی شو. د بروتهې بجلي ګهر د اباسین په اوبو 1,450 مېګا واټه بجلي پېدا کوي خو د ملکیت حق ئې پنجاب ته ورکړی شوی دی. پنجاب او سندهـ ته خو اوبهٔ ډېرې دي خو د نهرونو لښتو د نهٔ پخوالي له کبله د 'زیم' سره مخ دي.

د پاکستان پارلېمنټ پهٔ 2003 کښې د سېنېټر نثار مېمن پهٔ مشرۍ کښې يوه پارلېماني کميټي جوړه کړې وه چې پهٔ ملک کښې د اوبو د مسئلې تفصيلي جائزه واخلي او پارلېمنټ ته خپل رپورټ وړاندې کړي.
دې کمېټۍ پهٔ خپل رپورټ کښې ثابته کړې ده چې د پاکستان نهري نظام سل کاله زوړ دی او دا وخت د پاکستان نهري او اېريګېشن نظام کښې د لويو نهرونو او د هغو د شاخونو اوږدوالی 156,338 کلومېټره او د وړو شاخونو او لښتيو اوږدوالی 48,852 کلومېټره دی. کمېټۍ د ټول نهري نظام د پخولو سفارش کړی ؤ خو کوم عمل پرې و نهٔ شو.
ای اېن پي د زمانو راهسې پهٔ هر فورم غږ پورته کوي چې د آئين د آرټيکل 2/161 لاندې د بجلۍ خالص منافع حق، آرټيکل 3/182 لاندې د تېلو او ګېس پهٔ ذخيرو د شراکت او مساوي ملکيت حق، آرټيکل 158 لاندې د ګېس د وړمبي استعمال حق، د آرټيکل 1/161 سره سم پهٔ خامو تېلو د اېکسائز ډيوټۍ حق دې صوبو ته ورکړی شي خو د بده مرغه د وفاقيت پهٔ نوم د مرکزيت بالادستي د يو بل بنګال جوړولو سبب ګرځېدې شي چې د دې نه ډډه پکار ده. حقونه ورکول د آئين لاندې د پښتنو حق دی. هر چا له دې ته سرنډر کېدل پکار دي.

# قلمي خونه

پښتانهٔ پهٔ غرونو او دښتو کښې ولاړ د خپلې خاورې د يو ډېر ارزښتناک بوټي خونهٔ د کتو نه لا نهٔ دي خبر. د پښتونخوا د جغرافيې اويا سلنه برخه غرونه دي کهٔ د غرونو پهٔ ځنګل کولو کښې دې وسيلې ته پهٔ رياستي او اولسي کچ پام را وګرځولی شي نو پينځهٔ کاله کښې به د پښتونخوا ټول غرونه ځنګل هم شي او ورسره به د اقتصاد يوه غوره وسيله هم جوړه شي. د خونهٔ پهٔ بوټي خدای پاک پهٔ خپل کلام کښې قسم خوړلی دی.
د پاکستان پهٔ شته ځنګلو کښې چې اوس 4/8 برخه خاوره باندې پاتې دي، اويا سلنه برخه د ځنګلونو پهٔ پښتونخوا کښې ده. د ځنګل دا وسيله زمونږ د جنتي وطن يوه فطري وسيله ده چې د ډول ډول ژويو، مرغانو، ميوو، اوبو، سپلګرئ او قيمتي لرګو نه ډکه وسيله ده. کله چې پاکستان جوړ شو نو د ځنګل برخه درې دېرش سلنه (33%) وه خو شته بوټي تباه کړی شي او نور څهٔ سائنسي پروژه ورله نشته. ځکه د پښتونخوا وسيله تش د لوټ کولو د پاره ده، د بچ کولو زياتولو د پاره نهٔ. د ځنګل وسيله د پښتنو ده نو ځکه چې اور پهٔ کښې ولګي نو د وژلو د پاره ئې هم کوم سائنسي چټک ګامونه نهٔ وي. د سربني افغان صاحب د سېټلائټ د لارې اخستلی شوي انځورونو د څېړنې تر مخه، پهٔ تېر شل کاله کښې د فوجي اپرېشنونو پس د پښتونخوا د غرونو پهٔ ځنګلونو کښې دېرش سلنه (30%) کمی راغلی دی. دغه راز پهٔ زر کلوميټره اوږدو کښې د ډيورنډ پهٔ کرښه چې کوم ازغن تار کش کړی شوی دی، دغه پروژه هم زمونږ د ځنګلونو د چور تالان منظمه دسيسه وه چې پهٔ لوی کچ پهٔ کښې ځنګل د منځه يوړلی شوی.
دا دېرش سلنه کمی پهٔ ځنګلونو کښې څنګه راغی؟ پهٔ غرونو کښې څوک توپک پهٔ لاس ناست دي؟ د دې سيمو غرونه چې پهٔ چهاونۍ بدل شوي، ځائي اولس ترې هم کډوال کړی شوي، ځنګل چا يوړو؟ دا عمل څنګ تر سره شوی؟ بايد چې

دا د قامي سوال برخه وي.
د خونۀ بوټي سائنسي نوم Elaeagnus Angustifolia دی. د لاچي د مضر بوټي په ځای زېتون وکرئ؛ دا خاوره خدای لاچی له نۀ، د خونۀ په شان خپلو قیمتي بوټو له جوړه کړې خو مونږ ورسره ظلم کوو.
دا یو طبي بوټی هم دی چې د مېوې سره پاڼې ئې هم طبي خواص لري. تر دې چې کۀ کیمیائي عمل نه تېر شي نو توري چاې ترې هم جوړېدې شي.
د بده مرغه پښتانۀ دا د سرو زرو بوټی چې زر کاله عمر لري، په خپل شته کېس کښې د بې برخې کېدو د لاسه په نغري کښې په کتوی پسې سېزي. قلمي خونۀ سل کاله عمر لري. د اټلي او سپېن بوټي ښۀ ګټور دي.
پښتونخوا کښې د ځنګلي خونۀ 'زېتون' څۀ اووۀ کروړه اونې دي. دې کښې څۀ څلور کروړه بوټي صرف په نوو ضلعو کښې دي، یو کروړ لس لکهه بوټي په باجوړ کښې، دېرش لکهه په مومندو، څلوېښت لکهه په اورکزو، یو کروړ په خېبر او کُرمه کښې او څۀ یو کروړ په سوېلي او قطبي وزیرستان کښې دي.
د زېتونو د بوټو کچه زمونږ په ځنګلو کښې څۀ شل سلنه ده. نختر او د دې جنس دېرش سلنه (پینځۀ سلنه) چلغوزي، دېرش سلنه سېږی او باقي نور بوټي دي.
د خونۀ دا ټول بوټي په اوس وخت کښې د سائنسي څېړنې په برکت په قلم لګولو سره 'مېوه دار' کېدی شي. دغه تجربه کامیابه ده. ما په خپل غر کښې هم بوټي قلم کړي خو عمومي پام ورته نشته چې لۀ کبله ئې په ټولو نوو ضلعو کښې تر اوسه فقط درې لکهه بوټي قلم کړی شوي دي.
دغه راز د خونۀ بوټي د پاره د پښتونخوا د غرئیزو سیمو هوا او اوبۀ ډېر برابر دي. اوس وخت جوړ شوی د 'زیتون' سائنسي بوټي هم ډېر کامیاب دی. په پښتونخوا کښې اووۀ لکهه ایکړه زمکه په لوړو سیمو کښې داسې ده چې د زېتون باغونو لګولو د پاره ډېره موزون ده. ځکه دا بوټی په غرونو کښې ښۀ کېږي او د پښتونخوا اویا سلنه برخه خاوره غرئیزه ده. دغه راز د قلمي زېتون باغ په

پټو او پولو لګول هم ممکن دي ځکه چې پېنځلس فټه لرې والې کښې بوټي کرلې شي نو کرونده هم په کښې کېږي. يو بوټي چې ښۀ بار شي نو د دېرش نه پنځوس کلو پورې مېوه او د کلو پۀ سر دوه سوه ګرامه تېل هم ورکوي. مارکيټ کښې پۀ درې زره کلو دي خو چې پۀ يو نيم زر ئې هم باغوان خرڅ کړي نو د پېنځۀ سوه بوټو د باغ نه پۀ کال کښې څلوېښت لکهه روپۍ نغدېږي. بل د بوټي خوارې هم کمه ده. وچکالۍ ته ټينګ وي، رنځ ورته کم لګي، او بۀ کمې غواړي. بل لوري ته کۀ مونږ وګورو نو پۀ نړۍ کښې سپېن د ټولو زيات 45 برخه د زېتون تېل توليدوي خو د سپېن پۀ څلور نيم لکهه ايکړ زمکه د زېتون باغونه دي. کۀ چرته د پښتونخوا د زېتون د پاره پۀ موزون نيمه خاوره هم د زېتونو کرونده وشي، شته ځنګلې بوټي قلم شي نو دې وخت کښې ټول پاکستان د خپلو خوراکي تېلو پېنځۀ اويا سلنه برخه د بهر نه را غواړي، درې سوه اربه سرمايه پرې بهر ته ځي؛ دغه اړتيا به هم خپله پوره شي، بلکې بهر ته به پښتونخوا د دې جوګه شي چې دغه تېل ورکړي او پۀ ممکنه توګه به تر درې سوه اربه روپيو ګټه هم د کال پۀ سر تر لاسه شي.

د يو هېواد د پاره د موسمي اثراتو نه د بچ کولو د پاره لازم وي چې د خاورې پۀ 25 سلنه برخه ئې ځنګل وي. د پاکستان د ټولې خاورې ځنګل چې 4,224 ميليون ايکړ خاوره جوړېږي، پاکستان د نړۍ پۀ کچ د ځنګلو پۀ ختمولو کښې پۀ دوېم نمبر دی. د اقليمي بدلون (Climate Change) د اغېز لاندې هم ځکه دی او پۀ هغه اووۀ هېوادونو کښې هم شمار دی چې د اقليمي بدلون د بد اغېز د بارانونو د کم والي سره نېغ پۀ نېغه مخ دی. د هند پۀ 23% برخه ځنګل دی او دغه کچه نوره هم زياتولې شي. د هند سره پۀ جنګي وسائلو، فوج او اېټم کښې خو سيالي کولې شي خو د انسانانو او چاپېريال د ښېګړې پۀ داسې کار کښې بيا د چا ايمان نۀ وي.

پۀ لوېديځ کښې هېوادونه د بوټو پۀ اړه دومره بېدار دي چې پۀ پلازو کښې هم د

بوټي راوستل لګول لازم بولي.
پاکستان کښې هر کال 67,500 ایکړ ځنګل په غیر قانوني توګه ختمولی شي. د کال لس کروړه اونې لګولی شي خو د پام نه کولو له کبله زیاتره کال پس بیا نه وي. د ځنګلونو شبکه تش پیتاوی کوي. دوي چرته یو غر هم ځنګل نه کړو.
د ځنګل په اړه د پښتونخوا جنت وطن خدای مور پېدا کړی. د ځنګل وجود فطري دی، ځکه د جنت تصور هم د ځنګل په تخیل ولاړ دی. د پښتونخوا څه په پینځلس سلنه (15%) برخه خاوره ځنګل دی. د زیارت په شان صنوبر د نړۍ په سر دوېم نمبر لوی ځنګل هم لري. دغه کچه د پاکستان د ځنګل څه اویا سلنه (70%) برخه ده. د حکومتي څېړنې تر مخه پښتونخوا صوبه کښې د ځنګل خوندي علاقو رقبه پینځلس لکهه څلور شپېتهٔ زره (1,564,000) ایکړه ته رسېدلې ده. دا رقبه د پښتونخوا د ټولې رقبې قریباً پینځلس سلنه برخه جوړېږي.
په تېر وخت کښې د حکومت له اړخه د 'بیلین ټري سونامي' په نامه د ځنګلونو زیاتولو هڅه وه خو د بده مرغه دغې هڅې هسې نمائشي بڼه اختیار کړه او په زمکه ئې هېڅ کوم بدلون ښکاره نه شو. زیاتره به د چورلکو (هیلي کاپټرو) نه تخمونه شیندلی شول. په لوی کچ په دغه پروژه کښې هم درغلي شوې ده چې د سنجیده احتساب غوښتنه ئې کېږي.
سائنس پوهان وائي چې یوه اونه په کال کښې شپږ ټن کاربن ډائي اکسائیډ جذب کوي او اووهٔ ټنه آکسیجن خارج کوي. دغه راز وخت په وخت د بارانونو هم لامل ګرځي.

# د لاچې بوټو نه پښتونخوا ژغورل پکار دي

دا بې خونده بوټی په آسټرېليا کښې د جبو زمکو د پاره نال کړی شوی ؤ. څ
څلوېښت کاله وړاندې دا عذاب د حکومت په مرسته راوړلی شو، ځکه چې دا
بوټی نه خطا کېږي او زر اونه کېږي چې له کبله ئې د ځنګلونو د محکمې په کښې
په اربونو روپيو کمېشن په اسانه جوړېدو.

د اونو بوټو پوهان وائي چې د پښتونخوا خاورې د پاره دا دشمن اونه ده، ځکه
چې په يوه ورځ کښې د زمکې نه سل ليټره اوبه څښکي، درې سوه ميټره خواوشا
زمکې نه اوبه راکش کوي، په پاڼو کښې ئې زهرژن اثرات وي، ځکه په کښې
مرغۍ 'ځاله' هم نه جوړوي. دا بوټی د اوبو سره د حياتياتي تنوع هم دښمن دی.
سيورى قدرې ئې نه وي چې څوک ورته کښېني. يو سپېره بوټی دی. زمونږ بد
مرغي دا ده چې د نختر، سرف، سروې، څېړۍ، چلغوزو، خونه، غوزان اکوړ،
ډمبره، توت، بکيانه، شبوه، چينار، ګورګرو په وطن کښې د پاکستان د
ځنګلونو محکمې دا زهرژن بوټی په هر غره،پټي او لوړه ژوره کښې خور کړو.
زمونږ پښتانه ئې په دې خوښ وي چې خشاک له زر زر وهلی شي خو بل خوا د يو
څو روپيو د پاره د راتلونکي وخت تباهي ده. په تېر وخت کښې د پي ټي آئي له
خوا د 'بيلين ټري سونامي' په ډرامه کښې څلور نيم کروړه فقط دا بلا کرلې شوې
ده. د لاچې د تباهۍ يو مثال د بوټو پوهان د پښتونخوا د 'ګمبېلا سيند' وچوالی
ښائي. چې کله د دغه سيند په غاړه د دې بوټو ځنګل نال شو، هغه سيند ئې ټول
وڅښکلو. بايد چې د پښتنو سياست مدار په اسمبلۍ کښې د دې د پاره غږ
پورته کړي چې دا بوټی ختم کړی شي او د دې په ځای په غرونو کښې زمونږ د
خپل چاپېريال غوره قيمتي بوټي وکرلی شي او په دشتو پټو کښې د بېرې او
پلوسې په شان اونې وکرلې شي چې هم چاپېريال دوست وي او هم د شاتو د
مچيو د پاره خوراک وي. د لاچې بوټی د وېخ نه وباسئ او په سټه ئې تېزاب
واړوئ.

## د افغانستان سره تړلې لارې

د زمانو نه انسانان د تجارتي راکړې ورکړې سره اشنا دي خو پخوا چې د تګ راتګ د پاره سرکونه ګاډي او الوتکې نۀ وې نو د تجارت زیاتره اډانه به د ښارو پۀ لویو لویو 'جوپو' ولاړه وه. د سمندري تجارت ارزښت هم ډېر لږ او ډېر کم به تجارتي مالونه د دغه وسیلې پۀ برکت وړلی شول.

خو پۀ اتلسمه پېړۍ کښې د صنعتي انقلاب سره پۀ نړۍ کښې د تجارت وده ډېره شوه. د نوو نوو تجارتي مالونو د پاره نوې منډۍ او هغې ته مالونه رسول د تجارت د پرمختګ لوی لامل شو. سړکونه، ګاډي، الوتکې، اور ګاډي او هم دا راز د سمندر د لارې تجارت تۀ وده ورکړې شوه او د براعظمونو تر منځ تجارتي کړۍ جوړې شوې.

پښتنه تولنه چې پۀ قبائلي دوره کښې ډېره ښکېل پاتې شوې، خو بیا هم د پښتنو وطن د نړۍ پۀ سر پۀ جغرافیائي موقعیت کښې پۀ داسې ځای پروت دی چې کۀ یو اړخ ته ورته ایران، چین او هندوستان پۀ ګاونډ کښې دي نو بل خوا ورته پوله پۀ پوله د منځنۍ اېشیاء پۀ شان پۀ قدرتي وسیلو او تجارتي توکو ښېرازه سیمه هم پرته ده.

د یو قام د پېژندګلو او تعریف پۀ اړه پوهان د ډېرو مهمو توکو سره اقتصادي او معاشي شراکت لازم بولي. یعني د انسانانو یو تولی به هله د قام پۀ 'تعریف' پوره وي چې د دغه قام دننه تجارتي شریکې اړیکې وي. کۀ چرته د یو قام د جغرافیې دننه دغه تجارتي شراکت نۀ وي نو د قام وجود به پۀ خطره کښې وي. د پېړیو پېړیو راهسې د پښتونخوا وطن خلک د منځنۍ اېشیاء او د افغانستان د لویو ښارونو سره د باجوړ نه واخله تر د پښتونخوا د هر ښار پورې پۀ دغه تجارتي اړیکو کښې بوخت پاتې شوي دي. د پېښور ښار، د هندوستان او منځنۍ اېشیاء د تجارتي مالونو او سوداګریو یوه ستره منډهي او دمه ځای ؤ. کۀ چرته د

هندوستان د وېش نه پس د پېښور دغه تجارتي ارزښت په پام کښې نيولی شوی وی او د افغانستان او شوروي اتحاد سره د ترينګلتيا په ځای ښه راشه درشه او سياسي باور ټينګ کړی شوی وی نو نن به پېښور د نړۍ په سر د تجارت په سترو ښارونو کښې شمار وی. پاکستان ته به ئې هم لويه ګټه وی او پښتنو ځوانانو نه به د کور مخې ته د تجارت يو ستر مرکز هم پروت وی. د کراچۍ، لاهور، دوبۍ او عربستان د نورو هېوادونو د مزدورو د کړاوونو نه به خلاص وی خو د بده مرغه د پښتنو د وطن دغه جغرافيائي مقاميت د دوي د خېر ښېګړې په ځای د دوي د بربادولو د پاره وکارولی شو او دغه سلسله لا تم نه ده. هم دغه راز دا لارې په دوامداره توګه بندې ساتل په حقيقت کښې د پښتنو قاميت د اقتصاد په تبر ماتول دي ځکه چې تجارتي تګ راتګ يوازې د يو قام د ننه تجارت نه وي بلکې په حقيقت کښې هره ورځ د خپل منځ ټولنيز چاپېريال نه خبرېدل، مړی ژوندی، خپلوي او ټولې سماجي اړيکې ټينګول په کښې راځي. د باجوړ نه تر بولانه د پښتونخوا وطن په سينه د يوې څېړنې تر مخه 335 لويې وړې لارې د تجارت او تګ راتګ د پاره لرلې. صرف شپږ ويشت (26) لارې خو په باجوړ کښې وې چې د 'ناوا پاس' په شان تاريخي لار هم په کښې وه – خو د پاکستان نه پس دغه زياتره لارې کنډاوونه بند کړی شول او اوس صرف شپاړس لارې ساتلې شوي دي. په دغه شپاړس لارو کښې هم يوولس (11) په مکمل توګه بندې او پينځۀ (5) کله بندې او کله پرانستې وي چې په نتيجه کښې ئې د پښتنو د زرګونو کالو د تجارت وسيله ختمه شوه او دغه راز د پښتنو د اقتصاد د ملا تير مات کړی شو او دوي په خپله خاوره د غريبۍ او بې روزګارۍ سره مخ کړی شول او د پردو وطنونو د مسافرو په لور د وطن نه وکوچولی شول چې دا يوه ارادي سياسي دسيسه ده چې مقصد ئې دا ؤ چې د پښتنو د خپل وطن د ابادۍ نه پام واوړي او په خپله خاوره بې واکه کړی شي.

د افغانستان سره د تجارتي لارو بندېدل د لر او بر پښتنو يوه قامي ستونزه ده. د

بده مرغه دغه قامي مسئلې د پښتنو په اجتماعي حافظه کښې هغه شان ځای نه دی نیولی چې څومره پکار ؤ، ځکه چې پښتانهٔ په داسې کړاوونو اخته کړی شوي چې ورومبی ورسره د خپلو سرونو غم دی. د عوامی نېشنل ګوند لهٔ خوا پهٔ دې مسئله وخت پهٔ وخت غږ کولی شي خو نور هغه ټول پښتانهٔ سیاسي او مذهبي مشران چې ووټ ورله هم دا پښتانهٔ ورکوي، لاتعلق دي او د پښتنو د ستونزو نه پرته د نړۍ پهٔ هر غم ککړ وي ځکه چې د هغوي مفادات او روزګارونه د اټک نه پورې غاړې ته وي.

پهٔ لسم د مارچ (2021) پهٔ لواړکي خېبر کښې د عوامي نېشنل ګوند لهٔ خوا د دې بندو لارو د پرانستلو د پاره د یو اولسي غبرګون تابیا شوې وه چې دا یو ډېر مناسب ګام ؤ خو باید چې د دې غبرګون سره عوامي نېشنل ګوند پهٔ هر هغه ځای کښې هم داسې غبرګون اعلان کړی کوم ځای کښې چې دغه تجارتي لارې بندې کړې شوې وي چې د باجوړ 'ناوا پاس'، د دیر 'بن شاهي'، د مومندو 'ګوسړۍ' د کُرمې 'تري منګل' او تر 'انګور اډه' او 'غلام خان' پورې لارې پهٔ کښې شاملې دي. هم دغه راز دا غبرګون دې تر هغې دوام داره وساتلی شي چې تر څو د پښتنو د تجارت دا 'مړۍ' خلاصه نهٔ کړې شي. د پاکستان ستونزه د اول ورځ نه افغانستان دی، ځکه خو د ختیځ د هندوستان د لوري ټول کړکېچ هم پهٔ لوېدیځه پُوله پالي. داسې برېښي چې لر او بر پنجابیانو هم خپل منځ کښې روغه کړې او چل ټول هم پښتنو ته دی.

کهٔ تاسو فکر وکړئ نو د انډیا سره د کالوسر د ښکاره دښمنۍ او تاو تریخوالي باوجود تجارت روان وي او واهګه باډر او کرتارپور لارې څلېریښت ساعته خلاصې وي، خو بل خوا چې کله هم د یوې ټولنې د وګړو تر منځ معاشي پېوستون نهٔ وي نو دغه قام بیا قام کېدی نهٔ شي. پاکستان هم پهٔ دغه خبره عمل کړی دی چې کهٔ د پښتنو قامیت ماتول وي نو دا خو دومره کلک دی چې د سکندر نه تر امریکا پهٔ شانې زورور هم مات نهٔ کړو. نهٔ ډیورنډ او نهٔ د پاکستان

توغ. خو راشه اوس ئې د فقر پهٔ توره مات کړه! دا نسخه ډېره ازموده او خطرناکه هم ده، ځکه چې پهٔ تاريخ کښې دا ستر قام ټول عمر پهٔ خپله جغرافيه کښې دغه فقر کړه پهٔ سر خاورې پهٔ سر چورلولی دی. داسې معلومېږي چې د پښتنود قاميت د تل د پاره د ماتولو، د يو بل نه د شوکولو او د يو بل نه داسې بې پرواه کولو د پاره هم دا لوبه ښه پهٔ هنر کولې شي. د افغانستان سره د باجوړ دير نه واخله تر وزيرستان او بيا سيوۍ پورې چې څومره هم د تجارت تاريخي لارې دي، د دې لارو دواړو اړخ ته سړکونه پاخهٔ دي او د پاکستان او افغانستان پهٔ لور هر اړخ ته د ښارګوټو مهمو سيمو ته ترې تګ راتګ ډېر لنډ او اسان دی. کهٔ د دې غټو لارو نه پرته مونږ د هغه وړو لويو لارو او 'کنډاوونو' خبره وکړو چې پهٔ امروزه ژوند ژواک کښې به دواړه خوا مېشت اولسونه د يو بل غم ښادي او ښو بدو ته د زمانو نه تلل راتلل نو هغه کنډاوونه پهٔ سلګونو دي. خو د تېر شل کاله نه د اخ و ډب پهٔ نامه دغه ټولې وړې لويې لارې تړلې شوې دي. حېران دې ته شو چې د ډيورنډ پولې سره جوخت د افغانستان د زوره پهٔ هره ګټه د پاکستان وسلوال ځواکونه قلعه بند مورچه بند ناست دي، د سابقه فاټا هر غر، لوړه ژوره د دوي د ولقې لاندې ده، ازغن تارونه غزولی شوي دي، خو بيا د دې سيمو د امنيت وضع خرابه ده او د هدفي وژنو تر څنګ د بدمعاشۍ ټيليفونونه د خلکو نه پهٔ زور د پېسو غوښتنو لړۍ دوام داره ده؟

څهٔ کم شل کاله کېږي چې د وزيرستان نه تر باجوړ دا سيمه جنګونو ځپلې، دلته مېشت خلک د ژوند د يو شمېر اسانتياو نه لرې پراتهٔ دي، دلته د ټولو نه لويه ستونزه د جنګ ده. بې امنۍ سره د خلکو بې روزګاري هم ده چې تېر وخت کښې کوم بازارونه وو، زياتره پهٔ دغه فوجي اپرېشنو کښې رنګ کړی شوي دي، د سرمايې خلک د سيمې نه د ملک نورو ښاريو ته د روزګار د پاره تلي دي. دلته د روزګار موقعې پېدا کول د ټولو نه مهم کار دی چې تر اوسه خو د پاکستان واکمنو لهٔ خوا د دې تباه شوو سيمو د را اوچتولو د پاره هېڅ يو لوی اقتصادي

پلان نۀ دی راوړلی شوی. د زمانو نه د دې وطن د خلکو د افغانستان پۀ دغه تجارتي لارو به تر کابل، ثمرقند او بخارا جوپې تللې. دغه د ژوند د ګټې وټې حق هم د پاکستان وا کمنو د خلکو نه د ډېر وخت نه اخستی دی. د دې لارو پۀ تړلو کۀ یو اړخ ته یوه قبیله د بلې نه شوکولې شوې ده، ټولنیزې کلتوري اړیکې شلولې شوې دي نو ورسره د خلکو کار روزګار هم ختم کړی شوی دی. د دغه بې روزګارۍ ډېرې بدې اغېزې د پښتنو د وجود پۀ دې ستر اندام ډېرې بدې دي. کۀ چرته د دې ملک سره څوک مخلص وي او دا سیمې د دې بدو حالاتو نه ژغورل غواړي نو د باجوړ د 'ناوا پاس' سره تړلې شوې هغه ټولې بندې تجارتي لارې دې پۀ سمدستي توګه پرانیزي. باید چې د افغانستان او پاکستان دې لارو ته څېلمه دواړو خواو ته اولسونه دې هم خپل اواز ښۀ کلک جیګ کړي او دا حکومتونه دې ته اماده کړي چې نور د دې تاریخي تجارتي لارو بندېز د دې سیمې د خلکو معاشي قتل دی او اولس نور پۀ هېڅ ډول دا عمل نۀ زغمي.

د منځنۍ او سوېلي اېشياء په چوک د پروت

# پېښور ښار مقاميت

د مارغان ور باندې چتر چتر کېږي
د باګرام نه سېل بهر ته د سکنو ځي
کاکاجي صنوبر حسېن مومند

د پېښور په اړه ډاکټر سميع الدين ارمان ليکي:
"دا ښار د حضرت ابراهيم علېه السلام د زماني نه هم پينځلس سوه کاله وړاندې ودان ښار ؤ. د حضرت ابراهيم علېه السلام زمانه څلور زره کاله وړاندې اټکل شوې ده."

د پېښور د ښاروالۍ د ستر والي نخښه دا ده چې په وړمبۍ پېړۍ عيسوي کښې د دې ښار وګړي تر شپږ شلې زره (120,000) پورې وو.

د پښتنو په اړه د رياست له خوا جوړ شوي ناسم پروفائلنګ په نتيجه کښې خپل تاريخ او قدامت نه ناخبره خلک وائي:
"چې پنجاب نه وي نو له لوږې به مړهٔ شئ! وائي پنجاب ته لاړ شئ! دغه راز وئيلی شي، پښتانهٔ خو د جنګ نه پرته څهٔ نهٔ پېژني، دا وخشيان دي، د پښتنو په وطن کښې تجارت او ژوند څهٔ کوي؟"

خو حقيقت دا دی چې پنجاب په تاريخي توګه د هند برخه ده. په تاريخي بڼه د پښتونخوا د ژوند اډانه کله هم په پنجاب نهٔ ده پاتې شوې. پښتونخوا وطن چرته هم په جغرافيائي توګه د هند برخه نهٔ بلکې د هند ګاونډي پاتې شوی دی. سپينه خبره ده "د مارګلې نه اخوا هند ؤ او دې خوا پښتون وطن."

زما خپل نظر دا دی چې د محمود غزنوي نه واخله تر مغل او بيا د پېرنګ په وخت کښې د پښتنو مخه د منځنۍ اېشياء په ځای چې د هند په لور ستنه کړې شوې ده، زمونږ بدبختي هم له هغه وخته را روانه ده چې بيا پېرنګيانو او

پاکستان دغه عمل ته ډېر سائنسي او د سياسي انجنئيرنګ شکل ورکړو. کهٔ د پښتنو مخه نن هم د 'ساه ډوب ملک' پهٔ ځای د جنتي خاورې منځنۍ اېشياء پهٔ لور ستنه شي، دا اولس د خپلې جغرافيې د مقاميت، ارزښت، سائنس، هنر، سياست او معيشت وپېژني نو د پښتونخوا پهٔ دې خاوره کښې نن هم دومره زور دی چې دا د نړۍ د تجارت او پرمختګ د پاره به "ګېټ وې' وي او پېښور به د دغه چوک لوی مرکز وي.

کهٔ د پښتنو د منځنۍ اېشياء پهٔ لور تجارت جوړ وی نو د پنجاب پهٔ ځای به د 'يوکرائن' نه ډېر پهٔ ارزانه بيعه غنم راوړی شول، ځکه يوازې يوکرائن د نړۍ د غنمو اووم لوی هېواد دی. تېر کال ترې پاکستان هم غنم اخستي وو.

د يو هېواد يوې سيمې ټولنيز پرمختګ پهٔ هغه خاوره کښې دننه پروت وي. چې تر څو پورې د يوې سيمې د وسائلو دننه د پرمختګ چارې بشپړ نهٔ شي، د بهر نه چرته هم کومه سيمه نهٔ ودانېږي. د پنجاب پهٔ خاوره تر کراچۍ پورې چې کوم پښتانهٔ کار روزګار کوي نو پهٔ هغې کښې لس سلنه پښتانهٔ ځهٔ نه ځهٔ شتمن دي خو نور نوي سلنه پښتانهٔ نېستمن. د لاسو خواري، د ځپلو د پالشو پورې مزدوری کوي. پهٔ دغه خوارۍ کښې دوي تشه خپله ګېډه نيمه مړه ساتلې شي. دغه خواري کهٔ دوي د پنجاب پهٔ ځای پهٔ سور جهنم کښې کوي نو هم ځهٔ ګټه به ورته ملاوېږي، خو چې تر څو د خپلې خاورې د مقاميت پهٔ زور تجارتي وسائل پهٔ کار را نهٔ شي، پښتانهٔ به ټول عمر پهٔ پردۍ خاوره کښې دياړي مار وي.

د پښتنو د جغرافيې عموماً تاريخ به پرېږدو، خو يوازې د پېښور ښار دومره جغرافيائي، تاريخي، تجارتي او کلتوري ارزښت دی چې د پښتونخوا دا ستر ښار د نيمې نړۍ، سوېلي اېشياء او منځنۍ اېشياء پهٔ سينه پروت دی. ډېر پهٔ منظم ډول د پېښور ښار دغه نړيوال ارزښت د منځه وړلی شوی. دوام داره جهادي پراجکټونو او منظم سياسي پروژو د پېښور ارزښت کم کړی دی. اولس ئې بې حوصلې کړی؛ خو کهٔ نن هم پهٔ دې خاوره دوامداره سياسي ثبات راغلو، د

منځنۍ اېشياء او ختيځ يورپ پۀ لور تړلې شوې تجارتي لارې پۀ مستقيم
پرانستلې شوې نو پېښور به پۀ دوه کاله کښې د نړۍ مهم ښار وي او د د
تجارتي خوځښت سره به ټول پښتون وطن پۀ حرکت کښې وي. د پېښور د ودا
معنې به د پښتونخوا وطن د لر او بر ودانې وي، لکه څنګه چې پۀ ځلوېښت کا
کښې د پېښور نړيوال ارزښت کمول او يو مقامي ښارګوټی ګرځېدل د ټوا
پښتنو پۀ بربادۍ تمام شوی، داسې ودانې به ئې هم د ټول وطن ودانې وي.
د پښتونخوا وطن پۀ سر داسې پۀ درځنو نومونه مونږ سره پۀ تاريخ کښې شته
لکه بلخ، ادهيانه، هند، پشکلاوتي، پرش پور، اريګائن، بازيره، مساګا
ټېکسلا، ابهيسارا وغېره چې دوه نيم زره کاله نه زيات تمدني قدامت لري.
د يو روايت تر مخه پېښور ښار د حضرت عيسیٰ علېه السلام نه 559 کال
وړاندې د ايران د هخامنشي پۀ واکمنۍ کښې د نړۍ پۀ ودانو ښارونو کښې
شمار ؤ. منشي ګوپال داس وائي،

'دا ښار د کيو مرث زوي هوشنګ د نړۍ سره سيال کړی ؤ او د دې
ښار نوم 'پرش پور' يادولی شو. دغه راز 'باګرام' هم پينځۀ سوه کاله
وړاندې ياد شوی دی. د يوې سيمې پۀ تاريخ کښې د ډېر نومونه را
ټولېدل د هغې د جغرافيې د معروضي ارزښت لوی دليل وي.'

دوه زره کاله وړاندې 'اشوک' پۀ پېښور کښې د ګوتم بدها ځلور غتې پڙۍ جوړې
کړې وې. د چين سېلګر هيون سونګ څۀ شپاړس سوه کاله وړاندې وائي، د بدها
پۀ دغه پڙو کښې ما وليدۀ چې يوه د 'بالا حصار' د قلعه پۀ ځای کښې ولاړه وه.
مؤرخ حمد الله مستوفي پۀ خپل کتاب 'نزهة القلوب' کښې ليکي،

'ساساني باچا 'شاه پور ابن اردشېر' دا ښار ودان کړو، د دې نوم ئې
هم 'شاه پور' کېښود چې 'باشاپور' او بيا ورستو 'پشاور' شو.'

ډاکټر احمد حسن داني ليکي،

'د پېښور ښار زوړ نوم 'پارو پاراسته' ؤ - يعني د غرونو پۀ منځ کښې

ښار. دا نوم د 'عيلامي' او 'بابلي عهد' د سرکاري نوم ګندهارا په ځای وئيلی شو، خو دارايوش د دې سيمې د پاره د 'ګندهارا' نوم خوښولو چې د پېښور د اباسين او خېبر درې په منځ کښې تر باجوړ پورې سيمې ته وئيلی شو."

د ارکيالوجسټ صمد خان تر مخه د پېښور 'ګورګټړې' نه تر درې ويشت سوه کاله پخوا پورې تمدني اثار تر لاسه شوي دي.

په تېر لس کاله کښې په پېښور کښې اته لکهه پښتانه بې روزګاره شول. د پښتونخوا په اړه دا کچه تر پنځوسو لکهو هم د پاسه ده. د ټولې پښتونخوا حالت د دې نه هم بتر دی. د پښتونخوا د هر لورې نه ځوانان په لوی کچ غريبۍ مزدورۍ له بهر هېوادونو ته روان دي.

د پېښور ښار د سوداګرۍ لوی حب 'يونيورسټي روډ' ؤ. د بي آر ټي د برجونو ودرولو پس د دغه ځايه کاروباري ټوله سرمايه او ملټي نېشنل کمپنۍ لاړې. د بي آر ټي ناکامه پروژې د پېښور ښار تاريخي څهره مسخ کړله او سړکونه هم د ګاډو د رش نه خالي نۀ شول. حيات اباد انډسټريل زون، کوهاټ روډ، حطار، ګدون وغېره سيمو کښې څۀزر کارخانې بندې شوې.

حضرت علي وائي، يو سړی نهر اودۀ شي نو دا کوم خدائي امر نۀ دی، بلکې د دې سړي روزي به چا غلا کړې وي. دې عمل ته معاشي عدم مساوات وائي. يعني د يوې ټولنې په حقونو او وسائلو د بل چا قبضه ګيري او د اوږد مهاله اقتصادي پرمختګ د پاره د تګ لارې نشتوالی.

په لس کاله منصوبه بندۍ کښې يو نوی پېښور ښار جوړېدی شو خو اوس زوړ ښار هم د ژوند نۀ دی. پېښور اوس د ګنې ګونې يو غوېمنډ دی. په دې تېر شل کاله کښې د قبائلي سيمو نه څۀ شل لکهه خلک دې ښار ته د فوځي عملياتو نه پس راغلل او مېشته شول. د خلکو د ودانۍ هېڅ کومه پروژه نشته. ټول ښار د سخا نالو، دوړو، لوګو يو رېګستان ښکاري. د پېښور د کروندې زمکې لويه

برخه بې ډوله او غېر قانوني هاؤسنګ سکيمونو ختمه کړه. د پېښور نهرونه او
د اوبو په ځای د ګند او پلاستېکو ډک د سخا بويونو سره روان وي.
دغه راز د سي پېک مغربي روټ د پښتونخوا په ځای د پنجاب په لور تاوهل،
پېښور نه د پنجاب په لور د پښتونخوا د سيمو نيغ په نيغه پنجاب ته موټروې
جوړول، د سوېلي ايشياء او د منځني ايشياء په چوک پروت د دې تاريخي ښار
په راتلونکي کښې د مرکزي تجارتي ښار نه ګرځولو منظمه دسيسه ده.
د نيو کالونيلزم په سائنس کښې اوس ځوک نيغ په نيغه نه لوټ کوي بلکې د دغه
لوټ مار او قبضه ګيرۍ د پاره ډېر په سائنسي ښه کار کولی شي. هم دغه سياسي
عمل د بدامنۍ په ډېر سائنسي هنر سره په پښتونخوا کښې تر سره شوی او لا
قصه روانه ده.
بل لوري ته په پنجاب کښې په تېر لس کاله کښې په زرګونو کارخانې جوړې
شوې، په لکهونو خلک په روزګار شول، د پښتونخوا زياتره سرمايه دار هلته
لاړل؛ تر دې چې په تورخم کښې خالې کېدونکي تجارتي توکو کنټېنرې هم اوس
په پنجاب کښې ځای په ځای تشولې شي-دا ولې؟
جواب ئې ډېر ساده دی چې سوداګري صنعت هغه ځای کښې وده مومي چرته چې
امن وي، برېښنا وي، د کارخانه دارو د ټېکسونو او بهتو په نامه تنګول نه وي.
دا عمل په پنجاب کښې نه کېږي او په پښتونخوا کښې د تېر لس کاله نه ډېر په
هنر سره اوړد کړی شوی دی. په پېښور د تېر لس کاله نه مسلط غېر سياسي ټوله
د خپل اولس او خاورې د مقدمې په ځای د پنجاب کارمندان دي. د پښتونخوا
وسائل د پنجاب او تختِ اسلام اباد نه لوګی کېږي. داسې حالت کښې به
پښتونخوا غرقېږي نه؟
نتيجه دا شوه چې په لکهونو پښتانه بې روزګاره شول. د دې صوبې نه سرمايه او
کارخانه ووېستلی شوه او پنجاب کښې ډېر په هنر سره ولګولی شوه.

## سوات موټروی

پښتونخوا کښې چې څومره موټرویز وينئ، د دې شا ته د پېښور اقتصادي مرکزيت د تل د پاره ختمول او د پښتنو مخه په اقتصادي توګه پنجاب ته اړول دي. د افغانستان په لور تجارتي لارې هم ځکه بندې ساتلې شي چې د سوېلي او منځنۍ ایشیاء په زړه پروت د پښتنو دا تاريخي تجارتي ښار اقتصادي پرمختګ و نه کړي؛ ځکه چې د پېښور د پرمختګ سره د ټولې پښتونخوا پرمختګ تړلی شوی دی.

د ډي آئي خان په موټروی د جنوبي ضلعو مخه پېنډۍ ته واړولې شوه، د پېښور نه ورته پنجاب ته تګ اسان شو. دغه راز د سوات موټروی په وسیله د ټول ملاکنډ ډویژن تګ د پېښور په ځای پنجاب ته اسان شو. د پښتونخوا د ګټې پروژه په سي پيک کښې 'مغربي روټ' وه چې ټول ملاکنډ ډویژن او پښتونخوا ورسره تړلی کېدهٔ. هغه اقتصادي پروژه د پرويز خټک او پي ټي آئي پښتون دښمن پراجکټ په مرسته د پنجاب نارووال او لاهور ته یوړلې شوه او پېښور تش د 'تور قميص' په سندره کښې پاتې شو.

د سوات جنتي وطن څهٔ ترهګرۍ، فوجي اپرېشنو او سېلابونو ځپلی او باقي کسر ئې د پي ټي آئي حکومت د 'این اېل سي' په ټهېکدارۍ کښې د برمه پرې ويستلو. د تېر شل کاله نه پښتونخوا وطن په يوه فوجي چهاونۍ او د سېلګرۍ ځایونه د فوجي کېمپونو کېډټ کالجونو په نامه په قبضه ګیرۍ بدل شو.

څو ورځې وړاندې ما ته د سوات موټروی د متاثرينو مشر ټيلي فون وکړو چې د خپلو زمکو او موټروی خلاف احتجاج کښې ئې د ګډون بلنه را کوله. ما تپوس وکړو چې موټروی جوړول خو ډېر د پرمختګ کار ګڼلی شي، تاسو د دې خلاف احتجاج ولې کوئ؟ د دغه مشر نه مې په ټوله قصه ځان پوهه کړو. بايد چې مونږ ټول د خپل مظلوم اولس د پاره غږ پورته کړو.

CS CamScanner

د سوات ټوله زمکه اتلس لکهه کناله ده. دې کښې نيم غرونه او للمه ده. نهه لک
کناله کښې د نيم نه زيات کورونه او بازارونه دي. دغه راز په لوی کچ د کروند
زمکې د خرڅ له کبله د بهر نه د راتلونکو خلکو په ودانيو وتپلې شي چې په نتيج
کښې ئې د کروندې او باغونو د پاره ډېره کمه زمکه پاتې کېږي.

د نغدې ګټې د پاره په سوات کښې په لوی شمېر باغونه هم دي چې تر دوه زر
پورې جوړېږي. د څۀ وخت نه د اقليمي بدلون له کبله د منې مېوه سخا کېږي
اوس شلتالو، چيري او خوبانۍ ته پام کولی شي. پي ټي آئي دوه مياشتې وړاندې
د سوات موټروی، چې اتيا کلوميټره ده، پرانسته وکړه. دا به په شپږ پنځوس ارب
د چکدرې نه تر فتح پور جوړولې شي. دا کار هم 'ايف ډبليو' د پرائېوټ سېکټر
په توګه کوي چې تر دېرش کاله پورې به ئې آمدن خوري. د سيمې اولس د دې
څکه خلاف دی او سړکونو ته را وځي چې په دې پروژه کښې په لوی کچ د دوي د
کروندې د سرو زرو زمکه بغېر د کوم تپوس د سېکشن فور په زور له منځه وړلې
شي. دغه راز د زور زياتي دا عمل د اين وائرمېنټل ايکټ 2012 او د نړيوال
کلائميټ چېنج په ضد هم دی. دغه راز د اولس د خوښې پرته د لېنډ پروټېکشن
2021 خلاف ورزي هم ده. د سوات په باغونو کښې څۀ يو لاکهه مزدوران کار کوي
تر پېنځۀ لکهه پورې د باغونو اونې به ربېلې شي. دغه راز دا زمکې په ډېر ارزان
نرخ نيولې شي. دا سړک به شل فټه اوچتولی شي چې په نتيجه کښې به ئې د ټول
سوات ودانې ترې لاندې راشي او د اولس سماجي اړيکه به ختمه شي او ممکنه
سېلاب به د ودانيو په لور مخه کوي. د اولس غوښتنه دا ده چې د موټروی دا
نقشه ناسمه او د دې بل بدل ښۀ په اسانه شته دی. پکار ده چې موټروی په هغه
ځای بوتللې شي نو د کروندې زمکه به بچ شي. هغه لار د سوات د سيند په غاړه
غاړه باندې بوتلل دي چې يو خو به د سيلګرۍ عمل ته ډېر نور ځايونه، پارکونه،
هوټلې جوړې شي؛ دغه راز راتلونکي خلک به د سيند ننداره هم کوي. بل د
موټروی دغه زمکه د سيند نه به وژغورلې شي او د زمانو نه چې سيند د کروندې

زمکې او باغونه ویجاړوي، دا به هم ختم شي. د دې بدلې نقشې ټوله سروې اریګېشن ډپارټمنټ کړې ده خو هغې ته هېڅ پاملرنه نهٔ شي کولې. سره د دې چې دغه نقشه کښې اتهٔ کلومیټره سړک هم کمېږي او پینځهٔ اربه خرڅ به هم پرې کم راشي. داسې بربښي چې د خپلې ګټې د پاره د ایسټ انډیا کمپنۍ ښه لرونکې نهٔ غواړي چې پروژې د وطن د ودانۍ او اولس د ښېګړې د پاره وي.
د موټروې پهٔ اړه د سوات د اولس خبره ډېره جائز ده. پکار ده چې د پښتونخوا ټول سیاسي مشران د دې مظلومه اولس د پاره غږ پورته کړي.

یادګیرنه:

د سوات موټروې جوړه کړې شوې ده. د کروندې د زمکو ماتولو، د مېوو د باغونو د تالا کېدلو، د ځائي او مقامي اولسونو د یو بل نه شوکولو او د پښتنو مخه د پېښور نه د اړولو سره چې کوم هدفونه وئیلی شوي نهٔ وو، هغه ټول ترلاسه شوي دي. اوس سوال دا ولاړېږي چې اخر ولې کومه پروژه د اولس غوښتنه نهٔ وي، هغه د پښتنو وطن ته راوړې کېږي، او دا چې اولس ولې ناکامه شي پهٔ ریاست د خپلې غوښتنې/ خبرې پهٔ منودلو کښې؟
دا ټول سوالونه چې د خپلو ځوابونو پهٔ تکل کښې وځي نو د 'ووټ' د رشل ته ولاړ پاتې شي. د مذهب او ملک پهٔ نامه کهٔ پهٔ هره نعره د اولس نه ووټ اخستی کېږي. هغه نعرې د استعمار او د 'ایسټ انډیا کمپني' د تسلسل نعرې وي. قامي سیاسي بیانیه به د اولس د ښېګړې، مادي مختګ او روحاني اطمینان سره متعلقه وي. د مذهب او ملک پهٔ نامه به اولسونه شوکولی کېږي او د هغوي ټولنیزې او انتظامي ارادې به د زور او زر د واکمنو سره ګانه وي.
تر څو چې اولس د مذهب او ملک پهٔ نامه د سیاسي دوکانداری نه ځان بېل کړی نهٔ وي او د قامي سیاسي ګوندونو او تحریکونو تر منځ ئې د هغوي د منشور پهٔ رڼا کښې د ووټ پهٔ زور پارلېمان ته خپل خلک لېږلي نهٔ وي، دعاګانې به د اسمان نه او احتجاجونه به د زمکې نه بې ځوابه را ستنېږي.

# د شاتو مچۍ:
# د قدرت کرشمه

د پښتونخوا خاوره د زرګونو کالو نه خوندور شات (شهد) پېدا کوي. په نړیوال
توګه چې کومې څېړنې شوې دي نو په نړۍ کښې شات څۀ د پینځلس زره کاله
پېدا کېږي او خوړلې شي. سُوچه شات کله هم نۀ خرابېږي. په مصر کښې د
فرعونیانو د مړو ممیانو سره څۀ درې زره کاله پخواني شات راوتي وو، رنګ ئې
لږ تغیر شوی ؤ خو خوند ئې ښۀ سم ؤ.
د انساني ټولنې په وړومبي وختونو کښې به شات په ځنګلونو کښې، بیا په
کورونو کښې او اوس د یو نړیوال پرمخ تللي صنعت په توګه په ګرځنده بکسو
کښې پېدا کېږي. د پښتونخوا په خاوره د نړۍ خوندور شات په غرونو، کورونو
او اوس په بکسو کښې پېداکېږي. پخوا به په کورونو کښې مچۍ ساتلې شوې
خو څۀ د خلکو شوق کم شو، څۀ د غرونو ځنګلې په کمېدو شوې؛ د موسمونو
بدلون او د بارانونو کمېدو پېداوار ته ډېر زیان رسولی دی.
نن سبا د شاتو مچیو د یو صنعت شکل اختیار کړی دی. موجوده وخت کښې چې
کومې مچۍ تاسو په بکسو کښې ځای په ځای وینئ، دا مچۍ به 1980 کښې د
اسټرېلیا نه (یو این ایچ سي آر) پاکستان ته راوړې چې د اطالوي نسل مچۍ وې.
افغان مهاجرینو ته ئې په کېمپونو کښې ورکړې. افغانانو ورسره خواري وکړه او
دغه نسل دلته په دې چاپېریال کښې د موسمي سمون سره ښۀ کامیاب شو. کۀ
مونږ دا ووایو چې د پاکستان اوسني 99 سلنه شات د پښتنو د لاسه دي نو بې
ځایه به نۀ وي. ځکه چې د اتیایمې لسیزې نه وړاندې شات په پاکستان کښې چا
پوره پېژندل هم نۀ، ډېر لږ پېداوار ئې ؤ. خو اوس څۀ دېرش زره ټنه شات په
پاکستان کښې پېدا کېږي چې د ملک دننه سره سره عربي هېوادونو ته هم لېږلی
کېږي.

د بکسو د مچيو نه غېر درې نسله مچۍ نورې هم په پاکستان کښې دي خو د هغې پېداوار ډېر کم وي. دا وخت څۀ لس لکهه پښتانۀ د دې روزګار سره تړلي دي. د دغه پښتنو سره څۀ دېرش زره فارمونه او څلوېښت لکهه مچۍ دي. د شاتو روزګار د پښتنو د پېداواري کلتور برخه ده خو پښتانۀ تجارتي او د پېداوري کلتور سوچ ډېر کم لري. کۀ بې روزګاره ځوانان لږ زيار وباسي نو په دې صنعت کښې د ژوند ژواک وسيله ښه په اسانه جوړېږي.
عام تاثر دا دی چې د بکسو د مچيو شات ټيک نۀ وي خو دا خبره بالکل غلطه ده. د کورنيو مچيو او بکسو مچيو په شاتو کښې هېڅ فرق نشته. د شاتو کمال په مچيو کښې نۀ، په ګل کښې وي او ګل د ټولو يو وي. په پېښور څوکنو او ترناب فارم کښې د نړيوال معيار غټ غټ مارکيټونه دي. د پښتونخوا اولس کولی شي چې د دغه مارکيټونو نه شات تر لاسه کړي. شات يوه ښکلې غذا ده. په کور کښې خامخا شات ساتئ! غوره شات د ببرې وي او ورپسې بيا د کريچې، پلوسې، مالټې، شوتل، شبوې، شينشوبۍ، سپېرکۍ او سپين ازغي وغېره شات وي.
د نړۍ غوره منظم جمهوريت د شاتو په مچيو کښې وي. د جديد مترقي رياستونو د نظام په طرز يو نظام دغه مچۍ لري. هر څوک خپل خپل کار کوي، هېڅ جبر زور په چا نۀ وي. ملکه، کارکونکې ماده مچۍ، نران، ډرون او نکټهو د دغه رياست چلوونکي وي. کۀ انسانان د شاتو د مچو په څلورمه برخه هم خواري محنت شروع کړي نو دا دنيا به لکه د جنت ودانه شي.
د شاتو د مچۍ عمر عموماً د يوې مياشت نه تر دوه مياشتو وي. د اتۀ ورځو نه خواري شروع کړي او تر مرګه په ارام نۀ کښېني. د شاتو مچۍ په هوا کښې د پينځلس کلوميټر په مزل الوځي. شات راوړونکې ټولې مچۍ ښځې 'ماده' وي. نر تيار خور وي، ځکه د مچيو ساتونکي په بکسه کښې د ضرورت نه پرته ډېر نران نۀ ساتي. نر صرف د ملکې د القا کېدو د پاره وي.

نمر چې ښهٔ ګرم شي، موسم برابر شي نو مچۍ پهٔ ګلونو پسې ځي راځي او ماښام ځان پهٔ وخت را رسوي. د يو پاونډ موم جوړولو د پاره مچۍ اتهٔ کلو شات خوري کله چې مچۍ خپلې بکسې ته راشي نو دوه مچۍ د بکسې پهٔ خولهٔ کښې د مچۍ خولهٔ بويوي. کهٔ پهٔ ګند يا غلط بوټي ناسته وي نو دغه مچۍ يا وژلې شي يا بکسې ته ئې نهٔ پرېږدي. د شاتو د مچۍ نظر د انسان نه تېز وي. د انسان پهٔ سترګو کښې دوه ګاټې وي او د شاتو د مچۍ پينځهٔ سترګې وي. پهٔ ګاټو کښې شپږ زره شيشې وي. دوه سترګې لنډ ديد له وي او دوه د لرې ديد چې بره د خلاء پورې د وريځ نه پاس هم ليدل کوي.
د شاتو د مچۍ د بوي کولو طاقت د انسان نه ډېر تېز وي. تر دوه کلوميټره پورې د ګل خوشبو محسوسوي. د شاتو مچۍ د درې نه تر پينځهٔ کلوميټره پورې پهٔ ګل پسې الوځي. پهٔ هوا کښې خپلې لارې جوړوي چې پهٔ واپسۍ کښې ترې پهٔ راتګ کښې لار نهٔ خطا کېږي. د مچۍ شپږ پښې وي. دوه تارونه ئې پهٔ مخ د ټاور د سګنل پهٔ انداز وي؛ چې کله هوا ګډوډېږي يا ږلۍ طوفان راځي نو ګېنټه مخکښې دغه تارونه دې ته د هوا ګډوډۍ ښائي او ځان خپل کور ته پهٔ وخت رسوي. د شاتو د مچيو هم لکه باچاينه (ماده) مشره وي. عمر ئې تر څلور کاله پورې وي. ملکه د ټولې بکسې انتظام چلوي. څهٔ مچۍ د ګل پهٔ رس او زرګل پسې لېږي، څهٔ شات پهٔ بکسه کښې پخوي، څهٔ د شاتو خانې پاکوي، څهٔ مړې مچۍ هديرې ته وړي، څهٔ د بکسې صفائي کوي، څهٔ د انجنئيرنګ پهٔ شکل نوې خانې جوړوي. ملکه مسلسل پهٔ بکسه کښې ګرده لالهنده ګرځي، شا ته پسې تر سلو پورې مچۍ ملاتړ رواني وي. ملکه د مچۍ نه دوه چنده غټه وي. پسرلي کښې ملکه د دوه نيم زره نه واخله تر پينځهٔ زره پورې 'اګۍ' اچوي چې پهٔ پينځلسمه اتلسمه ورځ د دغه اګيو نه بچي راوځي. پهٔ درېمه ورځ دغه مچۍ ته د الوځولو د پاره ځانګړې مچۍ تربيت ورکوي او بهر ئې لرې لرې الوځوي. د ملکې يو ځانګړې خوراک وي، عام د بوټي زرګل نهٔ خوري. د ملکې خوراک ته رائل

جِلي (شاهي قرېنګ خوراک) وئيلی شي.

چې کله عامه مچۍ د اتو ورځو شي نو د دې په څټ کښې چې کومه غوټه قدرتي 'غدود' وي، د هغې نه قدرتي ټينګ خوراک راوځي چې رائل جِلي ورته وئيلې شي. دغه خوراک مچۍ په بکسه کښې په يوه ځانګړې خانه کښې جمع کوي، بيا ئې ملکه خوري. د عامې مچۍ عمر خو کم وي خو رائل جِلي د وټامنو نه ډک ډېر 'مقوي' خوراک وي چې د دغه خوراک په برکت د ملکې عمر هم تر کلونو پورې اوږد وي او بدني توان ئې هم ډېر وي. د قديم طب پوهانو نه تر اوسه پورې چې څوک هم ضعف محسوسوي، نو رائل جِلي د نسخې په توګه ورکولې شي. طب پوهان وائي چې دا مفيد او بې ضرره خوراک دی. رائل جِلي چې خالص وي نو تر لس زره في کلو قيمت لري. ښه رائل جِلي د استرېليا نه راځي.

په مچۍ کښې بل مهم څيز د دې زهر وي چې په طبي توګه کارولی شي. يوه توله زهر تر لس لکهو پورې قيمت لري. د شاتو د مچۍ چيچل نېغ په نېغه هم طبي ګټې لري.

د پښتنو دې روزګار ته ډېرې ستونزې هم دي. بايد چې زمونږ سياسي مشران د دغه ستونزو د حل د پاره غږ پورته کړي، ځکه چې د مچو ساتنې د کاروبار سره ډېر هغه پښتانهٔ اړه لري چې ډېر غريب وي او چا ته رسېدی نهٔ شي.

# د پښتونخوا د څرمنو سوداګري او کارخانې

پښتانهٔ عموماً تجارتي، هنري او تخليقي ذهنيت نهٔ لري. دا داسې نهٔ ده چې ګنې دوي د نړۍ د پرمختللي بازار برخه نهٔ شي جوړېدی او يا ئې ګنې پښې او لاسونه کم دي يا دماغي صلاحيتونه نهٔ لري، بلکې دوي پهٔ خپل جغرافيائي جنت کښې پهٔ دوزخ کښې ودرولی شوي دي. ذهني کچه ئې ډېره پهٔ هنر ټيټه کړې شوې ده. د تعليم نه د دې د پاره لرې کړی شوي دي چې د ژوند چل زده نهٔ کړي او د نړۍ سره د سيالۍ الوت ته ئې پام نهٔ شي.
دا خبره زهٔ زياته کوم چې کهٔ پښتانهٔ پهٔ خپله جغرافيه لس شل کاله پهٔ قلاره پرېښودی شول او څهٔ دوي همت وکړو نو دا خاوره د خدای پهٔ هره شتمنۍ دومره غني او مړه ده چې يو پښتون به هم د خپل وطن نه بهر مزدورۍ له لاړ نهٔ شي بلکې نړيوال به دلته روزګار ته راځي.
څرمن پوستين د انسان د زرګونو کالو جامه پاتې شوې ده چې تر اوسه ورسره پهٔ نوو نوو او پرمختللو شکلونو کښې را روانه ده. خو د څهٔ وخت نه د څرمنې کاروبار د ډېر تاوان سره مخ دی. د څرمن نرخ غورځېدلی دی. پهٔ نړيواله توګه څو کاله وړاندې پاکستان د څرمن پهٔ برامدات کښې پهٔ پينځم نمبر ؤ. څهٔ د اتيا کروړه ډالرو پورې د څرمنې مختلف څيزونه به د يورپ او مشرق بعيد پورې تلل.
پاکستان کښې د څرمنو نه د سامانونو جوړولو لويې کارخانې پهٔ پنجاب کښې دي. قصور ښار د څرمنو لوی مرکز ؤ. پنجاب او کراچۍ د ملک ټولې کارخانې ځان ته راکښلې، ځکه چې هلته د پانګونې د پاره يو سازګار ماحول ورکړی شوی دی. سوداګر او پنګه والو ته د سر و مال امن ورکړی شوی دی. بجلي او ګېس پهٔ لوی کچ دغه صنعتونو ته ورکولې شي. پهٔ ټېکسونو کښې ورسره هم ډېره ګزاره کېږي. دغه کارخانې زياتره د پښتنو د اوبو پهٔ بجلۍ روانې دي، ځکه چې پښتونخوا وطن د پاکستان د بجلۍ څهٔ د اتهٔ زرو نه زياته بجلي پېدا کوي چې

دغه د پاکستان د ټولې بجلۍ پهٔ درېو کښې يوه برخه جوړېږي. دغه بجلي زمونږ نه پهٔ پينځهٔ روپۍ يونټ د لاهور لوی ګرېډ ته ورکولې شي خو زمونږ کارخانې د بجلۍ لهٔ وجې شاړې دي او کومه بجلي چې واپس مونږ ته ملاوېږي نو هغه هم پهٔ پينځويشت روپۍ يونټ ملاوېږي. مرکز ته د پښتونخوا د بجلۍ د شپږ سوو نه زياتې روپۍ قرض دي خو يوه روپۍ ورته نهٔ ملاوېږي.

د پنجاب کارخانو ته خليريشت ساعته اتهٔ سوه مېګا واټه بجلي ورکولې شي او د پښتونخوا کارخانو ته صرف اتهٔ شپېتهٔ مېګا واټه بجلي. پښتونخوا د پاکستان د ګېس څهٔ پينځهٔ دېرش سلنه (35%) برخه پېدا کوي خو زمونږ کارخانو او کورونو ته چې څومره ګېس پکار وي نو هغه هم پوره نهٔ ملاوېږي او د وزيرستان نه تر باجوړ خو لا څوک دغه ګېس پېژني هم نهٔ.

د پښتنو د سيمو د اقتصادي پرمختګ ټول دار و مدار د افغانستان سره پهٔ تجارت ولاړ دی. کهٔ دغه تجارت روان وي نو د يو انډسټرېل زون امکانات هم پېدا کېدی شي؛ خو لهٔ بده مرغه د پاکستان واکمن د افغانستان سره پهٔ تجارتي اړيکو جوړېدو کښې هډو خوښي نهٔ لري. پهٔ تېرو وختونو کښې به د پاکستان او افغانستان تر منځ د کال د پينځهٔ بيلين ډالرو تجارتي راکړه ورکړه کېدله خو د حکومتي پاملرنې د نشتوالي او د سوداګرو د تنګولو لهٔ کبله دغه تجارت اوس پنځوس کروړه ډالرو ته را کوز شوی دی او نور هم ښکته روان دی.

زمونږ غرونه د معدنياتو نه ډک دي. قسماقسم قيمتي غمي، لعلونه، کاڼي او ماربل لري. ځنګلونه او اوبهٔ پرېمانه لرو خو افسوس چې دې نه پهٔ سمه توګه استفاده و نهٔ شوه. زمونږ د غرونو قيمتي کاڼي پهٔ بمونو را ويستلی کېږي چې اتيا سلنه (80%) پهٔ کښې ضائع کېږي او فقط د شل سلنهه نه ګټه تر لاسه کېږي، هغه هم زياتره پنجاب ته وړلی شي. کهٔ دې معدنياتو او وسائلو ته دلته صنعتي زون جوړ کړی شي نو پهٔ لکهونو پښتانهٔ به پهٔ روزګار کړی شي.

د سهولياتو د نشتوالي لهٔ وجې د پښتونخوا د صنعت نه لکه د ګدون امازی

هديره جوړه شوه. پهٔ اربونو روپۍ د پښتنو سوداګرو ډوبې شوې او لويې کارخانې پهٔ ټوله پښتونخوا کښې ختمېدو ته نزدې دي.

د څرمنې د روزګار او پنګه والۍ د کمزورۍ کېدو دوه درې لاملونه دي: يو خو د پاکستان د څرمنو صنعت ډېر پهٔ کمزورۍ شکل کښې دی. د نړيوال معيار مقابله نهٔ شي کولې، ځکه چې پهٔ نړۍ کښې اوس د مصنوعي څرمنې بازار هم ډېر پهٔ پرمختګ دی. د پاکستان کارخانې هغه ګند هم نهٔ سمبالوي چې کوم وباسي؛ بلکې د سيند او سمندر اوبو ته ئې غورځوي.

پهٔ نړۍ کښې د ارجنټائن د څرمنې صنعت ډېر مخ پهٔ وړاندې روان دی. د څرمنې معيار ئې د نړيوال مارکيټ مطابق دی او نرخ ئې هم ارزان کړی دی. د پاکستان د کارخانه دارو پهٔ څرمن پاکولو خرچه ډېره راځي او پهٔ نړۍ کښې اوس نرخ کم شوی دی. دغه راز د څرمنې پهٔ روزګار د تېر دوه کالو نه کرونا هم ډېر بد اغېز کړی دی چې ورسره پهٔ نړۍ کښې د څرمنې د سامان جوړولو کارخانې ودرېدلې دي. پهٔ دغه نتيجه کښې د څرمنې غوښتنه کمه شوې ده. د مصنوعي څرمنو پېداوار هم د قدرتي څرمن پهٔ روزګار بد اغېز کړی دی.

د څرمن روزګار ښهٔ کېدی شي، نرخونه ئې هم جګېدی شي خو کهٔ پاملرنه ورته وشي. کهٔ نهٔ وه نو پهٔ را روانو کلونو کښې به د څاروي د لرې سره څرمن هم پهٔ زمکه کښې ښخولې شي.

# د پښتونخوا وطن سیندونه وپېژنئ!

اباسینه! لږ تیکاو شه! انتظار وکړه د کُرمې
پنجکوړه یم در روانه، خپله غېږ کښې پناه راکړه!
ګل احمد وردګ

روانې اوبهٔ پښتانهٔ پهٔ 'سیند'، 'توئی'، 'ځخه رود' او 'خوړ' سره یادوي. د سیند او رود اولسي توپیر دا وي چې پهٔ کومو اوبو کښې یو سړی نېغ پهٔ نېغه د کومې وسیلې پرته پورې وتی شي، 'رود' یاد وي او کومې اوبهٔ چې سړی وړي، دغه بیا د سیند درجه وي.

د پښتونخوا وطن پهٔ خېټه پهٔ سلګونو رودونه جاري دي خو دغه رودونه ځای پهٔ ځای د سیندونو بڼه خپلوي. دلته مونږ د هغه اوبو تفصیل وړاندې کوو چې پهٔ تاریخي توګه تر اوسه د سیند پهٔ درجه کښې شمار دي او بهېږي.

د پښتونخوا ځهٔ اوولس غټ سیندونه د هندوکش، پامیر، همالیه، سپین غر، بابا غر، کسې غر او د قراقرم غرئیزې زنځیري کړیو نه را توې شوي.

1. اباسین:

اباسین د نړۍ پهٔ سر نولسم غټ سیند دی. د زمکې پهٔ سر 3,180 کلو میټره بهېږي. سعدالله جان برق وائي، اباسین معنې 'د سیندونو پلار'، دا نوم ورته د ډېر تاریخي ارزښت لهٔ کبله ورکړی شوی دی.

د پښتونخوا پهٔ خاوره د ټولو لوی سیند اباسین دی. د نړۍ پهٔ سر نولسم غټ سیند دی. پهٔ 'رګ وېد' کښې دا سیند پهٔ 'سندو' سره یاد شوی. د دې سرچینه د چین پهٔ لور د همالیا د غرونو د مانسرور زیرمې دي چې پښتونخوا ته د بشام پهٔ سیمه کښې را ورسي نو تر پنجاب پورې ټول

سیندونه د دې برخه شي، ځکه دغه ټولې اوبه تر سمندر پورې د سنده په سیند یادېږي. د اباسین بله ځانګړتیا دا ده چې په پښتونخوا کښې په 'اباسین' په 'اټک' او 'نیلاب' یادېږي. د پنجاب په لور ورته 'مهران'، 'سنده' او 'انډس' هم وئیلی شي. دغه راز پخوا په عربي ادب کښې اباسین ته 'سېحون' او امو دریا ته 'جېحون' وئیلی شوي دي.

لکه موج په بېلتانه کښې، زما زړه وهي له سترګو
په دا موج کله بهېږي، جېحون هسې سېحون هسې
صدر خان خټک

اباسین د سوېلي اېشیاء تر ټولو لوی سیند دی. د هند نوم هم د دې سیند په تړاو یاد شوی. د هند له خوا راغلي دوه سیندونه 'جهلم' او 'چناب' هم د دې برخه کېږي او ټول د 'سنده' په نامه یادېږي.

د دې سیند اوږدوالی 3,200 کلومیټر دی. د اوبو ټوله ورکړه څه یوولس لکهه پینځه شپېته زره (1,165,000) مربع کلومیټر ده. (قراقرم، همالیه او هندوکش) په سیمه کښې څه 175,000 مربع میل، یا 453,000 مربع کلومیټر بهېږي. د اباسین د سرچینې د غرونو نه څلور نور سیندونه هم وتلي دي.

تر یو وخت پورې د اباسین سرچینه مانسرور ګنلې شوه خو په 1811 کښې مور کرافټ او په 1907 کښې 'سیون هېډن' د دې په سرچینه څېړنه وکړه او دا ئې څرګنده کړه چې د مانسرور په لور چې د سوېل د اړخ نه څلوېښت کلومیټره بره کوم رودونه د 'سنګي کباب' په نامه راوځي نو هغه د اباسین سرچینه ده.

دا سیند د پاکستان په بلتستان کښې را ننوځي. تر دغه ځایه اباسین 450 کلومیټره مزل کړی وي. بیا وړاندې دېرش کلومیټره پس د سکردو 'شیوک' رود د دې برخه شي. بیا د ګلګت رود بیا د نانګا پربت نه بهېدونکی 'استور'

رود د دې برخه شي.

د اټک سره د کابل سیند د دې برخه شي. دغه راز د کُرمې سیند او گومل سیند هم ورسره یو شي. د کالا باغ نه پس دا سیند په دشته کښې خپل مزل روان کړي. د مظفر گړه په سیمه کښې د هند د لوري راغلي جهلم، چناب، بیاس، ستلج او راوي خپل منځ کښې د یو کېدو نه پس د دې برخه شي. سندهـ ته د رسېدو نه پس د "گدو" په سوېلي برخه او د سکهر په منځ کښې بیا د حېدر اباد او د 'لاړکانې' په ختیځ لور د 'سېهون غر' پورې ځي. د 'ټهټه' ختیځ لور ته چې ورسي نو د 'کیټي بندر' په سیمه کښې خور وور لاړ شي او 'بحیره عرب' ته ځان وغورځوي.

2. کنهار سیند:

دا د پښتونخوا یوازینی سیند دی چې د اباسین په ځای د جهلم سیند ته لوېږي. د دې سیند زیرمې د ناران لولو سر د واورینو غرونو لمنې دي. دغه غرونه تر پینځلس زره فټه دنگوالی لري. د بابو سر نه تر بالاکوټ د دې اوږد والی 166 کلومیټره او پلنوالی ځۀ 15 میله دی. ټول کال په دې سیند کښې یخې واورینې اوبۀ وي. د یخوالي لۀ کبله ټراوټ کب ئې مشهور دی. گهړی حبیب الله نه چې را تېر شي نو د 'بتراسي' نه تېرېږي. دلته پرې د اېبټ اباد او مظفر اباد د یو کولو د پاره پل هم جوړ دی. د دې سیند اوبۀ ډېرې یخې او بهېدل ئې تېز دي. د مظفر اباد سره نژدې د جهلم سیند سره یو کېږي.

3. هرو سیند:

دا د اباسین د ختیځ د لوري مرستیال دی. د گلیات او مري د غرونو څخه سرچینه اخلي. دا سیند نوي (90) میله اوږد دی. پنځوس میله په مظفر اباد او څلویښت میله په اټک روان وي. د نهی زره فټه دنگ غرونو کی را وځي خان پور، حسن ابدال او دته سیمه اوبۀ خور کوي. د خان پور په سیمه پرې

یو بند هم جوړ دی چې اوبهٔ خور د پاره ترې اوبهٔ ورکولی کېږي. د اسلام اباد د څنباک اوبهٔ هم د دغه بند څخه دي. د خان پور نه شپاړس میله بره د 'دوتاره' پهٔ سیمه دوه څانګې یو کېږي. د پینډۍ جبه نالې هم دې ته را لوېږي. پهٔ اوبو کښې خاوره ډېره وي. د بارانونو پهٔ وخت لکه د باړې د اوبو سور وي. د ودانیو د پاره شګه ترې هم وېستلی شي.

4. سرن سیند:

دا د هزارې مانسهرې د 'بوګړ منګ' د غرونو یو تېز سیند دی. د 'تربېله' پهٔ سیمه کښې د اباسین سره یو کېږي. د دې سیند اوږد والی څهٔ اتیا میله دی. دا سیند پهٔ ښائست کښې بې مثال دی. د دې سیند نه د 'سرن' او 'ډاډر' خلک پهٔ خپل همت څهٔ نه څهٔ د اوبهٔ خور کار اخلي.

5. دوړ سیند:

دا د سرن سیند مرستیال سیند دی. څهٔ 45 میله اوږدوالی لري. د دې سیند سرچینه د هزارې د 'میا جاني' واورین غرونه دي. د بوني، دمتور، حویلیا، شنګرې، جاګل، سرای صالح او هرې پور سیمه کښې ترې خلک پهٔ خپل همت بغېر د څهٔ نهرې نظامه د اوبهٔ خور کار اخلي.
سرای صالح سره د دې سیند اوبهٔ وچې شي خو څلور میله وړاندې د 'مقصود' چینې دا اوبهٔ د هرې پور د خلکو د اوبهٔ خور اړتیا پوره کوي. دغه راز د دوړ سره سره د مانګل، انار او نیلا پهٔ نامه هم رودونه د دې نه جدا اباسین ته لوېږي.

6. چترال یا د کونړ سیند:

دا سیند د هندوکش د پینځهٔ ویشت زره فته لوړو د ترچ میر د څوکو نه تر جلال اباد څهٔ 480 کلومیتره مزل کوي. پهٔ 'رګ وېد' کښې دا سیند د 'راسا'

پهٔ نامه ياد شوی. د دې سيند پهٔ اړه اټکل کولی شي چې هم دا سيند دی. د کابل سيند نه د جلال اباد خواوشا کښې څهٔ پنځوس لکهه خلک ترې د خپلې کروندې کار اخلي. د جلال اباد کامې پهٔ سيمه کښې د کابل سيند سره غاړه غتې کېږي. د پېښور اتيا سلنه زمکې د کابل سيند نه اوبهٔ کېږي، د نوښار اووهٔ څلوېښت سلنه او د چارسدې هم د کروندې ډېره اړتيا پوره کوي. د کونړ پهٔ سيند کښې د اوبو اويا سلنه برخه د چترال د سردرو ده او دېرش سلنه اوبهٔ ئې د 'نورستان' پيچ د رودونو دي.

7. د پنجکوړې سيند:

يونانيانو 'پنجکوړه' پهٔ 'ګوريه' ياد کړی. بهادر شاه ظفر کاکاخېل وائي چې پهٔ رګ وېد کښې د 'تريشتاما' پهٔ نامه ياد سيند هم پنجکوړه دی. دا سيند د خپلې سرچينې څهٔ 220 کلوميټره مزل کوي. د بوساق پهٔ سيمه کښې د پنجکوړې سيند باجوړ ته را ننوځي او هم پهٔ دغه ځای کښې د ملاکنډ د اړخه د سوات سيند هم راځي. د دغه ځايه دواړه سيندونه يو ځای د مومندو، اتمان خېل او بيا د چارسدې ابازو سيمې ته وځي. د اتمان خېلو پهٔ سيمه کښې د مومند ډېم پهٔ نامه د څوارلس سوه مېګا واټه يو ستر د برېښنا او اوبهٔ خور بند جوړولی شي چې تر 2025 به پرې کار پوره شي.

8. د کابل سيند:

دا سيند پهٔ رګ وېد کښې پهٔ 'کوبها' سره ياد شوی دی. پهٔ سنسکرت کښې دا سيند پهٔ 'کامبوج'، د يونان 'کابوره'، د چيناپانو 'کاوفو'، 'کوفن' او 'کوفيس' ټول نومونه د کابل سيند د پاره کارولی شوي دي. نور نومونه ئې هم لکه 'کارورا' او 'کابورا' ياد شوي دي. يوناني ليکوال هېروډوټس دا سيند د 'کسپاتايروس' پهٔ نوم يادوي.

د دې سيند سرچينه د کابل نه 45 ميله جدا د هندوکش د څوکو 'لغمان د

اونې درې' ده. د سوېلي اېشياء په لويو سيندونو کښې يو دی. د کابل سره په دې يو بند هم جوړ دی. د سروبي نه وړاندې جلال اباد ته را وځي او ځای په ځای ورسره واړهٔ رودونه هم يو ځای شي.

د کابل سيند ټول څهٔ 700 کلوميټره اوږدوالی لري. شپږ سوه کلوميټره په افغانستان کښې او څهٔ يو نيم سل کلوميټره په پښتونخوا کښې مزل کوي. د کابل سيند سره سوات او پنجکوړه يو کېدو نه پس د اټک په سيمه د اباسين سره يو کېږي. دغه راز د کابل سيند سره په بره پښتونخوا کښې د 'اليشنګ'، 'الينګار'، 'پنجشېر'، 'مېدان'، 'لوګر'، 'سرخ رود' او بيا د باړې اوبهٔ هم يو کېږي.

د کابل سيند کله چې د للندر د تنګې دري نه تېر شي نو د چهاردهي د سيمې نه وروستو د کابل ښار ته ننوځي. کله چې د کابل د ښار نه تېرېږي نو د تيني په سيمه کښې د لوګر سيند سره يو ځای کېږي او بيا د 'تنګي غار' سيمې ته داخلېږي چې د 'نغلو' په ساحه کښې د پنجشېر سيند ورسره يو ځای کېږي. د سروبي نه ورسته 'ورېښمين تنګي' ته داخلېږي. بيا ورسره د الينګار او اليشنګ سيندونه د لغمان د زمکو د خړوبولو ورستو د عزيز خان کڅ په سيمه کښې يو ځای کېږي او د ننګرهار د درونټې په جنوب کښې د 'سرخاب رود' اوبهٔ ورسره يو ځای شي. د ننګرهار په پراخه سيمه د کنالونو په واسطه ډېره زمکه خړوبوي. کله چې دغه سيند د جلال اباد ښار د شمال ختيځ د 'بېهسودو' سيمې نه تېر شي نو د 'کامې' د زاخېلو د کلي په سر کښې د کونړ سيند ورسره مل شي او د مومندو د 'لال پورې' د تنګي لهٔ لارې د مومندو 'مېچنې' سيمې ته ننوځي.

اولف کېرو د کابل سيند په اړه ليکي،

'د مېچنې نه لاندې د کابل سيند په 'درې سره' لکه د نهرونو خورېږي – ناګمان، شالم او سردرياب. يو وړه 'نالې' د 'بډنې' په

CamScanner

نوم هم ده. دا ټولې بیا د چارسدې پهٔ 'نسته' کښې سره یو شي.
'بډنی' د دله زاک پهٔ ځای کښې د 'شالم' سره یو شي. شمالي
ځانګه د نیستې پهٔ خوا کښې د ځان سره د 'سوات' او 'پنجکوړه'
اوبهٔ هم یو کړي. دغه سیندونه یعني سوات او پنجکوړه وړومبی
د باجوړ پهٔ 'بوساق' سیمه کښې سره یو شي، بیا د اتمان خېلو پهٔ
سیمه کښې را تېر شي او ابازو ته را وځي. د کابل سیند سره د یو
کېدو نه پس دغه ټول بیا پهٔ چارسده کښې پهٔ 'لنډې' یاد شي. د
کابل سیند د مېچنی نه ښکته د مغلو پهٔ وخت پهٔ دوه لارو بهېدو
خو بیا نور وروستو خور شوی دی.'

پهٔ چارسده کښې د سردریاب سیمه هم د دې سیند پهٔ غاړه ده چې پهٔ 'نسته' کښې د سوات پنجکوړې سیندونو سره یو شي نو بیا ورته 'لنډې سیند' وائي. د سوات پنجکوړې سیندونه چې پهٔ چارسده کښې د ابازو سیمې ته ننوځي نو دلته ئې نوم د 'خیالي سیند' شي. دغه د سوات او پنجکوړې اوبهٔ چې مخکښې ځي نو د 'خیالي' او 'جینډي' سیندونو پهٔ نامه یاد شي. د سوات نه تر 'نیستې' د سوات سیند اوږدوالی د فضل ربي راهي د څېړنې تر مخه څهٔ 210 کلومیټره او د ډاکټر لیاقت تابان د څېړنې تر مخه څهٔ 240 کلومیټره دی.

9. د سوات سیند:

د سوات زوړ نوم 'ادهیانه' چینائي سېلاني 'فاهیان' پهٔ څلورمه پېړۍ کښې یاد کړی. پهٔ رګ وېد کښې د سوات سیند ته 'سواستو' وئیلی شوي او هم پهٔ دغه نسبت ټوله سیمه تر نن پهٔ سوات سره یادېږي.

سوات ته سوات ولې وائي؟ بهادر شاه ظفر کاکاخېل پهٔ دې اړه لیکي،

'پهٔ رګ وېد کښې د سوات سیند نامه 'سواستو' او یونانیانو بطلیموس وغېره پهٔ 'سواستن' سره یاده کړې. پهٔ 'مها بهارت'

کنبې د 'شمال غربي هند' د سيمو په نوم هم ياد دی. هيونګ سانګ د 'سو'، 'پو'، 'فا'، 'سو'، 'تو' So, po, Fa , So ,To تکو ياد کړی. دغه راز يو سيند په رګ وېد کنبې د 'راسا' په نوم ياد شوی دی. د دې تعين نه دی شوی خو ممکن ده چې د کونړ سيند وي چې په 'خواسپس' (Khoaspas) نامه هم ياد شوی. دغه راز 'تريشتاما' او 'اني تابها' هم سيندونه ياد شوي دي. ممکن ده چې د يو 'پنجکوړه' او بل 'اليشنګ' وي.

ډاکټر سلطان روم وائي،

"'سوات' د سواستو يا سويتا نه مأخوذ دی. 'سويتا' سپين ته وئيلی شي نو په دغه نسبت د سوات سيند د سپينو اوبو سره نسبت جوړېږي."

قاضي اثر وائي:

"'سو' نمر ته وائي او 'ات' زمکې ته – يعني هغه ښائسته زمکه چې هر وخت د هر اړخ نه پرې نمر لګي. داسې زمکه ځربه ګڼلې شي."

هم د قاضي اثر د رايې په رڼا کنبې ډاکټر سلطان روم وائي،

"دا به بيا سرياني 'وی' دی. هم دغه وجه سمه بولي، ځکه دا نوم د 'ادهيانه' نه قديم ښکاري. دغه راز سوات د عربی 'اسود' يا 'صود' بلل په تاريخي توګه ناسم بولي."

د سوات سيند سرچينه د کالام غرونو لمنې دي چې د سمندر نه شپاړس زره فټه لوړې واورينې څوکې دي. د دې سيند مزل څۀ 240 کلوميټره دی. د دې مرستيال رودونه شواندي، ګبريال، برنوئي، بشګرام، ميادم، زندری او د کوهستان کنديا ، دوبير او برندو هم دي. دا سيند مدين سره سوات سيمې ته داخل شي. دا سيند ټول کال تېز روان وي. تر لنډاکي پورې دا په سوات کنبې روان وي. د بټ خېلې په سيمه کنبې د دې سيند نه يو نهر 'امان دره

هېډ ورکس' ته ویستلی شوی. د ملاکنډ قلعه په خوا کښې د یو سرنګ په وسیله د دې اوبه 'جبن' ته رسولې شوي او دلته پرې د برېښنا د پاره بجلي ګهر جوړ کړی شوی دی. د جبن نه وړاندې دغه نهر د یو چړ په شکل کښې 'درګی' ته بوتللی شوی او دلته پرې بل بجلي ګهر جوړ دی. دا نهر بیا د چارسدې ابازو ته وځي، هلته د اوبه خور د پاره کارولی کېږي.

یادګیرنه:

اوس د سوات سیند د بهرین سره په نورو دریو تنډېلونو (tunnels) کښې اړولی کېږي. د دې په ضد د سوات اولسونه مزاحمتي لاریونونه کوي. که دغه سیند واړولی شي نو د سوات د ځائي اولسونو د کروندې زمکې شنډې کېدو سره به دلته د سیلګرۍ په صنعت هم ډېر بد اغېز وي.

## 10. کلپانی:

کلپانی یو وړوکی رود دی چې د مردان سره تېرېږي. د دې سرچینه په سوات کښې 'موره غرونه' دي. د بائېزو په سیمه کښې مردارا، بګیاړي، لوند خوړ او ګدرۍ مرستیال رودونه دي. د سوېل د اړخ نه باکرې خوړ، شاګي او نارنجي خوړ هم د دې مرستیال شي. د سدوم د اړخ نه د تورو رود ورسره ګډېږي. د نوښار چاونۍ سره دا رود د کابل سیند ته لوېږي. د کلپانی نه د اوبه خور کار اخستلی شي.

## 11. د باړې سیند:

په رګ وېد کښې د دې سیند نوم 'پرائي یو' یاد شوی دی. په ژمي کښې د تیراه په سر چې په سپین غر کومې واورې وشي نو په اوړي کښې په کوزه د مېدان په لور په زور کښې دغه اوبه توئېږي. دغه اوبه په اوړي کښې د پشکالي خوړونو سره د باړې په لور ډېرې په زور کښې راځي. دغه اوبه د باړې په سیند یادېږي. د باړې رود په خوړو اوبو یاد دی. د سکهانو او

CamScanner

پېرنګيانو په وخت کښې پېښور ته د باړې اوبه د ځښکلو د پاره را وستلې شوې وې. د باړې په رود د زمانو د وطني شولو کرونده به کولې شوه. پخوا دا سیند د قصه خانۍ په منځ کښې بهېدلو. دا سیند د خمکنو زمکې هم خړوب کوي. د اکبر پوره په سیمه کښې د کابل سیند ته وځي.

د باړې د رود دغه ګډوډې اوبه داسې هم يادېږي:

په دې باړه کښې اوبه ګډې وډې ځينه
شينواري لونګينه! شينواري لونګينه!

د باړې نه دغه اوبه د پېښور ښار نه په سوېل نمر خاته تېرېږي. د جي ټي روډ نه بيا قطب ته اوړي. دغه سيمه په پېښور کښې په 'خالصه' يادېږي چې نن سبا په کښې د ځاروو لويه مېله هم وي. دغه اوبه د ارباب بانډې په څنګ کښې د کابل سيند ته لوېږي.

پخوا چرته په تيرا ډېر باران شوی ؤ. په خالصه کښې د خوړ په غاړه خلکو خرۀ ترلي وو. سېلاب په شين اسمان راغلی ؤ، ټول خرۀ ئې په مخه کړي وو. د هغه وخت نه دا متل د خلکو په خوله شوی چې کله داسې کار وشي چې يو کار يو شان وي او انجام ئې بل شان شي نو خلک وائي 'باران په تيراه وشو او خرۀ ئې د خالصې يوړل' – هم دغه حال د چکدرې او رامورې هم جوړېږي.

12. د کُرمې سيند:

د کُرمې سيند د خپلې سرچينې نه څۀ 320 کلوميټره مزل کوي. د کُرمې سيند په اړه څېړنکاره صفيه حليم ليکي،

'درې ذره کاله پخوا اريائي مناجاتو 'رګ وېد' کښې دا سيند د 'کرومو' سپېڅلي سيند په نامه ياد شوی دی. سيند اوس هم خپله لاره نۀ ده بدله کړې. د دې سرچينه په سپين غر کښې ده.'

د کُرمې غرونو يوې خوا ته د خوست او پکتيا ولايتونه او بلې خوا د پاکستان سابقه قبائلي سيمه کُرمه پرته ده. د دې اوبه د جلال اباد نه اتيا

کلومیټره جنوب لوېدیځ او پاړا چینار نه شل کلومیټره لوېدیځ کښې د 'پیواړ کوتل' ته راښکته شي. دغه دره په ژمي کښې څو میاشتې د سختو واورو له کبله بنده وي.
د کُرمې اوبهٔ درې سوه شل (320) کلومیټره مزل وهلو نه وروستو د بنو په شمال کښې د عیسې خېلو سره اباسین کښې ور ګډې شي. لرغونو انسانانو به د دې سیند سره سره د ګردیز، خوست او میرامشا د لارې تر پنجاب سفر کولو. په لومړۍ میلادي پېړۍ کښې د دې سیند په غاړو د بدهائي عبادت ځایونه هم جوړ وو. یو ځای د کنشکا باچا د واک په شلم کال کښې یوه جعبه (کاسکټ) وموندلې شوه چې په خروشتي ژبه پرې لیکل وو او 'د کُرمې جعبه' نومېده.
د کُرمې په سیند 'ذیران بند' ډېر پخوا جوړ ؤ او د ډنډ نه ئې خلکو اوبهٔ اخستې. په اتلس سوه اتیا (1880) کښې برطانوي فوج پاړا چینار کښې خپل مرکز جوړ کړو نو د دې په شمال کښې ئې د 'ملانه بند' وتړلو. د 'تنګي بند' درې اتیا (83) مېګا واټه برېښنا جوړوي او شاوخوا 84 زره اېکړه زمکه پرې هم خړوبېږي. د دې نه علاوه په دوو نورو نهرونو دوه سوه اتهٔ اویا (278) زره اېکړه زمکه خړوب کېږي. د کُرمې تېټه دره کښې 'سده' یو ښکلې ځای دی.
د کُرمې هوا په اوړي کښې ډېره معتدله او ژمي کښې واورینه وي. د دې په شمالي او لوېدیځو لوړو واوره کېږي. د کُرمې تر ټولو لوی بند 'کوټ راغهٔ' په ملک خېلو کښې جوړ دی. په ډنډ کښې ئې کبان هم ساتلی کېږي. په بلیا مین کښې یو باراني بند 'میداني' هم د کُرمې زمکه اوبهٔ کوي.
د کُرمې او توچي رود چې په لکي مروت کښې په "ګمبېلا" یادېږي، سره یو شي او مخکښې اباسین ته رسي.
د کُرم ګړهي سکیم نه پس دا سیند اوس ډېر زیان نهٔ کوي. یو نهر د کُرمې سیند نه منګل قبیلې د 'کچکوټ' په نوم ویستلی، یو د 'ویال پټونه' په نوم

د شيتک قبيلې ويستى دى چې د مامد خېلو زمکې ترې خړوب کېږي. دغه راز د مېجر نکلسن په مشرى کښې په 1855 کښې يو نهر د 'رام نهر' په نوم ويستلى شوى چې شپږ زره کناله زمکه پرې اوبه ده. دغه راز ويال منډان، ويال فاطمه خېل، خون بها، ويال چشنه او ويال شاه په نوم ولې هم د کُرمې سيند نه ويستلى شوي دي.

13. د توچي سيند:
دا د کوه سلېمان د ختيځ غرونو نه سرچينه اخلي. د شمالي وزيرستان څخه تر بنو راوځي. د کُرمې سيند سره د يو کېدو نه پس د لکي مروت سره اباسين ته وځي. د اوبه خور سره د برېښنا کومه ګټه ترې ډېره کمه ده.
د افغانستان او پاکستان ترمېنځ د اوبو په تړاو هېڅ ډول هوکړه يا کوم تړون نشته. په دې تړاو يوازېنى هوکړه ليک په نولس سوه يويشت (1921) کال کښې د افغانستان او پېرنګيانو تر منځ شوى ؤ چې اوبو ته په کښې ډېره کمه اشاره شوې ده. په دې معاهده کښې برطانيې هوکړه کړې چې افغانستان کولى شي چې د تورخم د اوسېدونکو د پاره د يوې لويې لارې اوبه واخلي او مقابل کښې افغانستان هوکړه کړې چې برطانوي مأمورين او د ډېورنډ کرښې اخوا قبائل کولى شي په کابل سيند کښې د کشتۍ چلولو او اوبو لګونې د پاره کار واخلي.
د افغانستان نه پاکستان ته د اوبو بهېدل 21.5 کلوميټر مکعب دي او له دې جملې 15.5 کلوميټره مکعب ئې فقط د کابل سيند دى.
د افغانستان په نامه د څېړنو مرکز د شمېرو په بنسټ، هر کال 19 ملياره ميټر مکعبه اوبه پاکستان ته بغېر د کوم رسمي تړون هره ورځې او 34 ميلياره ميټر مکعبه اوبه ايران ته ځي. دغو دواړو هېوادونو د افغان اوبو ته په خپله خاوره کښې سترې زيرمې جوړې کړې دي.
د پاکستان د اوبو او برېښنا د پراختيا ادارې د معلوماتو له مخې د کابل

سیند د پاکستان د ټولو اوبو د اړتیا په کچه کښې د شپاړس نه تر اوولس سلنه (%17-%16) اوبه برابروي خو د پاکستان له پولې سره څېلمه په ډکه سټېشن کښې د دغه سیند د تخلیې اوسط کچه 608.4 میټر مکعب په هره ثانیه کښې ده. دغې کچې ته په کتلو سره کابل سیند د سنده حوزې 19.2 کلومیټر مکعب یا 20 سلنه کلنۍ اوبه برابروي.
په افغانستان کښې له جګړو او بې ثباتو وړاندې د کابل سیند په حوزه اووه بندونه جوړ شوي او د دولس بندونو جوړول په پلان کښې وو چې په دوي عملاً کار روان ؤ. دا بندونه به په ټولیز ډول اتلس سوه یو نوي (1891) مېګا واټه برېښنا جوړوله خو هر څه نیمګړي پاتې شول.

14. د هلمند سیند:

هلمند د افغانستان تر ټولو ستر او اوږد داخلي سیند دی چې د ایشیاء په کچه په لسم قطار کښې راځي. هلمند دیارلس سوه (1300) کیلومیټره اوږدوالی لري. دا سیند د 'بابا' غر څخه سر چینه اخلي. د هلمند رود تر څنګه د دې مهم سیندونه او رودونه دا دي: ادرسکن، ارغستان، چګائي، ناور دښته، فراه رود، خاش رود، خوسپه رود، اغنداب، موسٰي قلعه، سرده، غزني، ترنک او ارغنداب.
په اوېستا کښې هلمند په 'هیتومند' نوم یاد شوی دی. د ارزګان په ولایت کښې د هلمند د سیند مرستیالان د کمیسان (Kamisan) سیند او د 'ترین' رود دی چې دا دواړه سیندونه د 'ترین کوټ' په برخه کښې سره یو ځای شوي دي او له هرات وروستو د هلمند سره یو ځای کېږي.
د موسٰي قلعه رود او د 'پاني' رود د سنګین په برخه کښې په هلمند کښې ورتوېږي.
په هم دې توګه د ګرشک په سوېل کښې د 'نوزاد رود' هم ور سره ګډېږي. هم دا ډول د ارغنداب رود د بست د تاریخي قلعه په خوا کښې ورسره یو ځای

کېږي.
د غزني د مرستیالانو سرچنه تر غزني او جاغور پوري بیا رسي. د هلمند د اوبو شبکې دوه لکهه دوه شپېته زره (262,000) مربع کلو مېتره ساحه نیولې ده او د افغانستان په سلو کښې څلوېښت کرنیزې زمکې خړوبوي.
د هلمند د سیند په برنۍ برخه کښې د اوبو جریان چټک دی. د زمکو د توږل کېدو له امله په برنۍ سیمه کښې زمکې تخریبېږي او ښکته د ککجکي بند کاسه د خاورې د کښېناستو له امله ډکېږي.
د هلمند د اوبو په اړه د ایران او افغانستان تر منځ دولتي تړون شته، خو په تېرو څلورو لسیزو کښې د جنګ شرائطو افغانستان دې ته پرې نهٔ ښود چې خپله د اوبو برخه په کامل ډول وکاروي نو عملاً ایران لهٔ خپل حقه زیاتې اوبهٔ درلودي.

15. د ګومل سیند:
دا سیند پهٔ رګ وېد کښې د 'ګوماتي' پهٔ نوم یاد شوی. د ګومل سیند څهٔ څلور سوه (400) کلومېتره مزل کوي. د دې سیند لوی مرستیال سیند 'ژوب سیند' دی چې څهٔ څلور سوه لس (410) کلومېتره اوږدوالی لري. د ګومل سیند د افغانستان لوري غرونو او کسي غر (کوه سلېمان) د کوم لوړو غرونو نه سرچینه اخلي، څکه پهٔ کښې اوبهٔ ډېرې نهٔ وي. ټول کال چې کومې اوبهٔ بهېږي، هغې ته د دغه سیمې خلک 'زام' وائي. دې ته 'د لوني سیند' هم وائي. د وزیرستان نه دا ډېره اسماعیل خان ته ننوځي. پهٔ اوس وخت کښې د 'ګومل زام' پهٔ نامه پرې د اوبهٔ خور او اوولس (17) مېګا واټه برېښنا هم تولید کېږي.

16. د هري رود سیند:
دا سیند یوولس سوه (1,100) کلومېتره اوږدوالی لري او د قراقرم دشتې ته

وځي. دا سیند د بابا غر د لوېدیځ نه سرچینه اخلي چې د هندوکش د زنځیر برخه ده. دې سیند ته په ترکستان کښې Tejen وئیلی شي.
دا حوزه د هري رود، مرغاب او کوشک رود سیندونو څخه جوړه شوې ده او شاوخوا اتیا زره (80,000) مربع کلومیټره مساحت لري.
د مرغاب سیند پهٔ څلوېښت زره (40,000) مربع کلومیټره سیمه کښې پروت دی چې د ترکمانستان پهٔ شګو کښې ورکېږي.
هري رود د بابا لهٔ غرونو پېل کېږي، شپږ نیم سوه (650) کلومیټره د افغانستان دننه بهېږي، بیا سل کلومیټره د افغانستان او ایران پوله جوړوي. ورپسې پهٔ هم دومره اوږدوالي د ایران او ترکمانستان پوله جوړوي او بیا د ترکمانستان لهٔ تجن سره پهٔ شګو کښې ورکېږي.
د هرات پهٔ چشت شریف کښې د سلما بند د هري رود او هلمند ډېره برخه اوبهٔ ذخیره کوي. دا بند شپږ سوه څلوېښت (640) میلیونه مکعب میټره اوبهٔ زیرمه کوي او دوه څلوېښت (42) مېګا واټه برېښنا تولیدوي.
د هري رود اوبهٔ د افغانستان د ابادۍ د پاره ضروري دي خو ایران او ترکمانستان هم ترې ګټه اخستل غواړي. افغانستان د ایران سره د هري رود د وېش د پاره کوم ځانګړی تړون نهٔ لري نو ځکه ایران پهٔ هري رود د بندونو او نورو تأسیساتو جوړولو ته د ګوابښ پهٔ سترګه ګوري.

17. امو دریا:
پهٔ رګ وېد کښې د دې سیند نوم 'وکشو' یاد شوی دی. د امو دریا پهٔ افغانستان کښې یوولس سوه (1,100) کلومیټره اوږدوالی لري. د تاجکستان، ازبکستان او ترکمانستان پهٔ اوږدو سیندونو کښې شمار دی.
دا سیند د Vakhsh او پامیر څخه سرچینه اخلي، د لوېدیځ پهٔ لور ځي او د ترکمانستان پهٔ دښتو کښې ورکېږي. د دې سیند ټول اوږدوالی دوه نیم زره څلوېښت (2,540) کلومیټره دی.

د امو دریا د اوبو حوزه په افغانستان او ګاونډ کښې په دوه لکهه اووه ویشت زره اته سوه (227,800) مربع کلومیټره ساحه کښې غوړېدلې چې یو کم څلوېښت سلنه (39%) (91,000 مربع کلومیټره) په افغانستان کښې ده.
د امو دریا 2,540 کلومیټره اوږد دی چې 1,200 کلومیټره ئې لهٔ تاجکستان، ازبکستان او ترکمانستان سره د افغانستان ګډه پوله جوړوي.
په افغانستان کښې د امو حوزه لهٔ پینځو مهمو برخو (رستاق، خان اباد، کوکچه، کندوز، پنج) جوړه ده. د امو سیند 900 کلومیټره تر د کشتیو چلولو وړتیا لري او د یو مهم ترانزیتیګتي امکان لري.
د امو دریا څنډو ته پرتې زمکې په دوامدار ډول د توږل کېدو په حال کښې دي نو د امو دریا د څنډو د استحکام موضوع د هېواد د سترو حیاتي پروژو یوه برخه بللې کېدې شي. د کوکچې په سیند څلور نیم سوه (450) مېګا واټه شاوخوا برېښنا په ظرفیت د بند پروژه هم ډېزائن شوې وه خو اوس پاتې شوه.
د افغانستان د روانو اوبو لهٔ جملې څهٔ 11%، د پاکستان خاورې ته 10%، د ازبکستان او ترکمانستان خاورې ته، دغه راز څهٔ نهه برخې ایران ته او 40% د هېواد د پولیو دننه کښې ولاړو اوبو دښتو اوقدرتي (تالاوونو) ته ور توئېږي.
د افغانستان کالنی آبي ظرفیت پینځهٔ اویا (75) ملیارده میټر مکعبه دی چې لهٔ دغې اندازې اووهٔ پنځوس (57) ملیارده میټر مکعبه اوبهٔ ئې سطحي (د سیندونو او دښتونو) او اتلس (18) ملیارده میټرمکعبه ئې تر زمکې لاندې اوبهٔ دي.
د افغانستان د اوبو او انرژۍ وزارت د وېنا لهٔ مخه افغانستان د دغو اوبو لهٔ دېرش سلنه لږ کاروي او په پاتې نورو ئې ګاونډي هېوادونه اباد ېږي. د افغانستان اویا سلنه (70%) اولس ته د پاکو اوبو موندلو ستونزه ده.

18. جيندۍ سيند:

چارسده په پښتونخوا کښې د سترو تهذيبونو مرکز پاتې شوی دی. په زرګونه کاله تاريخ کښې 'د برسندې د ګلونو ښار' په نامه 'پشکلاوتي' ياده شوې. د تهذيبونو د دغه اجتماع په چارسده کښې يوه ځانګړتيا دا هم ده چې د پښتونخوا د مستو سيندونو او بهاند سپينو خوړو اوبو 'غونډځای' دی. د پښتونخوا وطن اووه ستر سيندونه (سوات، پنجکوړه، چترال، کونړ نورستان، اليشنګ، پنجشېر او کابل سيندونه) د اشنغر (چارسدې) غېږ ته را ټولېږي. د بارې سيند هم چارسدې ته نژدې د کابل سيند سره غاړه غړۍ کېږي او د چارسدې په خاوره دغه د پښتونخوا وطن د منتشر وجود د سيندونو غورځنګ په يو سيند سره بدلېږي او مخکښې سمندر ته د اباسين سره مزل کوي. دغه راز د چارسدې جغرافيائي موقعيت په داسې ځای دی چې د پښتونخوا د سر د څنې ګل ورته وئيلی شو. دا خاوره د پير روښان نه تر ترنګزو باباجي او د يوې پېړۍ نه که منتشر پښتانهٔ د بهرام خان بابا په کورنۍ سره په چارسده کښې را غونډېږي نو دغه وحدت، ترون او يووالی په دغه خاوره کښې لکه د خپلې خاورې د لکهونو کالو نه د روان سيندونو هم فطري ښکارې.

دغه راز په چارسده کښې د سيندونو را غونډېدل د نورو سيمو په نسبت يوه بله ځانګړنه هم لري، او هغه دا چې دلته سره د دې چې ټولې اوبهٔ د بل لور نه راځي خو په هر سيند ځان له او يو ځای بېل بېل نومونه کېښودلی شوي دي. په نورو سيمو کښې عموماً يو سيند وي نو يو نوم پرې کېښودلی شي خو دلته د سيندونو 'مجموعه' ده، لکه اباسين د پښتونخوا په خاوره دی، 'نيلاب'، 'مهران' او 'دريای سندهٔ' ورته بيا په ښکته وئيلی شوي دي. په چارسده کښې په لويه کچه څلور غټ سيندونه بهېږي: د کابل سيند، د سوات سيند، د کونړ او کابل سيند. تاسو به اورئ چې 'جيندۍ' هم سيند

دی، خو جینډی کوم مستقل سیند نهٔ دی. د کابل سیند پهٔ 'رګ وېد' کښې پهٔ 'کوبا' سره یاد شوی. د دې سیند سرچینه د کابل نه پهٔ 45 کلومیټره کښې د 'سرچشمې' سیمه ده. پهٔ سروبي کښې پهٔ دې یو بند هم جوړ دی. د کابل سیند د ننګرهار پراخه سیمه د کنالونو پهٔ واسطه خړوبوي. کله چې دغه سیند د جلال اباد ښار د شمال ختیځ د ببهسود ډاګ نه تېر شي نو د کامې د زاخیلو د کلي پهٔ سر کښې د کونړ سیند ورسره یو ځای کېږي او بالاخره د لالپورې د تنګي لهٔ لارې د پېښور سیمې ته د ورسک پهٔ سر دره ننوځي.

د کونړ سیند څهٔ څلور نیم سوه (450) کلومیټره مزل کوي. پهٔ رګ وېد کښې د 'راسا' پهٔ نامه د یاد شوي سیند پهٔ اړه اټکل کولی شي چې هم دا سیند د کابل سیند نه د جلال اباد خواوشا کښې څهٔ پنځوس لکهه خلک د خپلې کروندې کار اخلي. د پېښور اتیا سلنه (80%) زمکې د کابل سیند نه اوبهٔ کېږي، د نوښار اووهٔ څلوېښت سلنه (47%) او د چارسدې هم د کروندې ډېره اړتیا پوره کوي. د کونړ پهٔ سیند کښې د اوبو اویا سلنه (70%) برخه د چترال د سردرو ده او دېرش سلنه (30%) اوبهٔ ئې د نورستان پېنځ د رودونو دي.

# د پښتونخوا تراوټ کبان

دا وخت یوازې په سوات کښې د کال څلور سوه (400) میټرک ټن تراوټ کب پیدا کیږي. په مدین کښې تر پنځوس زره (50,000) کلو تراوټ پیدا کیږي. که چرته د پښتونخوا په سیندونو په یخو سیمو کښې پښتنو ته د تراوټ کب د فارمنګ کولو د پاره جدیدې سائنسي اسانۍ ورکړې شي نو د ټول پاکستان د هوټلو اړتیا پوره کولو د پاره به د پښتونخوا نیم پښتانه د پردو هېوادونو د مزدوریو په ځای په خپل کور کښې د خپلو سیندونو په برکت په روزګار شي. بیا که دا پیداوار نور غټ کړی شي نو په نړیواله توګه هم سوداګري ممکن کیدې شي. دغه راز د پښتونخوا ټولو یخو سیمو سره تر د سوېلي پښتونخوا د زیارت او کوئټې پورې د دې کب د نسل افزائش په سوداګریزه توګه تجربه شوې ده. دغه راز په یخو او غرئیزو سیمو د پښتونخوا کښې زمکه کمه وي، د تراوټ روزګار له کروندې ډېر ګټور وي.

د نړۍ په سر په سیند کښې د غذائي څکې په اړه خوندور کب تراوټ وي. یو خو په کښې لشه نه وي، صرف یو غټ تیر په کښې وي، بل چې څومره یخې او واوریني اوبه وي نو د دهٔ نسل په کښې ښهٔ کیږي. اګی چې کله د سیند په اوبو کښې په خوئېدو خوئېدو کښې لړو تودو اوبو ته ورسي نو بچي شي. د کب بچي کېدو سره د یخو اوبو په طلب کښې په سیند کښې پورته په زور روان شي چې ډېر زور له کبله ئې په تن کښې وازده نهٔ جوړیږي. د دې کب د خوند لوی لامل هم دا وي چې دا ټول عمر په سیند کښې د اوبو د بهاو په ضد د پورته تلو هڅه کوي. دغه مبارزه ئې د غوښې خوند کوي. د لسو نه تر پینځلس انچ اوږد وي. د یو ماده تراوټ نه تر دوه زره اګی اخستلې شي. په دوه کاله کښې تر پینځهٔ سوه ګرامه غټیږي. په فارمونو کښې په څوارلس میاشتو کښې د خرڅ قابل کیږي.

وئیلی کیږي چې د تراوټ کب بوزغلی په 1920 کښې پېرنګیانو د پښتنو

سیندونو له راوړی ؤ چې د خپل ژوند د پاره مناسب یخوالي لۀ کبله کامیاب شوی ؤ، ځکه ټراوټ د لوېدیځ د واورینو سیمو ځانګړتیا وه.

دغه راز پۀ 1953 کښې د سوات والي د کالام سیند له د دې بوزغلی راوړی ؤ او پۀ 1960 کښې پۀ مدین کښې د جدید فارمنګ لۀ لارې د ټراوټ کب د سوداګرۍ بڼه خپله کړه.

د هغه وخت نه دا کب دلته پۀ یخو سیندونو کښې خور شو چې د پښتونخوا د سیندونو سره ځۀ پۀ پینځۀ ځلوېښت تالاوونو (جهېلونو) کښې هم ملاوېږي. د 2011 د سېلاب او د کرونا رنځ د لاک ډاون پۀ وخت دې سوداګرۍ ته ډېر زیات زیان رسېدلی ؤ چې اوس ځۀ نه ځۀ بېرته پۀ پرمختګ دی. څو کاله وړاندې د پي ټي آئي د صوبې د واکمنو لۀ خوا د کبانو پالونکو پښتنو سره ډېر لوظونه وشول خو هېڅ ئې و نۀ کړل. اوس وخت کښې د جدید فارمنګ لۀ کبله ټراوټ پۀ فارمونو کښې هم کولی شي چې د سیند نه ورته یخې اوبۀ رواني راړولې شي. پۀ ملاکنډ ډویژن کښې ځۀ درې سوه فارمونه دي چې لوی کچ ئې پۀ سوات کښې دی.

دغه راز پۀ مانسهره، کشمیر، سکردو او ګلګت کښې هم کامیاب دي. پۀ ټراوټ کښې څلور ډوله نسلونه وي چې یو پۀ کښې د ټولوګران 'سالمن کب' وي. پۀ اوس وخت کښې دا تر شپږ زره روپۍ کلو وي خو دلته دا څوک نۀ جوړوي. د سالمن کب پۀ نړۍ کښې تر ټولو ډېر پېداوار پۀ ایران کښې کولی شي، ځکه کاروباري ګټه ئې کمه وي. بل پۀ کښې 'براون ټراوټ' وي چې تر درې زره کلو قیمت لري او بل پۀ کښې 'رینبو ټراوټ' وي چې تر دوه زره روپۍ کلو خرڅېږي. بل 'کېم لوپ' وي.

پۀ اباسین کښې ځۀ دیارلس ډوله قدرتي کبان موندلی شي چې لۀ ټولو خوندور پۀ کښې 'شیر مهی' دی–خو دغه کب ډېر حساس وي. د ځۀ وخت د اقلیمي بدلون او سیندونو ته د ګندونو او پلاستیکو، د ښکار پۀ وخت د برېښنا کرنټ ورکول، بارود کارول او زهر اچولو لۀ کبله پۀ سیندونو کښې د اکسیجن کمی زیاتېږي

چې لهٔ کبله ئې دغه کب هم پهٔ ورکېدو دی. دغه راز د سوات پهٔ سیند کښې پینځویشت (25) ډوله قدرتي کبان کېږي. پهٔ قانوني توګه پهٔ سیندونو کښې د مارچ نه تر اکتوبر د لائسنس د لارې اجازه ورکولې کېږي خو غېر قانوني ښکار او قتل عام پهٔ سیندونو کښې د کبانو نسل ختمېدو ته رسولی دی. د ټراوټ نسل کشي پهٔ دسمبر کښې کېږي خو پښتانهٔ پهٔ دسمبر کښې هم ښکارونه کوي.

پاکستان کښې ټول څهٔ اتهٔ ویشت (28) لوي وارهٔ سیندونه دي خو پهٔ دې کښې شپاړس (16) غټ سیندونه د پښتنو دي. د شپاړس سیندونو خوړې اوبهٔ زمونږ د ځنګلو، کر کروندې، برېښنا او کبانو پاللو لویه قدرتي وسیله ده خو کار مو ترې وا نهٔ خستلو. پهٔ دې وخت کښې د پاکستان پهٔ جي ډي پي کښې یوه برخه ګڼه د 'کبانو' د سوداګرۍ ده. د سیندونو، فارمونو او سمندري کبانو لهٔ برکته څهٔ ځلوېښت لکهه خلک پهٔ روزګار دي. د پاکستان دکبانو پېداوار د کال څهٔ شپږ نیم لکهه ټنه دی.

پهٔ دې کښې څهٔ %0.63 برخه د سمندر او %0.37 د سیندونو او فارمونو ده چې اتیا سلنه (%80) برخه پهٔ پښتونخوا کښې ده.

د کب خوراک د کولسټرول د کموالي لهٔ امله بدني روغتیا د پاره ډېر ګټور دی. پهٔ نړۍ کښې یو کس پهٔ کال کښې د کب خوراک څهٔ اوولس کلو دی خو پهٔ پاکستان کښې دا کچه څهٔ دوه کلو ده. زمونږ پهٔ امروزه ژوند کښې د غنم د کال خوراک د تن پهٔ سر 125 کلو دی خو پښتون وطن دومره د غربت او وحشت ښکار کړی شوی دی چې دغه عام غذائي اړتیا هم نهٔ ده پوره.

پاکستان کښې ټول څهٔ شپږ سوه یو دېرش (631) ډوله کبان دي. پهٔ دې کښې دوه کم څلور سوه (398) پهٔ سمندر کښې او دوه سوه درې دېرش (233) پهٔ سیندونو کښې دي. پهٔ دې کښې څهٔ اتهٔ اویا (78) ډوله کبان داسې دي چې ډېر زیات سوداګري ارزښت لري خو د اقلیمي بدلون لهٔ کبله شپږ څلوېښت (46) ډوله ته د فنا خطر پېښ دی.

# د ورو ممکنه قات:
# پښتونخوا کښې حکومت شته؟

د پښتونخوا حکومت د تېر لس کاله نه پۀ اتلسم آئيني بدلون کښې ګټلې شوې د صوبائي خودمختارۍ مقدمه بائيللې – نور څۀ غواړي؟
مونږ د پاکستان د ګېس پينځۀ پنځوس سلنه (55%) برخه پېدا کوو خو پښتنو ته خپل ګېس پۀ کورونو کښې نشته. د تېلو پنځوس سلنه (50%) برخه پېدا کوو خو آئل رېفائنريز د پنجاب پۀ خاوره جوړې کړې شوې دي. پۀ کارخانو کښې د هنر او لاس مزدوري هم پۀ پښتنو د چا نۀ پېرزو کېږي. دغه حالت د برېښنا هم دی چې پۀ اوس وخت کښې هم د خپل ضرورت نه ځلور برخې زياته توليد کوو خو زمونږ صنعت ته بجلي نشته. د سيندونو خوړې اوبۀ مو د ټولې کروندې زمکې نه شل چنده زياتې دي خو اويا سلنه (70%) برخه د کروندې زمکه بې نهري نظام للمه پرته ده چې لۀ کبله ئې د پښتونخوا د کال اتۀ څلوېښت (48) مېټرک ټن د غنمو پۀ اړتيا کښې فقط دولس مېټرک ټن پېدا کوو؛ باقي دوه برخې د ابادۍ وګړي مو د پنجاب اوړو ته ناست وي.
د کروندې د زمکې کچه هم ورځ تر ورځ د بې ډوله ودانيو او هاؤسنګ سکيمونو خوراک کېږي، خو بل لوري ته هم زمونږ پۀ اوبو د پنجاب شپېتۀ سلنه (60%) برخه زمکه د پنجاب د پښتنو د اوبو پۀ برکت د ټول پاکستان دوه کروړه او پينځويشت مېټرک ټن غنمو پۀ اړتيا کښې پينځۀ اويا سلنه (75%) برخه پېدا کوي او بيا هم دغه غنم پۀ ټاکلې شوي نرخ پښتونخوا ته نۀ ورکولی کېږي بلکې د ګرانۍ پۀ اراده ايسار کړی شوي وي. زمونږ وسائل د وفاقيت پۀ نامه لوټلې شي. د آئين دننه منلې شوې رائلټي هم پښتونخوا ته نۀ ورکولې کېږي خو بل خوا د غنمو يوه وسيله پۀ پېسو هم نۀ ورکولې کېږي او قات ته پښتانۀ کښېنولی شي.
د پښتونخوا د بدامنۍ غم صوبائي حکومت نۀ کوي، د غنمو د قات نه دوي نۀ

دي خبر – د پي ټي آئي سره تړاو لرونکي ځوانانو له پکار دي چې پهٔ خپل صوبائي حکومت غږ وکړي چې د وېرې د لاسه د بدامنۍ پهٔ ستونزه خو غلي يئ، خو دا غنم خو تاسو هم ګران اخلئ! د دې غم ولې نهٔ کوئ؟ پته نهٔ لګي چې پهٔ بني ګاله کښې ناست باچا سلامت ته د سياسي هجوم د پاره پښتانهٔ خو هر وخت ياد وي خو پهٔ پېسو د خپلې خېټې ډکولو د پاره د پنجاب د غنمو بندول نهٔ ويني. پښتونخوا کښې هم پي ټي آئي پهٔ واک کښې ده، پهٔ پنجاب کښې هم پهٔ واک کښې ده. زراعت د اتلسم آئيني بدلون نه پس صوبائي سبجکټ دی خو پښتونخوا ته غنم بند دي – څوک ګرم دي؟

پښتونخوا کښې پهٔ راتلونکو ورځو کښې د غنمو د قات خطره ده. د پښتونخوا د اوړو ميلونو مالکان وائي، د پنجاب نه غنم د تېر کال نه مونږ ته بند کړی شوي دي، حکومت هېڅ غږ نهٔ کوي.

پنجاب وائی، زمونږ خپل ضرورت ډېر دی. خو بل لوري ته زمونږ ګېس چې د ټولې پښتونخوا هر کور ته ورکړلی شي، بيا هم يو پهٔ څلوره ډېر دی. دغه وسيله پنجاب قبضه کړې او پهٔ نيمه پښتونخوا کښې چې کوم د کورونو مات ګوډ ګيس دی، د سي اېن جي پمپونو بندولو سره بيا هم د پخلي د پاره نشته. د پښتونخوا صوبائي حکومت ملونو ته ارزان غنم د ورځې پهٔ شمېر پينځهٔ زره مېټرک ټن ورکوي او د پښتونخوا ضرورت پينځلس زره مېټرک ټن دی چې دغه ارزان غنم فقط شل سلنه (20%) وګړو ته رسي. هر ځای کښې ورته قطارونه ولاړ وي. بل خوا ته پينځهٔ اويا سلنه (75%) وګړي پهٔ ګران نرخ اوړو اخستلو ته مجبور دي. څلور دړې بوجۍ د دولس سوه (1,200) نه پهٔ پينځهٔ مياشتې کښې اتهٔ ويشت سوه (2,800) ته ورسېده خو امکان دی چې نوره هم ګرانېږي. راتلونکي وخت کښې د صوبې حکومت چې تر اوسه د غنمو پهٔ ستونزه حل کولو کښې د پنجاب سره ناکام دی، نور به هم د اوړو کمی او ګراني زياتېږي. د ځان غم د اوس نه کوئ! چاپېر چل داسې چوکر چوکر ښکاري – قصې ټولې ورانې روانې دي.

# د پښتونخوا د بجلۍ شتمني

د بنو په 'پښتون قامي جرګه' کښې د پښتونخوا وطن په قدرتي وسيلو سره سره د اوبو په وسيله هم ډېرې تفصيلي خبرې وشوې. پکار ده چې دغه هر اړخيزه ټولې خبرې په يو ليکلي شوي کتابي بڼه چاپ کړې شي او بيا د پښتنو ټول سياستمدار ځوانان دغه وګوري او په خپلو وسائلو ځان ښهٔ خبر کړي.

منګلا بند د جهلم په سيند په 'مير پور' کشمير کښې جوړ کړې شوې. څهٔ زر مېګا واټ برېښنا توليدوي خو دغه بند سره د ټولې ګټې وټې پنجاب ته ورکړې شوې دی. بل خوا د نړۍ درېم ستر بند 'تربېله' په پښتونخوا کښې د پښتونخوا په اوبو جوړ کړې شوې دی خو ورکړې شوې 'وفاق' ته دی.

تربېله بند په پښتونخوا کښې په اباسين جوړ دی. زمکې په کښې د پښتنو غرقې شوې دي. په 1977 کښې سر ته رسېدلې دی. د نړۍ په سر د اوبو را غونډولو درېم لوی بند دی. د بجلۍ پېداوار ئې درې زره څلور سوه اتهٔ اويا (3,478) مېګا واټ دی. په دې او د پښتونخوا په نورو بندونو کښې بجلي د يونټ په سر په يوه روپۍ دولس انې (Rs. 1.75) خرڅ جوړېږي، خو د بده مرغه د دې بند د ګټې واک وفاق ته ورکړې شوی دی.

د ټولو نه زياته او ارزانه بجلي پښتونخوا پېدا کوي. صرف تربېله اتلس (18) ارب يونټې د کال پېدا کوي. زمونږ د صوبې اړتيا تش لس (10) ارب يونټ ده.

د دې بند سره د پښتونخوا د اوبو بندونو د خپلو اوبو په برکت د تربېله، ورسک، خان پور، کُرم تنګي، ګومل زام، ملاکنډ، چترال او بې شمېره ورو بندونو نه څهٔ شپږ زره اتهٔ سوه اتهٔ څلوېښت (6,848) مېګا واټه بجلي د لاهور نېشنل ګرډ ته، چې د ون يونټ لهٔ برکته د هغه وخته هلته جوړ کړی شوی، غونډولې شي او هم دغه په يوه روپۍ دولس انې جوړه بجلي بېرته په پښتونخوا د ډېرش روپيو نه تر پنځوس روپيو پورې د يونټ په سر خرڅولې کېږي. د پښتونخوا د برېښنا اړتيا

څۀ دوه زره مېګا واټه ده، خو ورکولې د نهه سوه نه تر درې سوه مېګا واټه شي چې صنعتي زون ته پۀ کښې فقط څلور شپېتۀ (64) مېګا واټه ده. دلته نورې 'صنعتي يونټې' نۀ جوړېږي، د بدامنۍ او برېښنا د نشتوالي د لاسه سرمايه دار دلته نور نۀ راځي، هر سړی پنجاب ته مخه کوي. هر پښتون 'د نمر شيشې' د مجبورۍ نه پۀ کور لګوي. بل خوا د پنجاب صنعتي يونټو ته اتۀ زره (8,000) مېګا واټه بجلي ورکولې کېږي او امن پۀ کښې هم مثالي دی – ځکه مونږ وايو چې 'دا جنګونه مذهبي نۀ بلکې سياسي او اقتصادي دي.'

کۀ د اباسين مخ ستنولو نهر 'غازي بروتها' نه د پنجاب حکومت جوړېدونکې 1,455 مېګا واټه بجلي شمار کړو، دوه کال پس د مومند بند نه جوړېدونکې 1,400 مېګا واټه برېښنا شمار کړو نو پۀ دغه شمېر پښتونخوا وطن د خپلو اوبو د وسائلو پۀ زور د پاکستان پۀ شل زره مېګاواټه برېښنا کښې څۀ نيمه برخه توليدوي، خو دې بد مرغۍ ته ګوره چې د 1993 د 'اېن جي قاضي فارموله' تر مخه د کال 128 اربه روپۍ وفاق ته د صوبې حق د برېښنا پۀ 'باج' کښې جوړېږي چې تر 2023 پورې به 230 اربو ته ورسېږي. خو هغه د څو کاله نه ايساره ده چې اوس څۀ د شپږ نيم سوه اربو ته قرض رسېدلی دی. د عوامي نېشنل پارټۍ پۀ واکمنۍ کښې څۀ روپۍ اخستلې شوې وې خو د هغې نه پس څوک غږ نۀ کوي. د پښتونخوا پۀ حق د پاکستان تحريک انصاف او مسلم ليګ تر منځ د استحصال يوه رويه ده.

د خېړنې تر مخه د پاکستان چې څومره قدرتي شتمنۍ دي، پۀ دې کښې 55% برخه د پښتونخوا ده. پۀ اومو تېلو کښې مو برخه پنځوس سلنه ده خو آئل رېفائنرياني ورته پنجاب کښې جوړې دي. پۀ ګېس کښې مو برخه پينځۀ دېرش سلنه ده او نوره هم زياته امکاني ده. د 2025 پورې د ګېس امکان تر 46 ټريلين کيوبک چې امروزه تر 2,000 ميليون کيوبک پورې ممکن دی او د تېلو امکان تر 2.2 بيلين بېرل د امروزه پۀ شمېر تر 135,000 بېرل پورې ممکن دی چې دا

شتمنۍ د پښتونخوا وطن د ټولو وګړو د پاره تر درې سوه کاله پورې کفالت کولی شي. د اوبو، تېل او ګېس په دې شتمنیو کښې د سوېلي پښتونخوا (اوسني بلوچستان) پښتني سیمې او منځنۍ پښتونخوا (پخوانی فاټا) شتمنۍ نه دي شاملې.

په پښتونخوا کښې د شپږ شلې (120) ډوله معدنیاتو د سائنسي سروې، ډسکورۍ، فنشنګ اومارکیټنګ د پاره ګامونه نه اخستی کېږي او ټول کارکوونکي په خپل توان ټک ټوک کوي.

د پاکستان د آئین د 161 او 162 مادې تر مخه، د قدرتي شتمنیو په ګټه وټه وړومبی حق د هغه خلکو دی، چرته چې دا پېدا کېږي. د لس کاله نه د پي ټي آئي په شکل خلک د پښتنو مشران تېلی شوي، ځان ته پښتانهٔ هم وائي، آیا پښتانهٔ دا پوښتنه کولې شي چې تر اوسه د برېښنا، تیلو او ګېس په مد کښې دوي د پښتنو مقدمه څومره وړاندې کړې؟ هیڅ هم نهٔ.

د بجلۍ د نرخ ټاکلو شبکه 'نیپرا' یو بله نااندري کوي. د 'فیول اېډجسمنټ' په نامه ئې د هر چا بل څلور روپۍ او څلور اویا (4.74) پېسې یونټ ګران کړی دی. دومره بدبخته خلک دي چې د پښتونخوا اولس ئې هم په دغه ګرانۍ کښې راوستی دی، خو حقیقت دا دی چې زمونږ ټوله بجلي زمونږ د خپلو اوبو نه جوړېږي. د پښتونخوا په اولس د بجلۍ د تېلو لګښت څنګه راولي؟

بل خوا پښتونخوا وطن کښې څهٔ په اتیا وړو غټو د 'برېښنا' په بندونو کار بند دی. کهٔ دغه بندونه جوړ شي نو پښتونخوا وطن په ممکنه توګه څهٔ ځلوېښت زره مېګا واټه برېښنا جوړولې شي. سمندر ته زمونږ د 'آب زم زم' په شان خوږې اوبهٔ به ضائع کېږي نهٔ. خو دغه اړخ ته په پښتونخوا تپلی شوي لس کلن واکمن کوم پام نهٔ لري؛ ځکه چې د خپلې خاورې نه زیات ورته د تخت اسلام اباد سره ودرېدل ارزښتناک دي. د کښېنډېين فرم د څېړنې تر مخه، د سوات په سیند تر پنځوس زره مېګا واټه د وړو وړو بندونو په وسیله د برېښنا جوړېدل ممکن دي چې نورې

نړۍ ته به پښتونخوا 'برېښنا' ورکوي. داسې نور پېنځلس سيندونه هم دي. کۀ خپلې خوړې اوبۀ پۀ کار راولو، د اوبو واک مقدمه پۀ سياست سره وګټو نو پښتونخوا وطن ځان صرف د برېښنا او اوبو پۀ قدرتي وسيله هم ساتلی شي؛ خو کۀ چا کومه ګټه تر لاسه کړه. راتلونکی وخت د خوږو اوبو دی. چې د چاسره خوږې اوبۀ نۀ وي، وطن به ئې وران وي. پښتانۀ د ډېرو شتمنيو سره خدای پاک پۀ اوبو هم ماړۀ کړي خو پۀ کار راوستو د پاره ئې يو والی، عقل، سياست او تدبير غواړي.

## په مومندو کښې اولس ته بجلي ولې نشته؟

د پښتونخوا د وسائلو د چور تالان خبرې چې کولې شي نو په کښې زمونږ اوبه او برېښنا هم ده. د خپلې بجلۍ د حق لپاره باید چې د مومندو عزیزان ګړندي شي. د باجوړ نه تر وزیرستان د پښتونخوا د نوو ضلعو د برېښنا ټوله اړتیا نهه شلې (180) مېګا واټه ده، ځکه چې په ټوله سیمه کښې یو انډسټرېل زون نشته، صرف کورني ضرورت د پاره کارولې کېږي. د ټولو زیاته برېښنا په قبائلي سیمو کښې په خېبر کښې کارولې کېږي، ځکه چې هلته څه مات ګوډ د پرائیوېټ سېکټر صنعت شته. دغه صنعت بلونه هم ورکوي خو د برېښنا د کموت، د خام مال نشتوالی، د یو یونټ پینځه پنځوس (55) روپۍ ته ختل، دوامداره بدامني او د بهته خورۍ د لاسه د خېبر کارخانې هم په ختمېدو دي. تېر درې کاله کښې د سټیل په شپېته (60) کارخانو کښې څلوېښت (40) بندې شوې دي. په باړه کښې د 'رخت' جوړونې 135 ورې لویې کارخانې وې چې په 2008 کښې د پیر سېف الرحمان او مفتي منیر شاکر تر منځ د غزا جوړېدو پس ټولې د منځه تلې دي. په مومندو کښې چې د ماربلو کومې پرائیوېټ کارخانې دي، هغې نه هم بلونه اخستلی شي، هېڅ کوم رعایت ورته نشته.

په قبائلي سیمو کښې د کورنیو په کچ د بل (قیمت) دود لږ پخوا نشته. یو خو برېښنا تش په نامه ده، لکه اوس په ټولو سیمو کښې دوه ګهنټې ورکولې شي. دوېم دا چې دا سیمې د پاکستان تر 1960 پورې عملاً برخه نه وې. دلته چې د حکومت واک را غزولی شو نو خلکو ته به وئیلی کېدل چې مونږ ته دا سړک او کالونۍ جوړول پرېږدئ، بجلي به مفته درکوو. تر اوسه هغه قصه روانه ده. پکار ده چې د پارلېمان په لېول د دې سیمې اولس ته د رعایت ورکولو سره دا لانجه په وفاقي کچه خلاصه کړې شي، ځکه چې د پښتونخوا د نوو ضلعو د پرمختګ

د پاره د وفاقي بجټ نه شل اربه روپۍ د کال واپډا د بل پهٔ مد کښې هم وصولوي. د ضلع مومند د برېښنا ټوله اړيتا نولس (19) مېګا واټ ده خو پهٔ څلېريشت ګېنټو کښې فقط دوه ګېنټې يعني څلور مېګا واټ ورکولې شي.
اوس به راشو دې ته چې د مومندو پهٔ خاوره بجلي څومره پېدا کېږي؟
243 مېګا واټه يوازې پهٔ ځان د تېر شپېتهٔ کاله نه ورسک ډېم جوړوي. د ډېم د مشر د وېنا تر مخه، دغه کچه پهٔ اوړي کښې د اوبو ډېرېدو لهٔ کبله زياته شي او پهٔ يو ګهنټه کښې د اويا زره کيوسک اوبو پهٔ برکت دوه سوه لس (210) مېګا واټه نېشنل ګرډ ته ورکوي. کال پس به د مومند ډېم نه اتهٔ سوه مېګا واټه برېښنا نوره هم د پنجاب پهٔ لور بوتللې شي خو ضلع مومند کښې به تيارهٔ وي.
د دې جبر سره اوس بل جبر د مومندو د پښتنو سره څهٔ کولی شي؟ د ورسک بند د مومندو د ترکزي قبيلې د داود خېلو، د شام سرخېل او مُلاګورو پهٔ خاوره جوړ دی. پهٔ 1960 کښې چې کله دا بند جوړېدو نو د پېښور د هغه وخت کمشنر مومندو ته ليکلي ورکړي وو چې د يونټ پهٔ سر به تاسو ته رائلټي درکوو. تر اوسه يوه روپۍ رائلټي د مومندو خاورې ته نهٔ ده ورکړې شوې. د دې سره د ورسک نه چې کوم نهرونه ايرابونه وېستلې شوي دي، د مومندو پهٔ لور يو نهر نهٔ دی ورکړی شوی.
نثار مومند څو کالو نه د پښتونخوا پهٔ اسمبلۍ کښې د مومندو د پاره د خپل بند نه د بجلۍ او رائلټۍ د پاره ډېرې چغې وويستې خو د پي ټي آئي حکومت غوږونه کاڼهٔ او سترګې ړندې کړې وې. تر دې چې تېر کال د پي ټي آئي يو ممبر او ډپټي سپيکر محمود جان د ورسک بند پهٔ زمکه د مومندو د ملکيت څخه هم انکار کړی ؤ.
د مومند عزيزان بايد قامي جرګه وکړي چې نهٔ ورته د خپلې خاورې بجلي ورکولې شي او نهٔ رائلټي؛ نو دا ډېم بيا لانجمن دی، ځکه چې د کابل پهٔ سيند د افغانستان د اجازې پرته جوړ شوی د ډېم وړاندې دې يو اوږد پرلت کښېنوي او

خپل حق دې په يو والي سره واخلي.
د ورسک نه سپوا د مومندو سره د ټولو پښتنو پورې د مومند ډېم په نامه هم لوبه روانه ده، ځکه دغه ډېم کال پس پوره کېږي، اتۀ سوه مېګاواټه برېښنا به جوړوي، خو دغه برېښنا به هم د لاهور واپډا هاوس ته اوړلې شي. نۀ به دې پښتونخوا ته کومه رائلټي ورکولې شي او نۀ به مومندو ته يو مېګا واټ بجلي، او نۀ يو نهر د مومند ډېم په نامه څۀ کولى شي.
کۀ چرته د مومند ډېم نه هغه بجلي چې پنجاب ته به بوتللې شي، د هغې پۀ ځای د کروندې د پاره يو نهري نظام ورکړی شوی وی نو دغه ټوله شاړه زمکه ډېره پۀ اسانه خړوب کېدې شوه.

# د پښتونخوا د اوبو مقدمه

زما نوښار، زما مردان او پېښور ډوبوي
د هېڅ چا للمې دې سمسورې نۀ شي
رحمت شاه سائل

پښتونخوا صوبه غريبه نۀ ده بلکې غريبه کړې شوې ده. د دې خاورې نيستي قدرتي نۀ بلکې پۀ ډېر هنر سره د سياسي عمل د لارې تر سره شوې ده. د پښتنو مسائل سياسي دي خو قام ورته پوخ غېر سياسي دی.

زمونږ د پرمختګ راز پۀ سياسي واک کښې دی. دغه سياسي واک به هله ګټور وي چې تر هر څۀ وړاندې زمونږ سياست د وفاقيت د لومو پۀ ځای د خپل مقاميت پۀ حقيقتونو ولاړ وي. د پنجاب د پاره چړچکې کوونکی سياست زر کاله هم دې وطن له ګټه نۀ شي ورکولې. د يو فيډرېشن دننه د قامونو حقوق غصب کول کله هم د منلو وړ نۀ وي. د اولسونو څېښناک او څېښونکي اقتصادي بنسټونه هله ممکن کولی شي چې يو رياست سيکيورټي بنه خپله کړي او فلاحي (Welfare) اړخ تش د نوم تر حده وي.

بله مهمه خبره دا ده چې پنجاب د نورو قامونو د حقوقو غاصب دی. دا تشه مفروضه او پۀ جذباتو ولاړه خبره نۀ ده، بلکې پۀ حقيقتونو بنا ده، خو پۀ 'پنجاب فوبيا' کښې هم نښتل نۀ دي پکار، ځکه پۀ ځای د جمود ښکار کېدل نۀ بلکې د حل لار او خپل قامي حقونه پۀ هر حالت کښې غوښتل او ګټل اړين وي.

پېرنګيانو پۀ خپل وخت کښې پۀ متحده هند کښې څۀ سل کاله وړاندې د نړۍ لوی نهري نظام جوړ کړی ؤ. د وېش نه پس د دغه نهري نظام نوي سلنه (90%) برخه د اوسني پنجاب پۀ برخه کښې راغله.

د پښتونخوا پۀ چارسده، پېښور، مردان، صوابۍ او نوښار کښې چې کوم نهري نظام دی نو دا هم زياتره د پېرنګيانو پۀ وخت کښې پۀ 1899 او 1919 کښې جوړ

شوی دی. د دغه نهري نظام څۀ برخې داسې دي چې د څو پېړيو نه د دغه سیمې پښتنو د ایرابونو او ورو ویالو پۀ شکل کښې پۀ خپل قامي اشر جوړې کړې دي. د دغه د اولس د لاس جوړ آبي نظام تر اوسه لا رسمي کړی شوی هم نۀ دی. چې کله ئې 'بند' یا 'سېلاب' یوسي نو اولس ئې پۀ خپلو اشرو جوړوي.

د پاکستان جوړېدو نه پس د پخواني سنېټر نثار مېمن او رضا محمد رضا د څېړنې تر مخه، څۀ لس زره کلومیټره نهري نظام زیات کړی شوی خو دغه ټول نهري نظام پۀ پنجاب کښې جوړ کړی شوی دی. پښتونخوا کښې پۀ پینځۀ اویا کاله کښې یو نوی نهر یو بېراج هم نۀ دی جوړ کړی شوی، بلکې شته نهرونه هم د زیم ښکار دي. د پنجاب یو اتیا سلنه (81%) برخه زمکه د نهري نظام لاندې ده او د پښتونخوا یو کم اویا سلنه (69%) برخه د کروندې قابله زمکه للمه او باراني ده. د بلوچستان څۀ شپږ اتیا سلنه (86%) برخه زمکه شاړه پرته ده او د سندهـ یو اویا سلنه (71%) زمکه ده.

دغه راز د پاکستان جوړېدو نه مخکښې او پس چې څومره هم 'بېراجونه' او 'هېډ ورکس' جوړ شوي دي، زیاتره پۀ پنجاب کښې جوړې شوي دي چې اووۀ بېراجونه او شپږ هېډ ورکس اوس وخت پنجاب کښې دي. پۀ سندهـ کښې دوه بېراجه او پښتونخوا کښې فقط یو 'منډا هېډ ورکس' دی. دغه بېراجونه او هېډ ورکس پۀ حقیقت کښې اوبۀ پۀ خپله خوښه پۀ هر لور هر نهر ته غورځولی شي او د اباسین د ښکېل کولو یوه ډېره سائنسي پروژه ده.

پۀ 1959 کښې د ون یونټ پۀ برکت واپډا (WAPDA) جوړه کړې شوه، مرکز ئې ورله لاهور کړو چې د ون یونټ ماتېدو نه پس هم هلته پرېښودلی شو. د انډس بېسن سټلمنټ پلان (Indus Basin Settlement Plan) پۀ نامه ئې د اباسین د اوبو د قبضه کولو سترې منصوبې او پراجکټونه جوړ کړل لکه:

1. دوه لوې ډېمونه تربېله او منګلا او کالا باغ ته پۀ ځاو کښې ناست دي.
2. انټر رېور لنک کېنالونه

3. پېنځۀ لوي لوي بېراجونه او يو ون ګېټډ سائفن
4. د پخواني دوو بېراجونو درېلنک کېنالونو پخوانی نهري نظام لۀ نوي سره جوړولو (Remodeling) منصوبې ئې تياري کړې.

د پښتونخوا پۀ ټوله خاوره نهري نظام ممکن دی چې لۀ کبله به ئې زمونږ صوبه بهر ته د غنمو ورکولو توان پېدا کړي. د ډول ډول هائي برېډ تخمونو پۀ برکت به زمونږ کرونده مثالي شي، ځکه دا بهاند سيندونه د دومره لوړو نه پۀ دومره زور سره راځي چې هر لوري ته اوبۀ اړول ترې ممکن دي. کوم ځای کښې چې ستونزه وي نو اوس سائنسي وخت دی د غرونو دننه ټنډېل (ټنل) دا هر ځۀ ممکن کولی شي.

د پښتونخوا وطن د جغرافيې فطرتي ځانګړتيا داسې ده چې د اټک نه دا زوروري اوبۀ ښکته شي نو قدرتي زور ئې هم مات شي او د مړو اوبو پۀ مثال شي؛ ځکه خو سائنسي مستندې څېړنې حېرانوونکې دي چې د پښتونخوا د سيندونو نه د غرونو پۀ درو کښې هر دوه کلوميټره پس څلور سوه د برېښنا بندونه ممکن دي. تر دوه لکهه مېګا واټه پورې برېښنا ترې ممکن ده، خو ولې بل اړخ ته د اټک نه لاندې تر بحيره عرب پورې يو قدرتي ډېم هم د اوبو د زور ماتېدو لۀ کبله نۀ دی ممکن.

د اوبو پۀ وېش کښې هم پۀ 1991 کښې زمونږ سره د ای جي اېن قاضي فارمولې لاندې بله لوبه شوې ده او هغه دا چې دغه وېش او فارموله پارلېمان ته نۀ ده وړاندې کړې شوې، د وخت 'بيوروکرېسی' کړې چې پۀ نتيجه کښې د دغه 'آبي تړون' هېڅ آئيني بنه نشته. دوېم دا چې دغه وېش د نهري نظام د شتون پۀ بنسټ شوی نو لازمي خبره ده چې د اوبو مالکان پښتانۀ دي خو نهري نظام ورسره نشته، نو برخه ئې هم پۀ سلو کښې 87/8 برخې ده. پۀ دغه شته برخه کښې هم زمونږ نهري نظام بيا د کموت سره مخ دی نو درې څلور برخې راته ملاوېږي او نور يو ميليون ايکړ فټ اوبۀ پنجاب ته پۀ مفتو کښې ځي. درېمه دا چې د دغه تړون اتۀ څله

منظوري ورکړي شوي، په آئين کښې د آرټيکل 161 لاندې رائلټي منلې شوې خو عمل پرې نشته، تش حساب کوو.
اوس پوښتنه دا ده چې نهري نظام زمونږ ولې کم دی؟ اصل ستونزه په دې رياست کښې د پنجاب نه پرته د نورو اولسونو د حقوقو د غصب کولو د پاره د وفاقيت په نامه د مرکزيت بالادستي وه. دغه د ون يونټ په شکل کښې هم وه او اسلام اباد ته د پلازمېنې راوړلو پس هم. ځکه واپډا هاؤس نن هم د اسلام اباد په ځای په لاهور کښې ساتلی شوی دی. پوښتنه هم دغه ده چې د يو وفاقي محکمې مرکز څنګه د يوې صوبې په مرکز کښې ساتلی شي؟ دغه زېر ځواک په اتلسم آئيني بدلون کښې څۀ نه څۀ مات شوی خو لا نيمګړتياوې په کښې شته. د پنجاب لۀ خوا د وخت نه دا هڅه شوې چې په نورو صوبو کښې 'نهري نظام' جوړ نۀ شي، ځکه چې بيا به خامخا د پنجاب د اوبو برخه کموي. ولې پنجاب خو خپل درې سيندونه ستلج، بياس او راوي په 1960 کښې په 'سندھ طاس' کښې بائيللي دي. اوس دغه اوچ دي. دغه راز جهلم او چناب هم د هند په ولقه کښې دي. د پښتنو د اوبو نه بغېر د پنجاب بله هېڅ لار نشته. د دغه اوچو سيندونو لارې هم اوس د اباسين په اوبو ودانې دي. کۀ چرته زمونږ په صوبه کښې نهري نظام خور شي نو وړومبی حق د ملکيت به زمونږ وي. کۀ په خوښه نۀ وي، په زور هم خپلې اوبۀ ايساروليې شو، ځکه د نړۍ په هر قانون کښې د قدرتي وسيلې حق ملکيت د هغه خاورې وي چې په کومه خاوره کښې وي او دغه د پنجاب زورور کله هم نۀ غواړي. بله دا چې تر څو مونږ د خپلې خاورې واک د قامي خلکو په لاس کښې ور نۀ کړو نو ناخبره او لوفران کله هم د خاورې مقدمه نۀ شي ګټلې.
د اوبو په اړه يوه بله نانديري په وېش کښې شوې. د پاکستان ټولې خوړې اوبۀ 142,000 ميليون ايکړ فټ دي خو وېش د 117,000 اوبو شوی. دا باقي پينځويشت برخې اوبۀ چرته ځي؟ دلته بله غلا شوې؛ د پاکستان په اوبو کښې دېرش برخې (30%) اوبۀ د افغانستان د لورې دي. تر اوسه د پاکستان د

افغانستان سره د خوړو اوبو د کارولو هیڅ تړون نشته. د افغانستان د دوامداره عدم استحکام شا ته یو لامل د خوړو اوبو هم دی، ځکه چې خپلواک خلک نهٔ وي نو د خپل حق پوښتنه خو پردی ټوپکمار نهٔ شي کولې. د افغانستان د ایران سره د امو دریا خو تړون شته خو د پاکستان سره نشته. کله چې پهٔ 1991 کښې د صوبو تر منځ آبي تړون کولی شو نو د افغانستان د لوري اوبهٔ د وېش نه وویستلې شوې، خو بل لوري ته دغه اوبهٔ خو را رواني دي نو پهٔ دغه اوبو هم پنجاب قبضه وکړه او بغېر د کوم تړون نه دغه اوبهٔ هم ټولې پنجاب کاروي. زمونږ سره خو نور نهري نظام نشته خو د سندهـ سره شته نو سندهـ پرې د پنجاب سره تر اوسه پهٔ لانجه دی – وائي پهٔ دغه اوبو کښې به ما له هم برخه راکوې.

دغه راز د گمبېلا سیند "گومل زام" هم د وېش نه بهر ساتلی شوی. دغه اوبهٔ او پهٔ دغه سیندونو کښې راتلونکې د لویو سېلابونو اوبهٔ هم پنجاب بې وېشه بې قیمته خوري. د دې سره د جهلم سیند نیمې اوبهٔ چې څهٔ دولس زره کیوسک جوړېږي، هم د پښتونخوا د 'کنهار' سیند دي. دغه اوبهٔ هم پنجاب خپلې کړې دي.

د اوبو پهٔ اړه یوه بله ناروا د 'غازي بروتها' پهٔ شکل کښې شوې چې د دې سره د ټول اباسین پهٔ بدهٔ کولو پلان دی. میاوالي او اټک هم د اباسین د قبضې د پاره پنجاب د پښتونخوا د اباسین د پخې قبضې د پاره غوځ کړي. بله پنجاب دا هڅه هم کوي چې د غازي بروتها پهٔ وسیله د 'اکوړي' پهٔ ډېم کښې دغه اوبهٔ ډنډ کړي او داسې اباسین د تل د پاره پهٔ خپله ولقه کښې پهٔ خپله نوې لار راولي. د کالا باغ بند شا ته هم د اباسین د قبضه گرۍ فلسفه ده.

د وفاق پهٔ نامه د پنجاب د زیر څواک پهٔ پښتونخوا کښې د برېښنا او اریگېشن د پروژو پهٔ اړه 'زړهٔ لگي' د دې نه معلومېږي چې څهٔ دوه نیم سوه د برېښنا او د وړو بندو پروژې د څو کاله نه نیمگړې پرتې دي.

باچا خان بابا یو وخت وئیلي وو چې کهٔ پښتنو بېدار نهٔ شوئ، خپل حقوق و نهٔ

پېژنئ نو اباسين به درنه يوه ورځ ځوک پټ کړي او خبر به هم نهٔ شئ. د باچاخان بابا روح دې خبر وي چې د هغهٔ دغه 'ګفت' پهٔ 2003 کښې رښتيا شوی دی. پنجاب د غازي بروتها پهٔ شکل پهٔ رښا ورځ 'اباسين پهٔ بډه کړی' او قام ترې لا اوس هم نهٔ دی خبر چې دا غازي بروتها پهٔ کښې لا څهٔ بلا ده؟

د صوابۍ پهٔ سيمه د اباسين نه د غازي بروتها پهٔ نامه پهٔ پنجاب کښې بجلي ګهر او بيا 9/51 کلوميټره د نړۍ لوی پوخ نهر وېستلی شوی. دغه نهر نهٔ بلکې پهٔ حقيقت کښې سيند دی، ځکه چې درې سوه فټه پلن او اتهٔ څلوېښت فټه ژور دی. پهٔ يو سېکنډ کښې 1,600 کيوبک ميټر اوبهٔ پهٔ کښې ځي. د اباسين نه څهٔ اتيا زره کيوسک اوبهٔ پهٔ دغه نهر کښې اړولې شوې دي. اباسين به زر پهٔ خوړ بدل شي او د غازي بروتها پهٔ لار د اسلام اباد او راولپنډۍ مقدس ځای ته به خوړې د څښکلو د پاره اوبهٔ هم ورکړې شي. پهٔ غازي بروتها دوه سوه اربه روپۍ د وفاق لهٔ خوا شريکې لګولې شوې دي خو ګټه ئې پنجاب ته ځانګړې ورکړې شوې ده. د بند سره د پنجاب پهٔ لور 'بېراج' پاور چېنل او پاور کمپلېکس هم جوړ کړی شوي چې پهٔ يوه روپۍ تهٔ پېسې (Rs. 1.08) ارزانه برېښنا پرې جوړولې شي.

د اوبو پهٔ نامه او ظالمانه وېش دغه راز د پښتونخوا د پينځهٔ ډويژنونو اويا سلنه (70%) زمکې ته نهري نظام نهٔ ورکول داسې لويې خبرې دي چې د اولس ټول ژوند ورسره تړلی شوی دی. د دې ستونزې د حل دوه لارې دي: يوه دا چې پهٔ پارلېمان کښې د پښتنو قامي ګوندونو له پښتانهٔ اکثريت ورکړي او دلته دا مقدمه د 'رېډ لائن' پهٔ توګه رياست ته وړاندې کړې شي او دوېمه د غازي بروتها پهٔ مسئله د پښتنو سره دا لار هم شته چې 'ټربيوال عدالت انصاف' ته تګ وشي، ځکه د زرګونو کالو نه روان د يو سيند مخه پهٔ بل لور ارادي اړول ټربيوال جرم دی او دا جرم ښهٔ پهٔ جار شوی او نور هم اراده لري.

# 'کالا باغ'
## د پنجاب باغ

وخت په وخت سېلابونو دا خبره ښېخي څرګند حقیقت ګرځولې چې کالا باغ بند د پښتنو د پاره Red line دی. د دې بند په ضد د پښتنو د پاره څوک کلک ولاړ دي؟ باید دا د پښتنو د حافظې نه هېر نۀ شي.
د کالا باغ بند په اړه د زمانو نه خبره کېږي خو دا بند کله هم نۀ شي جوړېدی. د دې بند په نۀ جوړېدو کښې دوه مهمې خبرې ځنډ شوې دي: یوه دا چې د پاکستان د وفاق په څلور اکایانو کښې درې صوبې د دې په ضد کلکې ولاړې دي، ځکه پښتونخوا، سندھ او بلوچستان دا ګڼي چې دا بند د پنجاب د پاره 'باغ' او د درې صوبو د پاره 'کالا' دی. د برېښنا ټول ټربائن سستم، مهمې ودانۍ، کاریګر خلک به ټول د پنجاب په خاوره وي او ډوب وي به زمونږ وطن! بله مهمه خبره دا چې په راتلونکي کښې د کالا باغ سره د اوبو بند مقدمه په اتلسم آئیني بدلون کښې ګټلې شوې ده. د اتلسم آئیني بدلون تر مخه د اوبو کومه پروژه چې هم په کومه صوبه کښې جوړېږي، نو ورومبی د هغه صوبې خوښه په کښې آئیني اړتیا ده.
سندھ اسمبلۍ د کالا باغ بند په ضد دوه کرته قراداد منظور کړی. دغسې د پښتونخوا قامپاله سیاست مدار ئې د باچا خان بابا نه تر اوسه پورې په مېدان څرګند مخالفت کوي. دغه راز د دې بند سره به د سندھ د اباسین نه د اوبو برخه نوره هم کمه شي. څۀ برخه ترې په ټربېله کمه شوې ده. ډېرې اوبۀ زمکې په سندھ کښې للمې شوې نو ځکه سندهیان نور د پنجاب په قیمت خپلې زمکې نۀ شاړوي. بلوچستان ئې د خپل نهري نظام سره د ورو صوبو سره جبر مني او پښتونخوا خو په کښې ښېخي لاهو کېږي. دغه راز دا پروژه د ضیاء الحق په وخت

کښې ډېره په زور شور اوچته کړې شوه. هغه وخت باچا خان بابا اولس ته د دې بند په اړه نبغ په نېغه لاړو. د کالا باغ بند نۀ جوړېدل د باچاخان "ګفت" دی.
اعظم هوټي يو ورځ خبره کوله چې زۀ د نوازشريف وخت کښې وزير وم نو د کالا باغ په اړه غونډه وه. يو جرنېل صاحب ورته راغلی ؤ. جرنېل صاحب چې خبره وکړه نو په اخر کښې مخې ته پروت مېز له ئې سوک ورکړو او وې وئيل، "کوئي مائي کا لال کالا باغ کو نهين رکوا سکتا". کله چې دۀ دا ووئيل او زما د خبرې وار شو نو ما هم په اخره کښې مېز له سوک راخلاص کړو او و مې وې "کسي کا باپ بهي کالا باغ هم سی نهين بنا سکتا".
په پښتنو کښې هم ځينې پردي دلالان لکه د انجنئير شمس الملک په شان وو چې ټول عمر ئې د پنجاب نمک حلالي کړې خو ناکام شوي. د پنجاب ملاتړي چې کله هم سېلاب راشي نو د کالاباغ چغې شروع کړي، خو په حقيقت کښې هم دغه ذهنيت د سېلابونو ذمه وار دی. ځکه چې په نړۍ کښې د غټو بندنو د ډېرو زيانونو لۀ کبله دغه روايت ختم شوی، اوس په نړۍ کښې ټول په ټوله وړو بندونو ته پام دی، ځکه چې جوړېږي په کم لګښت او ورسره زيان ئې هم کم وي. کۀ چرته د پښتنو په سيندونو واړۀ واړۀ بندونه جوړ شي نو پښتونخوا به ګاونډي هېوادونو ته هم د برېښنا ورکولو توان ولري؛ خو داسې پنجابي ذهنيت نۀ کوي، ځکه چې بيا ګټه به د رائلټۍ او ممکنه خپلواکۍ په مد کښې د پنجاب په ځای پښتونخوا ته ملاوېږي. دغه راز د دغه پروژو د کارګرو خلکو لګښت او د هائيډل پاور مشين ګرو ګټه به هم په پښتونخوا کښې ايسارېږي چې پنجاب ئې کله هم نۀ غواړي.
د کالا باغ بند په اړه بله خطرناکه خبره دا ده چې سېلاب دا کوم زيان کوي نو اوس ډېر کم دی، ځکه اوبۀ ښکته رواني وي، خو کۀ دا اوبۀ يو ځل ډب شوې او د ښکته نه ئې زور بره راغلو او داسې خطرناک باران کوم کال وشي نو چې د ښکته خوا اوبۀ راغلې نو د پښتونخوا وجود به د تل د پاره ختم شي، ځکه د پښتونخوا زړۀ

پېښور، چارسده او نوښار به په کښې لاهو کېږي.
ښاغلی امجد شهزاد د کالا باغ بند د بشپړ زیانونو په اړه وضاحت سره داسې لیکي:

1. د کالا باغ بند په اړه تر اوسه ټول دروغ وئیلی شي. په اویا کاله کښې دا څرګنده نهٔ کړې شوه چې دا د اوبهٔ خور د پاره ګټور دی او کهٔ د برېښنا د پاره؟ ممکنه څومره اړخونه چې سپړدلی شوي نو دا ټول وائي چې دا بند د زیانه ډک دی.
2. د کالاباغ ډېم خاکه په وړمبي ځل په 1953 کښې وړاندې شوې وه خو د دې نه وړاندې په 1952 کښې چې لا د ډېم خاکه جوړه نهٔ وه او د ډېم منصوبه وړاندې کړې شوه نو د ماحولیاتي سوسائټۍ سېکرټري جنرل ډاکټر محمد ناصر په خپل تحقیقاتي رپورټ کښې لیکلي وو چې دا منصوبه د ډېر نقصان په وجه د امریکي ماهرینو رد کړې او د تباهۍ او بربادۍ موجب ئې ګرځولې ده.
3. د ډېمونو د تعمیر عالمي شهرت لرونکي ماهر ډاکټر ساوېج د کالاباغ ډېم په غرونو د سالټ رېنج (Salt Range) لهٔ کبله د ډېم تعمیر غېر مناسب وګرځولو. د پنجاب سره تعلق لرونکي پخواني وزیر خزانه چې د پېشې په لحاظ انجنئیر دی، ډاکټر مبشر حسن، د کالاباغ ډېم ډېزائن غلط ګرځولی دی او وئیلي ئې دي چې په دې منصوبه د عمل درامد کولو په صورت کښې د خېر اباد نه واخله تر چارسدې پورې په یوه دائره کښې محیط د کر زمکه به تباه شي او د دې ځای خلک به په خپلو کورونو پرېښودو مجبور شي. ډاکټر مبشر حسن کالاباغ ډېم د ورلډ بېنک سازش ګرځولی دی. د صوبه سنده مشهور انجنئیر مسټر جي کی سومرو د دریای سنده د ټولو آبي وسائلو د تجزیې نه پس د کالاباغ ډېم تعمیر بېخي غېر موزون ګرځولی دی.
4. د کاغذي کاروایۍ نه پس چې بیا کله 1985 کښې د نوښار، اکوړې او کابل

طاس په علاقو کښې واېډې ځای په ځای سره نشانونه لګول شروع کړل نو د پښتونخوا اولس فکرمند شو او چې خبره ډاګې ته شوه نو د دې پراجکټ د پښتونخوا او سندهـ په هره طبقه کښې مکمل مخالفت وشو چې د سندهـ او پښتونخوا قام پرستو سياسي ګوندونو په کښې ځانګړې برخه واخسته.

5. د کالاباغ ډېم د تعمير سره د اوبو د وېش کشاله تړلې شوې ده. د نواز شريف په وړومبي اقتدار کښې چې کله ټولو صوبو کښې د هغهٔ حکومتونه وو نو د اوبو د وېش په حقله يوه معاهده شوې وه او په دې حواله 'سندهـ رېور اتهارټي' جوړه شوې وه. چونکې په اتهارټۍ د پنجاب هولډ ؤ او مرکزي دفتر ئې هم په پنجاب کښې ؤ نو ځکه دا معاهده چا قبوله نهٔ کړه او دغسې د ناکامۍ سره مخ شوه.

6. د اوبو تقسيم د 1919 راهسې متنازعه را روان دی. په دې حقله 1945 کښې د مشرقي او مغربي پنجاب د حکومتونو تر منځه د يوې معاهدې او وروستو د سندهـ طاس د لوظنامې په وجه پنجاب د خپلو درېو مشرقي دريابونو نه لاس ووينځل. د ون يونټ په دور کښې د 1945 د معاهدې خلاف پنجاب ته د ذيلي نهرونو په ذريعه زياتې اوبهٔ ورکړلې کېدې چې په سندهـ کښې پرې ډېر احتجاج وشو. د دې کشالې د هوارې د پاره ډېر کمېشنونه جوړ کړی شول چې خپل رپورټونه ئې د هغه وخت حکومتونو ته ورکړل. په دې رپورټونو کښې د جسټس اختر حسېن او جسټس فضل اکبر رپورټونو ښهٔ شهرت بياموندو خو دا رپورټونه هم لکه د نور کله د سرد مهرۍ ښکار شول. پنجاب ټولې معاهدې شا ته ګوزار کړې او په کېنال سکيم ئې کار شروع کړو نو صوبه سندهـ نور هم په اشتعال کښې راغلو. ځکه چې د ځهٔ فيصلې نه بغېر په اېډ هاک بنياد پنجاب حق نهٔ لرهٔ چې د دريای سندهـ نه زياتې اوبهٔ واخلي. په دې نهٔ صرف د سندهـ د اوبهٔ خور نظام متاثره کېدو بلکې د سندهـ ټول بېراجونه هم د تباهۍ د خطرې سره مخ کېدل.

7. د سندهـ طاس معاهدې مطابق د دریای سندهـ لس میلیونه ایکړ فټه اوبۀ (پۀ لس لکهه ایکړه زمکه کښې یو فټ اوبۀ ودرولې شي نو دې ته یو میلیون ایکړ فټ اوبۀ وائي) پۀ سمندر کښې غورځېدل ضروري دي ګنې پۀ دوېم صورت کښې به د لس پینځلس کلونو پۀ موده کښې سمندر ټهټه او کوټړي ته را ورسي.
8. د مردان سکارپ منصوبه چې تر اوسه پورې پرې پۀ اربونو روپۍ خرڅ شوې دي، دا به مکمل ناکاره شي او د سېلاب پۀ صورت کښې به د اوبو سطح کلپانۍ ته وخېژي.
9. د پېښور او مردان درېو اړخونو ته ډېمونه جوړ دي (ورسک ډېم، تربېله ډېم او خان پور ډېم) د کالاباغ ډېم پۀ جوړېدو به د دریای کابل قدرتي ډرېنج ختم شي.
10. د پېښور کراچۍ رېلوی لائن، جي ټي روډ، سوئي ګېس پائپ لائن، پېښور اسلام اباد موټروی، ځای پۀ ځای کارخانې بازارونه، پېنډۍ کوهاټ روډ او رېلوی لائن، د خوشحال ګړهـ او اټک پلونه، د بجلۍ هائي پاور ټرانسمېشن او توت آئل فیلډ به د ډېم پۀ وجه تباه شي او پۀ لکهونو خلک به بې کوره او د دې نه زیات به متاثره شي.
11. د سېلاب پۀ صورت کښې به د خېر اباد نه واخله د چارسدې او مردان پورې علاقه د ډنډ شکل اختیار کړي.
12. دا منصوبه زمونږ د پښتنو مشرانو خوشحال خان خټک، اکوړ خان قبرونه زیارتونه، د ازادۍ د جنګ د بې شمېره شهیدانو مقبرې، جماعتونه او دیني مدرسې ډوبوي.
13. د ډېم د اوبو سطح چې اوچته شي نو د دې سره به زلزلې او نور قدرتي آفتونه زیات شي. دریای کابل د ځان سره دومره شګه او خاوره راوړي چې د ماهرینو مطابق د لسو نه دولسو کالو پورې به د ډیم اوبۀ د اوبۀ خور د پاره

پکار نۀ راځي.

14. پېښور او مردان ډویژن دومره زرعي پېداوار کوي چې صرف د تماکو او چینې پۀ مد کښې صوبې او مرکز له پۀ اربونو روپۍ محاصل ورکوي. د پاکستان د ورجینا تماکو 89% پېداوار او د پاکستان د تماکو د عام پېداوار 71.3% پښتونخوا کښې کېږي چې زیاته برخه ئې دغه دوه ډویژنونه پېدا کوي. د ډېم د جوړېدو پۀ وجه به دغه محاصل ختم شي.
15. د ډېم خواوشا علاقې د جیسم او نورو معدنیاتو نه ډکې دي. دا معدنیات پۀ اوبو کښې نۀ حل کېږي، د دې سره به د اوبو مقدار او پرېشر کم شي او د ډېم مقاصد او فوائد به نیم پۀ نیمه کم شي.
16. د نوښار د محفوظ ساتلو د پاره چې د ډانګو (حفاظتي پُښتیو) جوړولو خبره کېږي، د دې پۀ وجه به نوښار او نوښار چاونۍ پۀ پینځلس برخو کښې تقسیم شي.
17. سالټ رېنج ته چې اوبۀ ورسي نو د ډېم اوبۀ به مالګینې شي، پۀ دغه وجه به زمکې ښوره شي او ډېرې زر به د کر او کار نۀ وځي.
18. د ډېم عمر به د لګولې شوې اندازې نه ډېر کم ثابتېږي.
19. دا ډېم د لګښت پۀ لحاظ د دنیا پۀ غټو منصوبو کښې راځي خو د فوائدو پۀ لحاظ به کم سودمند وي.
20. پۀ اوبو کښې د خاورې د تناسب پۀ وجه به د بجلۍ د ټربائن د زر زر بدلولو ضرورت پېښېږي. دا مستقل ضرورت به د بجلۍ پېداوارې لګښت نور هم ګران کړي.
21. پۀ مقرره مقدار کښې چې اوبۀ سمندر ته نۀ پرېوځي نو ځو کلونو کښې به سمندر ټهټې او کوټرې ته را ورسي.
22. د کالاباغ ډېم پۀ وجه به د سنده زرخېزه زمکه پۀ صحرا کښې بدله شي او د بلوچستان فټ فیډر نهر ته به د اوبو رسد نیم پۀ نیمه کم شي.

23. د کالاباغ ډېم نه ښۀ ډېم د تربېلې نه بره د بهاشا پۀ مقام دی چې د دې نه پۀ کم خرڅ جوړېدی شي، مات ګوډ کار پرې روان هم دی او هغې ته هغه شان پام نشته.
24. د بهاشا نه علاوه که پۀ داسو، سکردو، چترال او دير کښې ډېمونه جوړ کړی شي نو دا به پۀ کم خرڅ کښې د بجلۍ زيات پېداوار ورکړي.
25. د دې ډېمونو پۀ جوړېدو به د تربېله ډېم پۀ طبعي عمر کښې قريباً پنځوس کاله اضافه وشي (د تربېله ډېم طبعي عمر نور صرف شل کاله پاتې دی).
26. کال 30-2023 کښې چې تربېله ډېم د لهې نه ډک شي، د اوبو د بهير سره به دا لهه مجوزه کالاباغ ډېم ته ځي او د ډېم عمر به نيم پۀ نيمه کم شي.
27. د بهاشا ډېم د بجلۍ پېداوار اندازاً 3,360 مېګا واټ دی. د روئي شين (چترال) پۀ مقام زېر تعمير بجلي ګهر به 400 مېګا واټ، 400 مېګا واټ ضلع دير بجلي ګهر، 400 مېګا واټ ضلع سوات بجلي ګهر پېداوار دی. دا بجلي ګهرونه تقريباً مکمل دي. د يوې حاليه سروی مطابق صرف پۀ ضلع کوهستان کښې د 2,500 مېګا واټ بجلۍ وسائل موجود دي. ډېر پۀ کم لګښت او کم زيان کښې ممکن دي خو هغې ته پام نشته.
28. د بېن الاقوامي معيار مطابق 2,400 مېګا واټ د بجلۍ پېدا کوونکي يونټ باندې 3.5 ميليون ډالره خرڅ راتلل پکار دي. کۀ اخراجات د دې نه زيات شي نو دا منصوبه پۀ اقتصادي لحاظ غېر سودمنده ده. کالاباغ ډېم د دې غټ مثال دی.

يونيورسټي آف انجنئيرنګ اېنډ ټېکنالوجي لاهور د شعبه برقيات پروفېسر عبدالوهاب د بجلۍ پېدا کولو يو بل اړخ هم پۀ ګوته کړی دی. د هغۀ دعوی ده چې د چشمه اېټمي بجلي ګهر نه 900 مېګا واټ بجلي پېدا کولو منصوبه ده. پاکستان کښې د خځلې، کچرې مقدار چې د خشاک پۀ توګه استعمالولی شي نو دغه هومره بجلي ترې حاصلېدې شي. صرف د لاهور او کراچۍ د خځلې

(کچري) نه 100 او 200 مېګاواټ پورې بجلي تر لاسه کېدې شي او دغه قسم بجلي پېدا کولو والا يونټ هم په پاکستان کښې په هېوي مکېنيکل کمپلېکس ټېکسلا کښې جوړېدی شي. په جرمني او نيويارک کښې په دې سسټم بجلي پېدا کېږي. د 500 مېګا واټ اېټمي اوپن بجلي ګهر په تعمير کم نه کم لس کاله موده لګي. هم د دغه مقدار بجلي پېدا کوونکی په کچره چلېدونکی بجلي ګهر به دوه درې کاله کښې پېداوار شروع کوي.

# د وزیرستان خزانې د ښامار په خوله کښې

پښتانۀ وائي، چرته چې خزانه وي هلته پرې د پاسه ښامار پروت وي. دغه ښامار کۀ پخوا اسطوره وه خو پۀ اوس وخت کښې د پښتونخوا وطن د خزانو پۀ اړه ښخي د حقیقت ښه لري.

د پښتنو ټوله خاوره سپېرو بادونو وهلې خو د شمالي وزیرستان پښتانۀ ښخي پۀ اور کښې ولاړ دي. کۀ یو اړخ ته د پښتنو دا بدبختي ده چې د ژوند منت کوي نو بل خوا د دې خاورې شتمنۍ کۀ وکتلې شي نو چور تالان پرې ګډ دی- پښتانۀ ئې صرف تماشه کوي.

د امریکې مېري لېنډ پوهنتون کښې پښتون استاذ ډاکټر عاصم ایسپزی پۀ شمالي وزیرستان کښې د دغه خزانو پۀ لټه کښې د 'تانبې' پۀ اړه پۀ خپل کتاب کښې لیکي،

> "د بنو نه تر میرعلي میرامشا پۀ یو نیم سل کلومیټره سیمه کښې تر پنځوس میلیون ټنه تانبې لټه پۀ 1990 کښې شوې وه. کله به چې ډرېلنګ کېدو نو زۀ به پۀ کتلو حېران وم چې پۀ دغه خاوره کښې د تانبې سره ځومره سرۀ زر، سپین زر، اوسپنه، او نیکل راوتل. تانبا چې کله د اووۀ سلنه بره شي نو د یو جنس لۀ کبله د سرو زرو رګ هم ورسره پېدا شي. پۀ دومره لړه سیمه کښې پۀ دومره لوی کچ پرته دا خزانه پکار راوستل ډېره اسانه ده. کۀ چرته دغه تانبا پۀ سائنسي وسائلو وویستلې شي نو تر دوه ویشت اربه ډالر پورې نرخ به وکړي، تر ځلوېښت کاله به د ټول اولس بل څۀ ته اړتیا نۀ وي. د شمالي وزیرستان د سرو زرو او تانبې دغه کچه پۀ ریکوډک پسې پۀ دوېم نمبر راځي."

پۀ شمالي وزیرستان کښې یوازې تانبا نۀ بلکې لکه د عربستان پۀ شان د تېلو او

ګېس چيني هم ښخې پرتې دي. د يونائټډ ګروپ آف بزنس يو ځېرنکار دارو خان اڅکزی وائي،

(24) "په نړۍ کښې خوشحال او مالداره عربي هېواد قطر کښې ځلېريشت ټريلين کيوبک فټ ګېس دی خو بل خوا صرف په منځنۍ پښتونخوا کښې شل ټريلين کيوبک فټ ګېس او 500 ميليون بېرل اومهٔ تېل پراتهٔ دي چې زياتره پهٔ شمالي وزيرستان کښې دي (ياده دې وي چې قطر اوولس لکهه نفوس لري. پهٔ دې کښې څلور لکهه قطري دي او نور د بهر هېوادونو. د قطر رقبه 11,500 مربع کلوميټر ده). دغه ابادي او رقبه د وزيرستان هومره ده خو ولې بل خوا پهٔ وزيرستان کښې د ژوند ژواک روزګار حق هم نشته خو قطر د نړۍ پهٔ دوه درځن مالداره هېوادونو کښې دی، د نړۍ پهٔ سر د قدرتي ګېس دريم غټ توليد کوونکی دی. پهٔ سفارتي برخه د سعودي عربستان نه وړاندې تلی، مادي ځغل ئې دومره تېز کړی چې د 2022 د فټ بال نړيوال جام به پهٔ کښې هم کولی شي چې د تېر لس کاله نه ئې ورله د ګرمۍ نه بچ کېدو د پاره ځانګړي ائيرکنډيشن لوبغالي جوړ کړل. د وګړي پهٔ سر کليزه ګټه ئې لس اتيا زره ډالر ($90K) ده. د اقتصاد پوهان د قطر د پرمختګ لوی راز د خپلې خاورې قدرتي شتمنۍ پهٔ ګټه راوستل ګڼي. حالانکې حکومت ئې باچاهت دی، کوم جمهوري رياستي نظام هم نهٔ لري خو يوه خبره پهٔ کښې ده چې د خپلې خاورې خائنان نهٔ دي. کهٔ هر څهٔ کوي خو خپله خاوره خپله مور ګڼي."

دوه مياشتې وړاندې هم پهٔ شمالي وزيرستان کښې ماړي پيټروليم شرکت د څو مياشتو کنستلو نه پس د تېل او ګېس زيرمې موندلې دي. د ګېس ابتدائي کچه دوه کروړه پنځوس لکهه مکعب ګېس او د تېلو کچه تر درې سوه بېرل د ورځې اټکل شوې ده. پهٔ شمالي وزيرستان کښې دا يو کار ښهٔ دی چې اولس دغه خزانو ته بېدار دی او وړومبی د خپلې خاورې د حق تپوس پهٔ کښې کوي. بايد چې د

وزیرستان په هره ستونزه کۀ پرلت وي نو دغه خزانو د ګټې وټې خبرې په کښې خامخا پکار دي.
کۀ وګورو نو د پښتونخوا پۀ نورو سیمو کښې هم ګېس او تېل وېستلی شي چې پۀ اوس وخت کښې پښتونخوا د پاکستان پۀ ټولو تېلو کښې پينځۀ پنځوس سلنه برخه ورکوي او پۀ ګېس کښې د شمالي وزیرستان د زیرمو پس به ئې ونډه څۀ څلوېښت سلنه (40%) برخه شي. خو د بده مرغه دا شتمنی د فيډرېشن د وفاقيت پۀ نامه د مرکزيت د څېښناک لاندې خوړلې کېږي. هم د دغه فيډرېشن د آئين لاندې منلې شوې د اوبو برېښنا نه راخستې تر تېل او ګېس پورې پښتونخوا او پۀ کومو سیمو کښې چې دا موندلې شوي، ګټه نۀ ورکولې کېږي. د وفاق پۀ نامه پۀ زرګونو اربه روپۍ د رائلتۍ پۀ نامه قرض دي خو د پښتونخوا صوبې د کمزورې سیاسي واکمنۍ لۀ کبله د دغه آئيني حقونو د پاره هېڅ درونډ غږ نشته.
داسې هم نۀ ده چې زمونږ سیاسي اجتماعي دانش د دې هر څۀ تماشا کوي او څۀ نۀ کوي. د پښتنو د قامي سیاست سره د ټولې خلکو پۀ هڅو پۀ آئين کښې پۀ بشپړ توګه د دغه شتمنيو پۀ اړه ډېرې ګټې سمبال کړې شوې دي خو د عمل لاندې نۀ راوستل دا بله سیاسي مسئله ده.
د آئين آرټيکل 2/161 د بجلۍ خالص منافع حق، آرټيکل 3/182 د تېلو او ګېس پۀ ذخيرو د شراکت او مساوي ملکيت حق، آرټيکل 158 د ګېس د ورومبي استعمال حق، آرټيکل 1/161 پۀ خامو تېلو د اېکسائز ډيوټۍ حق صوبو ته منلی شوی او ورکړلی شوی خو عمل ته راوستل سیاسي بېداري او قامي واکمني غواړي.
شمالي وزیرستان 'بويه' سیمه کښې صرف د يو معدن نه د اېف ډبليو او پۀ لاس پۀ مياشت کښې د يو ارب او اتۀ کروړه روپيو تانبا وېستلې کېږي. تر اوسه پورې شپېتۀ زره ټنه تانبا ويستلې شوې ده. صرف پۀ 'بويه' کښې د جيو لاجيکل سروی

تر مخه د پينځۀ میلیون ټن او پۀ ټول شمالي وزیرستان کښې د پينځۀ پنځوس میلیون ټن تانبې شتون اټکل شوی دی.
ماړي پټرولیم کارپوریشن پۀ شمالي وزیرستان 'شېوه' کښې پۀ تېل او ګېس ویستلو کار کوي. تېر کال نه دلته ګېس او تېل موندلی شوي چې تر 225میلیون کیوبک فټ پورې ګېس او 500 بېرل تېل د ورځې پۀ کچ وېستلی شي. د ګېس دا کچه د یو کوهي ده چې د پاکستان د ټول ګېس پينځلس سلنه برخه جوړېږي.
نور درې کوهیان هم زر رسېدونکي وو. د پښتونخوا پۀ نوو ضلعو کښې د ګېس ټوله کچه شل ټریلین کیوبک اټکل شوې چې د قطر د ټول ګېس 24 ټریلین کیوبک فټ هومره ده. د ماړي پټرولیم تر مخه د کال پۀ سر د دغه ګېس او تېل ویستلو ګټه تېر کال د کمپنیو د ګټې پرته صرف ریاستي خزانې ته 421 اربه روپۍ شوې، هم پۀ شېوه کښې د نور ګېس او تېل امکانات ځای پۀ ځای موندلی شوي دي. د دې د پاره ایف ډبلیو او ماړي پټرولیم لس ورځې وړاندې د یو بل کنسټون د پاره هم کار روان کړی. د ماړي پټرولیم تر مخه دلته کښې نور د یو ټریلین کیوبک فټ ګېس امکانات دي چې ډېر زر به وموندلی شي. ګېس چې کوم ځای وي نو هلته تېل هم وي، ځکه ګېس پۀ قدرتي توګه هم د دغه تېلو د پاسه جوړېږي. د پښتونخوا دغه ګېس چې د ټولو لګښت سره پۀ درې ډالره یونټ پرېوځي، خو بل خوا هم دغه ګېس چې د قطر او روس نه اخستلی شي نو پۀ څلوېښت ډالر ملاوېږي. دغه راز د پښتونخوا دغه ګېس اویا سلنه (70%) برخه د پنجاب صنعت ته وړلې شي، ځکه خو ورته مرکزي سټېشن درې سوه کلومیټره لرې پۀ پنجاب کښې جوړ کړی شوی دی.
اوس یو اړخ ته د وزیرستان دننه دغه خزانې راسپړدلې شي، کم از کم ملکي خزانې ته د زر اربه روپو نه د کال ډېره ګټه ورکوي. دغه کار به نور هم چټک کولی شي، ځکه د پښتنو سرونه نۀ، د دوي خاوره زوررو ته پکارده، خو بل لوري ته د وزیرستان اولس ته خپل ګېس هم نشته او نۀ د ورکولو کومه اراده شته. د

وزیرستان د ځوانانو اویا سلنه (70%) برخه قطر، دوبۍ او پنجاب کراچۍ ته مزدوریو له ځي، غټ ګاډي چلوي. په وزیرستان کښې تر اوسه یو پوهنتون، یو میډیکل کالج، د ژوند ژواک، تعلیم، صحت کومې اسانۍ نشته. شمالي وزیرستان اوس هم د سونو کاله پخواني دور کښې ژوند کوي. د میر علي میرامشا د اولس شته بازارونه رنګ کړی شوي دي. دلته چې کوم لږ ډېر ځائي اقتصاد ؤ، هغه د منځه وړلی شوی دی. د دې سره د بدامنۍ وېرې ترهې هم د وزیرستان د جنت نه چاپېره چورلي.

پوښتنه دا ده چې د پښتونخوا د وروستو پاتې یوې ضلعې یو تحصیل پینځۀ سوه اربه روپۍ ګټه ریاست ته ورکوي خو بل خوا ریاست دغه خاورې له څۀ ورکوي؟ د خپلې خاورې د خزانو ګټه د وزیرستان پښتنو ته ولې نشته؟ دا ګټه به څنګه اخستل وي؟ څۀ مو خیال دی چې که دا ګټه د نړۍ په بله کومه سیمه کښې وي، هغه سیمه به د تمدني پرمختګ لۀ اړخه د سوټزرلېنډ او ناروې نه کمه وي؟ د بدبختیو قصې دومره دي چې شمار ئې ګران دی. دا هر څۀ به کېږي په قامي بېدارۍ، یووالي او په سیاسي شعور – نورې ټولې لارې ګودرې خطا دي.

د آئین تر لارې د تېل ګېس مقدمه خو ګټلې شوې خو په عمل کښې نشته. د شمالي وزیرستان اولس له دوه غوښتنې پکار دي، څکه چې د ګېس سره تېل دلته په دومره لوی کچ دي چې د پاکستان ټوله اړتیا څۀ څلور نیم لکهه بېرله ده، په راتلونکي کښې یوازې کرک او وزیرستان تر دوه لکهه بېرله تېل به پېدا کوي. یوه غوښتنه دا چې د وزیرستان هر کور ته په ارزان نرخ ګېس ورکولو حق اخستل، دوېم باید په خپله سیمه کښې د 'آئل رېفائنرۍ' د پاره کلک غږ وکړي، څکه چې په ریاستي کچه کومې پینځۀ آئل رېفائنرۍ دي نو په پښتونخوا کښې یوه هم نشته، بلکې د پښتونخوا تېلو ته ئې په پنجاب کښې آئل رېفائنرۍ جوړه کړې. د آئل رېفائنرۍ معنې ده پنځوس زره وګړي په روزګار کېدل او نور بلها انفراسټکچر او مادي پرمختګ سیمې ته راتلل.

## جنوبي وزیرستان کښې بجلي نشته؟

کهٔ د خالو لښکرې راغلې
زهٔ به ګومل ته د خپل یار دیدن له ځمه

د سوېلي وزیرستان د بجلۍ ټول ضرورت څوارلس (14) مېګا واټه دی او د خپل ضرورت نه هم درې مېګا واټه زیاته، اوولس (17) مېګا واټه خپله پېدا کوي. دلته کوم صنعت نشته .پهٔ ټول وزیرستان کښې صرف درې د اوړو مِلونه دي خو وزیرستان ته د خپلو اوبو او لوی بند سره بیا هم د رڼا د پاره برېښنا نشته–ولې؟ پهٔ ګومل کښې د جوړ شوي لوی بند د ناکامۍ قصه څهٔ ده؟
پښتونخوا وزیرستان کښې د اوبو او برېښنا د پاره د دومره لوی بند ناکامي واپډا پهٔ 'اېف ډبلیو او' او 'اېف ډبلیو او'ئي د واپډا پهٔ ناقصه انتظام ور اړوي. پهٔ کال 1991 کښې د ټولو صوبو تر منځه لاسلیک شوی دی. د اوبو د وېش پهٔ تړون کښې پښتونخوا ته د کال پهٔ سر 8.78 میلیونه اېکړه فټه برخه ورکړې شوې خو د بده مرغه د نهري نظام د کموت لهٔ کبله زمونږ صوبه یوازې 5.78 میلیونه اېکړه اوبهٔ کارولې شي. پاتې درې میلیونه اېکړه فټ اوبهٔ پنجاب او سندهـ صوبې وېړیا کاروي. د دې اوبو د یو کال رقم شپږ اربه روپۍ جوړېږي چې تر اوسه 192 ارب روپۍ جوړې شوې دي، خو پښتونخوا ته یوه روپۍ هم نهٔ ورکولې کېږي. دا تړون یو اجباري او استعماري تړون شوی خو پارلېمان ته نهٔ دی وړاندې کړې شوی. دوېم، پښتونخوا صوبه پهٔ کښې د اوبو د لوی ملکیت سره د مساوي حېثیت پهٔ توګه نهٔ وه ناسته. دربمه دا چې د دې تړون لاندې د کوم نهري نظام لوظونه د پښتونخوا سره شوي نو پنجاب او سندهـ کښې خو تر سره شوې خو پښتونخوا کښې شوې ژمنې نیمګړې پرتې دي.
پنجاب د سندهـ طاس تړون پس پهٔ لوی کچ د بېراجونو او نهري نظام پهٔ زور او غازي بروتها نهر پهٔ برکت ټول اباسین غلا کړو خو د پښتونخوا پهٔ سترګو کښې

د خځلو اچولو د پاره د 1991 د اوبو تړون پس 'انټر پراونشل' پروژې لاندې 'چشمه رائټ بېنک کېنال' نيمګړې پروژه کېښودلې شوه؛ ځکه چې د سوېلي ضلعو د اوبۀ خور د پاره 11,000 کيوسک اوبۀ پکار دي خو پۀ دې نهر کښې فقط د درې زره کيوسک ظرفيت دی. پۀ 1973 کښې ذوالفقار علي بهټو دغه لوی کېنال جوړولو خو د مفتي محمود صاحب سياسي رقابت دغه پروژه ورانه کړې وه. نيمګړی چشمه رائټ بېنک کېنال چې پۀ 2001 کښې پوره شوی، د هغې پۀ 4,800 کيوسک اوبو کښې هم ډېره اسماعيل خان ته صرف 3,200 کيوسک اوبۀ ملاوېږي، ځکه چې دغه کښې 800 کيوسک اوبۀ د پهاړ پور او 900 کيوسک د ډېره غازي خان پۀ لور ځي. د دغه نهر لويه برخه پنجاب ته ګټوره ده.
د 'چشمه رائټ بېنک لفټ کېنال' پروژه هم لا سراب دی، ځکه چې د دوه نيم سوه اربه روپيو 582 ميله اوږد نهر پروژې د پاره روپۍ چرته دي؟ اوبۀ د سوېلي ضلعو د پاره يوولس زره کيوسک پکار دي خو دا نهر هم د درې زره کيوسک ظرفيت لري او صرف د چشمه نه تر رزمک پورې زمکې به ترې لاندې وي او بيا داسې پروژه چې 65 سلنه روپۍ پۀ وفاق وي. پۀ کال 2000 کښې حکومت پۀ اباسين څلور د نهرونو پروژې اعلان کړې وې چې پۀ کښې د 'تهل کېنال' پۀ نوم د پنجاب صوبې، 'ريني کېنال' د سندهـ صوبې او 'کچي کېنال' د بلوچستان صوبې د پاره مکمل شوې او د پښتونخوا 'چشمه رائټ بېنک لفټ کېنال کوم ګرېويټي' داسې نيمه خوا پروت دی.
ګومل د پښتونخوا د سوېلي وزيرستان سيند دی. د سلېمان غر او افغانستان د پکتيا د لوري سرچينه اخلي. د ډېره اسماعيل خان نه شل کلوميټره لاندې د اباسين سره مل کېږي. 'زام' هغه رود ته وائي چې د کال زياتره برخه پۀ کښې اوبۀ رواني وي. ګومل ته 'لوني' هم وائي. د ګومل دره د دې سيند پۀ خوا کښې ده، ځکه دا سيند پر ګومل ياد شوی.
پۀ وزيرستان واڼا کښې د جرنل مشرف پۀ وخت کښې پۀ 2001 کښې د 'يو اېس

اېډ' په مرسته جوړېدونکي بند "ګومل زام' د پاره د سيمې پښتنو ويړيا زمکه ورکړه او په 2011 کښې د دوه ويشت اربه روپيو په لګښت دغه بند سر ته ورسېدو. په 2013 کښې د برېښنا قابل شو. په بند کښې رواني اوبه چې ظرفيت ئې (1.14 MAF) ؤ، را ګېرې کړې شوې. دغه راز اوولس مېګا واټه برېښنا د پاره په کښې هم بندوبست وشو. سره د دې چې د برېښنا امکانات تر 130 مېګا واټه ممکن وو خو دا پروژه د اېف ډبليو او په لاس تر سره کېده نو په لوی کچ په کښې ډالر هم چپه شوي او د برېښنا توليد راکم کړی شوی ؤ. د اوبو ذخيره کولو په لحاظ ګومل زام د منګلا او تربېلا نه پس درېم لوی بند دی.

دغه راز د دې بند مخې ته د وزيرستان، ټانک او ډېره اسماعيل خان د يو لاکهه درې شپېته زره (163,000) اېکړه زمکې خړوبولو تابيا هم شوې وه چې شپېته کلوميټره اوږده وياله هم ويستلې شوې ده. بند خو مکمل شو خو اوس اصل قصه څۀ ده؟ د وزيرستان د پښتنو سره د ويړيا زمکې ورکولو په وخت د ويړيا بجلۍ او اوبو ورکولو لوظ شوی ؤ خو دولس کاله د بند جوړېدو پوره شو، نۀ په وزيرستان کښې بجلي شته او نۀ د کروندې اوبۀ. د بند د برېښنا جوړولو نظام د څو کاله نه ناکاره شوی. د اوولس مېګا واټه نه ئې بجلي شپږ مېګا واټه ته را کوزه شوې. په 2016 کښې د پاور هاؤسز سوزېدلو لۀ کبله هغه برېښنا هم تر اوسه نۀ جوړېږي، کوم نهر چې جوړ شوی نو ځای په ځای مات دی. په نهر کښې ډسچارج کېدونکې 4,800 کيوسک اوبۀ 3,600 کيوسک ته را کمې شوې، اوبۀ جذب کوي، په غاړو ئې کومه حفاظتي جنګله نشته چې په نتيجه کښې ئې دا ستره پروژه ناکامۍ ته لاړه او بند کښې ولاړې اوبۀ هسې د سېل سپاتې د پاره ولاړې دي.

د ګومل زام مخې ته يوازې د ډېره اسماعيل خان اتلس لکهه اېکړه زمکه شاړه پرته ده. چشمه رائټ بېنک لفټ کېنال هم هسې خوب دی او د ګومل زام هم دغه قصه ده.

اوس بند هم جوړ دی، او بۀ هم شته، کول څۀ دي؟ د وزیرستان او ټانک اولس دوه غوښتنې لري، پکار ده چې دا خبره علي وزیر (د دغه سیمې نه منتخب د پارلېمان نور غړي هم) پۀ ډېر شدت سره پۀ اسمبلۍ کښې هم پورته کړي او اولس د اوبو د پاره پاڅون پرلت ته هم تیار کړي. وړومبی دا چې د ګومل زام نه دې سوېلي وزیرستان ته ارزانه بجلي ورکړې شي چې ورسره به د کورونو اړتیا هم پوره شي او صنعتي پرمختګ ته به هم امکانات برابر شي. ورسره 'ټانک زام' دې جوړ کړی شي او د 'ګومل زام لفټ کېنال' دې اوچت کړی شي چې د سیمې د ټولې زمکې کرونده ممکنه شي.

# قدرتي وسائل او اسلام

مشر محمود خان اڅکزي د پښتنو د وسائلو په اړه څهٔ پينځلس کاله وړاندې په باچا خان مرکز پېښور کښې پښتنو علماو ته يوه مهمه پوښتنه پورته کړې وه چې د قرآن په رڼا کښې د دې خزانو د ملکيت حق د چا دی؟

زما نهٔ شي فکر چې په اوس وخت کښې د پښتنو په خاوره په اټلس لکهه علماو کښې يا مذهبي سياسي عالمانو کښې چا د زړهٔ دې مهمې قامي پوښتنې ته مدلل جواب وئيلی وي، يا ئې د خپل منشور او جلسې د قام پاله سياسي مشرانو نه پرته برخه ګرځولې وي؟ ځکه چې دغه مذهبي ګوندونه سياست خو د پښتنو په سر کوي خو په حقيقت کښې د سياست موخه ئې نور څوک وي.

د محمود خان صاحب د خبرې د وضاحت نه وړاندې دا يوه بله مهمه خبره هم ده او هغه دا چې بايد د پښتنو قامي مقدمه تر د وسائلو پورې د اسلام په دلائلو سره هم اولس ته وړاندې کړې شي. دا د مذهب کوم سياسي ځېښاک او د خپل سياست د پاره کارول هېڅ چرې نهٔ دي، بلکې خپله مقدمه ګڼ اړخيزه کول، اولسي کول او نړيوال کول دي. دغه د اسلام دلائل مونږ ته د باچا خان بابا او خان شهيد په هره وينا کښې هم د اصلاح د پاره ملاوېږي. د قرآن او د اسلامي نصوصو او د پښتنو د دود په رڼا کښې په هره سيمه کښې موجود قدرتي شتمنی د هغه ځای د مېشت اولس اجتماعي حق ملکيت دی. د هېڅ کوم کس معدنيات شخصي ملکيت نهٔ شي جوړېدی. ګډه ورشو، ځنګل، چينه او درمن ئې مثالونه دي. دغه ملکيت نړيوال قانون هم مني او د پاکستان آئين هم؛ خو د بد مرغۍ ستونزه سياسي ده.

په سورة الکهف کښې د حضرت خضر عليه السلام او حضرت موسیٰ عليه السلام يوه پېښه خدای ذکر کوي چې په يو کلي کښې حضرت خضر په امر تکويني سره د دوو يتيمانو د کور کوږ دېوال سم کړو، مزدوري ئې هم ترې وا نهٔ

خسته. علت ئې حضرت خضر حضرت موسیٰ ته دا ووئیلو چې دا دوه ماشومان پۀ دغه کلي کښې لکه د پښتنو پۀ پاکستان کښې پۀ سیاسي چغه کمزوري وو. د دېوال لاندې ورله پلار خزانه ښخه کړې وه. کۀ چرته دغه خزانه اوس ښکاره شوې وی نو د دغه کلي زورورو لکه د پاکستان د ماشومانو لاس پرې تاوهل او د خزانې حق ملکیت ئې ترې اخستۀ. نو خدای راته حکم وکړو چې د دې مظلومانو مرسته وکړه او د خپل حق ملکیت د منځه وړلو نه ئې وساته، ځکه خدای او د خدای پیغمبر د مظلوم ملاتړ وي.

ډاکټر سېد عالم محسود يو عجيبه خبره بله د وسائلو پۀ اړه کوي، وائي:

"دا خزانې مۀ راسپړئ، مۀ ئې ښکاره کوئ! پرتې به وي. چرته ځي نۀ. چې وخت راشي، پکار به ئې قام راولي. کۀ اوس ښکاره شي نو دغه د حضرت خضر د ماشومانو حال دی چې د کلي زورورو د کرک د تېلو، ګېس او د وزیرستان د چلغوزو ځنګلو نه واخله تر باجوړ د ماربلو او کمانګرې د کرومائټو پوزې هر څۀ چور تالان کوي. نو ښه دا ده چې دا خزانه تر يو وخت دې دېوال باندې پټه وي. چې کله دا هلکان خپلواک شي، د ظالم مخه نيولې شي، نو بيا دې پکار راولي."

وَأَمَّا الْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَامَيْنِ يَتِيمَيْنِ فِي الْمَدِينَةِ وَكَانَ تَحْتَهُ كَنزٌ لَّهُمَا وَكَانَ أَبُوهُمَا صَالِحًا فَأَرَادَ رَبُّكَ أَن يَبْلُغَا أَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا كَنزَهُمَا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ وَمَا فَعَلْتُهُ عَنْ أَمْرِي ذَٰلِكَ تَأْوِيلُ مَا لَمْ تَسْطِع عَّلَيْهِ صَبْرًا سورة الكهف: 82

ژباړه : کوم چې دېوال سمول وو نو دا د دوه يتيمانو ؤ. پۀ دې ښار کښې د دې لاندې خزانه وه. د دې ماشومانو پلار ښۀ سړی تېر شوی ؤ. ستا رب وغوښتل چې دا کوچنيان غټ شي کله نو خپله خزانه به را وباسي. دا ستا د رب رحم دی. دا کارونه ما د ځان نه و نۀ کړل بلکې ستا د رب حکم ؤ.

د قرآن د دغه آيت نه پرته وخت پۀ وخت د زمانو نه اسلامي فقهاو دا خبره روښانه کړې چې قدرتي شتمنۍ د اولسونو ملکيت دی او حق انتفاع د دوی جائز حق دی.

هُوَ الَّذِىْ خَلَقَ لَكُمْ مَّا فِى الْاَرْضِ جَمِيْعًا ثُمَّ اسْتَوٰۤى اِلَى السَّمَآءِ فَسَوّٰىهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ وَهُوَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيْمٌ. سورة البقرة:29

قوله تعالىٰ: (هُوَالذى خلك لكم مافى الأرض جميعاً) فيه عشر مسائل الثانية استدل من قال: إن أصل الأشياء التى ينتفع بها الإباحة بهذه الآية وماكان مثلها كقوله:" و سخر لكم مافى السمٰوات ومافى الأرض جميعاًمنه" (الجاثية:13) الآية حتى يقوم الدليل على الحظر۔ (سورة البقرة:29، ج:1، ص:251، الكتاب: الجامع لأحكام القرآن - تفسير القرطبى، المؤلف: أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبى بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي (المتوفى:671هـ)، الناشر: دار الكتب المصرية القاهرة)

وجمع بقوله: ما فى الأرض جميعاً جميع المنافع، فمنها ما يتصل بالحيوان والنبات والمعادن والجبال ومنها مايتصل بضروب الحرف والأمور التى استنبطها العقلاء وبين تعالىٰ أن كل ذلك إنما خلكها كى ينتفع بها كما قال: وسخر لكم ما فى السماوات وما فى الأرض۔ (الجاثية:13) (سورة البقرة:29، ج:2، ص:379، الكتاب: مفاتيح الغيب - التفسير الكبير، المؤلف: أبو عبد الله محمد بن عمر بن الحسن بن الحسين التيمى الرازى الملقب بفخر الدين الرازى خطيب الرى (المتوفى:606هـ)، الناشر: دار إحياء التراث العربى بيروت)

المادة (1234) (الماء و الكلأ و النار مباحة، و الناس فه هذه الأشياء الثلاثة شركاء) و الفقرة الثانية من هذه المادة هى مأخوذة من الحديث الشريف "المسلمون شركاء فى ثلاثة: فى الماء و الكلأ و النار" والاقتصار فى هذه المادة على هذه الأشياء الثلاثة هو للتبرك لأن الناس شركاء مع بعضهم فى غير هذه الأشياء و ذلك (رابعاً) فى الأشجار النابتة من نفسها فى الجبال المباحة (خامسا) فى الصيد و (سادسا) فى أثمار الأشجار النابتة من نفسها فى الأراضى التى لا صاحب لها. و الناس فى هٰذه الستة شركاء. (كتاب الشركات، الباب الرابع فى بيان شركة الإباحة، الفصل الأول فى بيان الأشياء المباحة و الغير المباحة، ج:3، ص:263، الكتاب: درر الحكام شرح مجلة الأحكام، المؤلف: على حيدر، الناشر: دار الكتب العلمية)

2: المادة (1248) أسباب الملك ثلاثة ـــ: الثالث إحراز شيء مباح لا مالك له و الاستيلاء عليه

CamScanner

، هذا الاستيلاء و الأخذ إما أن يكون حقيقيا أو يكون بوضع اليد حقيقة على ذلك الشيء كأخذ الماء بإناء من النهر و كصيد الصيد و كقطع الخشب من الجبال و كجمع الكلأ المباح و تجريزه الخ. (كتاب الشركات. الباب الرابع في بيان شركة الإباحة. الفصل الثاني في بيان كيفية استملاك الأشياء المباحة. ج:3.ص:373-274. الكتاب :درر الحكام شرح مجلة الأحكام. المولف :على حيدر. الناشر :دار الكتب العلمية)

المادة (1253) (لكل شخص أيا كان أن يحتطب الأشجار النابتة من نفسها في الجبال المباحة و بمطلق الاحتطاب يعني بجمعها يصير مالكا و لا يشترط الربط). (ج:3.ص:277. أيضا)

3: وعن أبي أمامة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: إن الأمير إذا ابتغى الريبة في الناس أفسدهم. (أفسدهم) ؛ أي أفسد عليهم أمور معاشهم، ونظام معادهم ؛ لأن الإنسان قلما يخلو عن ذم. فلو أدبهم لكل قول وفعل بهم لشق الحال عليهم. وعن معاوية قال :سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول :إنك إذا اتبعت عورات الناس أفسدتهم . (أفسدتهم) ؛ أي حكمت عليهم بالفساد، أو أفسدت أمر المعاش والمعاد، والله رؤف بالعباد. قال الطيبي رحمه الله : وإنما عم في هذا الحديث بالخطاب بقوله :إنك ؛ وخص في الحديث السابق بقوله :إن الأمير ؛ لئلا يتوهم أن النهي مختص بالأمير، بل لكل من يتأتى من اتباع العورات من الأمير وغيره. (كتاب الإمارة والقضاء ،ج:6، ص:2414-2413. الكتاب :مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح. المؤلف :علي بن (سلطان) محمد، أبو الحسن نور الدين الملا الهروي القاري (المتوفى :1014هـ). الناشر :دار الفكر، بيروت لبنان)

(ولا تعسروا) ؛ أي بالصعوبة عليهم ؛ بأن تأخذوا أكثر مما يجب عليهم، أو أحسن منه، أو بتتبع عوراتهم وتجسس حالاتهم (متفق عليه) ورواه أبو داود (ولا تنفروا) ؛ أي بالمبالغة في الإنذار، أو بتكليف الأمور الصعبة الموجبة للإنكار، ويؤيده ما في النهاية ؛ أي لا تكلفونهم بما يحملهم على النفور. (ج:6.ص:2421. أيضاً)

4: المادة (1154) (يجوز لكل أحد الانتفاع بالمباح ، لكنه مشروط بعدم الإضرار بالعامة) (كتاب الشركات. الباب الرابع في بيان شركة الإباحة. الفصل الثالث في بيان أحكام الأشياء المباحة للعامة. ج:3.ص:278. الكتاب: درر الحكام شرح مجلة الأحكام. المؤلف: على حيدر.

CS CamScanner

الناشر: دار الكتب العلمية)

5:أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: ألا كلكم راع وكلكم مسئولٌ عن رعيته. فالإمام الذى علىٰ الناس راع وهو مسئول عن رعيته. والرجل راعٍ على أهل بيته و هو مسئولٌ عن رعيته. والمرأة راعية على أهل بيت زوجها وولده وهى مسئولة عنهم. وعبد الرجل راع على مال سيده وهو مسئول عنه. ألا فكلكم راع و كلكم مسئول عن رعيته ـ قوله: عن رعيته. الرعية كل من شمله حفظ الراعي و نظره. وأصل الرعاية حفظ الشيء و حسن التعهد فيه. لكن تختلف. فرعاية الإمام هى ولاية أمور الرعية وإقامة حقوقهم ـ ـ ـ الخ (كتاب الأحكام. باب الأمراء من قريش. ج:24.ص:221. الكتاب: عمدة القارى شرح صحيح البخارى. المؤلف: أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين العينى (المتوفى:855هـ). الناشر: دار إحياء التراث العربى بيروت.

# وطني توت

ادکې مورې مانو له څمه
د بوډيالې توتان رلې، وهلي دينه – مانو له څمه

توت زمونږ سيمئيز بوټى دى. په عربي، او هندي، کښې هم په 'توت احمر' او 'توت اسود' ياد شوى. په قديم طب کښې ئې هم ذکر راځي.

عموماً زمونږ خلک تش د خشاک د پاره توت کري خو توت ډېره خوږه مېوه هم کوي. کۀ چرته دغه بوټى پۀ کچه کښې قلم کړى شي نو د لوندې مېوې سره د اوچې مېوې پۀ توګه هم کارولى شي.

د هارِ مياشت را روانه ده، پۀ دغه مياشت کښې پۀ توت کښې نالګي قلم لګولى شي او پۀ ډېره خوندوره مېوه بدلېږي.

ابن سينا وائي چې څوک توت خوري نو وينه به ئې پاکېږي او د رګونو نه به ئې 'وازره' ختمېږي. توت څۀ اووۀ ډوله وټامن لري.

د کونړ او قندهار پښتانۀ پۀ سيمه کښې هر توت قلم کوي. دا بوټى زمونږ د خاورې د آب و هوا سره ډېر سمون خوري ځکه بې خوارۀ بې اوبو ډېر پۀ لوى کچ کېږي خو پښتانۀ د مارکيټ او کاروبار فکر نۀ لري، ځکه داسې ډېرې قيمتي مېوې زمونږ نه ضائع کېږي. د کروندې زراعتو محکمه پۀ ځاى د دې چې د نړۍ د نورو ملکونو بې خونده بوټي لکه د لاچۍ او سپېدار پۀ شان راوړي، د هغې پۀ ځاى دې داسې بوټو ته پام وکړي چې زمونږ د آب و هوا سره هم سمون خوري او د پېداوري کلتور پۀ اړخ کښې ګټه وټه هم لري.

توتان پاخۀ دي ماما جانه!
کلي ته راشه لوئي واړه دې يادوينه

# د پښتونخوا ځنګل

د يو هېواد د پاره د موسمي اثراتو نه د بچ کولو د پاره لازم وي چې د خاورې پهٔ پينځويشت سلنه (25%) برخه ئې ځنګل وي. د پاکستان د ټولې خاورې پهٔ 8/4 ځنګل دی چې 4,224 ميليون ايکړ خاوره جوړېږي. پاکستان د نړۍ پهٔ کچ د ځنګلو پهٔ ختمولو کښې پهٔ دوېم نمبر دی او پهٔ هغه اووهٔ هېوادونو کښې هم شمار دی چې د اقليمي بدلون د بد اغېز او د بارانونو د کم والي سره مخ دی. د هند پهٔ درې ويشت سلنه (23%) برخه خاوره ځنګل دی او دغه کچه نوره هم زياتولې شي. د هند سره پهٔ فوج او ايټم کښې خو سيالي کولې شي خو د انسانانو او چاپېريال د ښېګړې پهٔ داسې کار کښې بيا د چا ايمان نهٔ وي.

پهٔ لوېديځ کښې هېوادونه د بوټي پهٔ اړه دومره بېدار دي چې پهٔ پلازو کښې هم د بوټي راوستل لګول لازم بولي.

پاکستان کښې هر کال 67,500 ايکړ ځنګل پهٔ ناقانونه توګه ختمولی شي. د کال لس کروړه اونې لګولې کېږي خو د پام نهٔ کولو لهٔ کبله زياتره کال پس نهٔ وي. د ځنګلونو شبکه تش پيتاوی کوي دوي چرته يو غر هم ځنګل نهٔ کړو.

د ځنګل پهٔ اړه د پښتونخوا جنت وطن خدای مور پېدا کړی دی. د ځنګل وجود فطري دی، ځکه د جنت تصور هم د ځنګل پهٔ تخيل ولاړ دی. د پښتونخوا څه پهٔ پينځلس سلنه برخه خاوره ځنګل دی. د زيارت پهٔ شان د صنوبر د نړۍ پهٔ سر دوېم نمبر لوی ځنګل هم لري. دغه کچه د پاکستان د ځنګل څهٔ اويا سلنه (70%) برخه ده. د حکومتي څېړنې تر مخه پښتونخوا کښې د ځنګل خوندي علاقو رقبه (1,564,000) پينځلس لکهه څلور شپېتهٔ زره ايکړه ته رسېدلې ده. دا رقبه د پښتونخوا د ټولې رقبې قريباً پينځلس سلنه جوړېږي. پهٔ تېر وخت کښې د حکومت لهٔ اړخه د بيلين ټري پهٔ نامه د ځنګلو زياتولو ښه هڅه وه خو لهٔ بده مرغه دغې هڅې هسې نمائشي بڼه اختيار کړه او پهٔ زمکه ئې هېڅ کوم بدلون ښکاره نهٔ

شو، بلکې زیاتره خو به د چورلکو نه تخمونه شیندلی شول.
سائنس پوهان وائي، یوه اونه په کال کښې شپږ ټنه کاربن ډائي اکسائیډ جذب کوي او اووه ټنه اکسیجن خارجوي.
د ځنګلي بوټو ګټه دا وي چې د بارانونو واورو کچه ورسره زیاتېږي. دغه راز د غرونو خوئېدو امکان کمېږي، ځنګلي ځناور او مرغان ډېرېږي، د خشاک سره د لرګي نه د کار څیزونه جوړېږي، د چاپېریال په ښهٔ کېدو ئې ډېر مثبت اغېز وي، د سېلګرۍ د پاره ورته خلک راځي، ځکه چې د یوې سیمې ډول زیات وي. دغه راز د طب په برخه د دوایانو کار ترې اخستلی شي.
د بده مرغه ځنګلونه ډېر په بې رحمۍ سره کټ کولی شي. د کونړ د سرو زرو په شان قیمتي ځنګلونه څهٔ شپېتهٔ سلنه (60%) د منځه تلي. ځلوېښت کاله وړاندې د کونړ په 334,000 ایکړه غرونو ځنګلۇ خو اوس هر څهٔ سپېرهٔ ګنجي پراتهٔ دي. چې تر څو د نورو اونو لګولو کوم بندوبست نهٔ وي، په نتیجه کښې قدرتي ځنګلونه به ډېر زر په ختمېدو وي.
پکار ده چې په سرکاري توګه څومره هم ځنګلونه دي نو چې د هغې د ساتنې چارې په ښهٔ ډول تر سره شي، نور ځنګلونه ولګولی شي. کهٔ لس کاله د پښتونخوا وطن غرونو ته په حکومتي کچه پام را واړولی شو نو ټول غرونه په لس کاله کښې زمونږ ځنګل کول ممکن دي.
د پښتونخوا ټول ځنګلونه باید نېشنل پارکونه وګرځولی شي. د کمراټ تر څنګ نور پارکونه لکه د چترال ګولن پارک، لولوسر او بروغل پارکونو کښې حکومت هلته ښکاره ګامونه واخلي. کمراټ کښې اوس هم نوې ودانۍ کېږي. ټول کمراټ فوجیانو واخست، هر ځای پلاټونه کوي. خلک د ځنګل بوټي وهي. حکومت له پکار دي چې عملي ګامونه پورته کړي او د دې علاقو بشپړ خیال وساتي.
پښتانهٔ کهٔ خپل غرونه ځنګل کوي نو کهٔ ډېر څهٔ نهٔ شي کولی یو د چېلۍ بیزې په څاروي دې ځنګلونو ته د بوټلو بندیز ولګوي. کهٔ دا څاروی مونږ د ځنګلونو نه

منع کړو، تاسو يقين وکړئ چې پنځوس سلنه ځنګلې او اوني به پهٔ خپله را توکېږي.
ځنګل د پښتونخوا وطن قدرتي وسيله ده خو د بده مرغه مونږ هغه شان دا و نهٔ ساتلې شوه. څو کاله وړاندې زمونږ پهٔ سيمه کښې چې فوجي عمليات کېدل نو زمونږ د سيمې يو لوی قدرتي ګڼ ځنګل دی، پړانګان هم پهٔ کښې وي، يو فوجي چارواکي جرګه را وغوښته، وئيل ئې دا ځنګل کټ کوم يا ئې سېزم – مونږ وئيل ولې؟ وئيل ئې پهٔ دې کښې وسله وال پناه اخلي. مونږ ورته وئيل، صاحبه! تهٔ خو د ځنګل پېنځهٔ ارخه نه تاو يې، کهٔ ځنګل دې خراب کړو نو د دې سيمې ټول اولس به د احتجاج پهٔ توګه وځي. ښه وه هغه هڅه شنډه شوه.

يادګيرنه:

کله چې پهٔ پښتونخوا کښې د عوامي نېشنل پارټۍ او پاکستان پيپلز پارټۍ اتحادي حکومت ؤ نو پهٔ شمال کښې د ځنګلونو ژغورلو د پاره د قدرتي ګېس هر کور ته د رسولو منصوبه روانه کړې شوې وه. تر اوسه د دغه منصوبې لاندې د تېمرګرې نه ګېس پورته سيمو ته ورکړی شوی دی. د ځنګلونو ختمېدو او اقليمي منفي بدلون د مخنيوي دغه پروژه د 'بلين ټري سونامي' پهٔ نامه ودرولې شوه. اوس مونږ ګورو چې د بر دير نه را کوز ځنګلونه وده کوي خو نور ځنګلونه د خشاک د پاره ايرې کېږي.

# د پښتونخوا سېلګري

زما جانانه! پۀ ما ګرانه یاره!
بلنه مۀ راکوه، کابل ته نۀ درځمه
خالق زیار

پۀ قدرتي ښکلا کښې ټوله پښتونخوا تر افغانستان د سوټزرلېنډ نه کمه نۀ ده. د سوټزرلېنډ رقبه د پښتونخوا د نوو ضلعو نه هم کمه ده. ابادي ئې د نوو ضلعو هومره ده خو قامي ګټه GDP ئې د ټول پاکستان نه پينځۀ چنده او د افغانستان نه دوه سوه چنده زياته ده. پۀ دغه ګټه کښې يوه لويه برخه د سېلګرۍ نه هم راځي. سوټزرلېنډ ولې دومره مخکښې دی او مونږ تر افغانستان پورې ولې نېستمن يو؟ تشه ښکلا او قدرتي وسائل کومه ګټه تر هغې نۀ ورکوي چې تر څو د هغې سره درې کاره نۀ وي مل: وړمبی د وسائلو او سېلګرۍ د پاره هر ډول اسانتياوې او سائنسي پرمختګ، دوېم د امن ډاډه چاپېريال جوړول او درېم د نړۍ سره ښکر پۀ ښکر کېدل نۀ بلکې شريک مزل کول.

د افغانستان اتيا سلنه د ضرورت څيزونه د بهر نړۍ نه دي خو سوټزرلېنډ خپل اتيا سلنه ضرورتونه د خپل هېواد دننه پوره کوي. سوټزرلېنډ د وړومبي نړيوال جنګ نه پس د فوج او اېټم بم پۀ ځای خپلو وسائلو ته کار ووئيلو. د کروندې زمکه پۀ کښې د غرونو لۀ کبله ډېره کمه وه. پۀ لوی کچ زمکه ئې د غرونو نه جوړه کړه. اوبۀ پۀ کښې ډېرې وې. دغه اوبو ته ئې وارۀ وارۀ بندونه جوړ کړل. د برېښنا سره ټولې زمکې ته ئې اوبۀ ورسولې، خپل د غرونو ځنګلونه ئې نۀ غوځ کړل او نۀ ئې د پښتونخوا پۀ شان وسېزل، هر د ښائست ځای ته ئې سړک او د رېل پټلۍ ورسوله، ګام پۀ ګام ئې هوټلې جوړې کړې، د نړيوال جنګونو نه پس د جنګونو او فوجونو د لښکرو نه ئې ځان وساتلو، اقتصادي پرمختګ ته ئې کار ووئيلو، خپل اولس ته ئې د زدکړې او روغتيا اسانۍ جوړې کړې نو څکه نن د نړۍ پۀ سر

جنت ګڼلی شي او اولس ئې خوشحاله ژوند تېروي.
بل خوا افغانستان او پښتونخوا دي -ځنګلې مو ورېبلې، اوس باقي سوزي او ځئ نۀ شو کولی. د پښتونخوا د ځنګلونو وزير 'اشتياق ارمړ' پۀ نامه هم ؤ او بيا د پلې اکيم پۀ نامه هم راغلو، خو چرته به مړ وي او چرته به نيم وي. جنګونو او لښکرو ته مو کار وئيلی دی. سړکونه نشته، اوبۀ رانه نور کاروي، پۀ افغانستان کښې پوهنتونونه لا اوس هم تړلی شوي. امن او آزادي دغه ده چې د وېرې ترهې چاپېريال خپلو وګړو ته دومره اوږد جوړ کړی شوی دی چې يو جنګ ختمېږي نو بل ته تياری نيولی شي. پۀ داسې حال کښې به د بهر نه څوک څۀ ډاډه راشي؟ د اسلام پۀ اړه مو فکري پستي دومره ډېره ده چې نن هم جمهوريت کفر ګڼلی شي. سائنسي پرمختګ د قيامت نخښې ګڼلې شي.
مطلب دا چې پښتونخوا وطن جنت دی خو دغه جنت د ابليس سره پۀ جهنم بدل کړی شوی دی.

CamScanner

# د پښتونخوا په ځنګلونو کښې اورونه

د سرمایه دارانه نړۍ دننه د هېوادونو پرمختګ کۀ د اولس پۀ خپښباک ولاړ وي خو بل خوا د اولسونو د ژوند ژواک د ښۀ والي د پاره ځيني بنيادي اسانتياوې هم پۀ نظر کښې وي. هم دغه اسانۍ د يو رياست او د اولس د اړيکې د تعين قدر ټاکنه کوي.

د پښتونخوا د شيراني پۀ غرونو کښې دولس ورځې د پښتنو ځنګلي سوزېدې خو د پاکستان د فضائي ځواک پۀ 1,530 الوتکو کښې يوه هم داسې نۀ وه لکه د ايران سره چې وه او دغه اور ئې پۀ دوه چکره کښې وژلی وی. دغه الوتکه هم د وفاق نۀ بلکې د بلوچستان د صوبې پۀ غوښتنه راغلې وه.

د ايران دغه اور وژونکې الوتکه پۀ ال يوشن ال.76 (Ilyushin Il-76) سره يادېږي. د روس جوړه د څلوېښت مېټرک ټن اوبۀ پۀ يو ځل پۀ هوا کښې شيندلې شي. دا د نړۍ پۀ سر د اسرائيل او چين نه پس دريمه لويه الوتکه ده. د مارکيټ نرخ ئې څۀ اتۀ کروړه ډالر دی چې د يوې جنګي الوتکې هومره جوړېږي.

د ايران ټول هوائي ځواک دوه نيم سوه الوتکې دي. د اسرائيل پۀ حمله او عراق جنګ کښې دوه ځل هوائي ځواک هم برباد شوی. د خپل هېواد د ځنګل او اولس ورسره دومره احساس دی چې د نړۍ پۀ غټو اور وژونکو الوتکو کښې ئې يوه ساتلې.

د پاکستان سره د ال يوشن پۀ څير د 'ميډاس' پۀ نامه داسې څلور الوتکې ولاړې دي چې پۀ 2012 کښې د يوکرائن د يوې کمپنۍ څخه اخستلې شوې دي؛ خو د بده مرغه ستونزه دا ده چې دغه الوتکې فقط د جنګي مقصد د پاره کارولې شي چې پۀ هوا کښې د يوې الوتکې نه بلې ته تېل اچولو د پاره کارولې کېږي. اوس پاکستان دغه شپاړس سوه د الوتکو ځواک او بيا پۀ دغه څلور ال يوشن الوتکو کښې يوه هم د ځنګلونو اور وژني له ولې نۀ کاروي؟ دا ځکه چې د غرونو د ځنګلو

زياتره برخه د پښتنو په خاوره ده. پنجاب کوم د ځنګل وسیلې نه لري نو هم په دغه معيار د ټول هېواد واک هم چلولی کېږي او د ځنګل د اور وژنې او الوتکې د پاکستان او پښتنو د ترون هم دغه نسبت دی.
بايد چې پښتانهٔ سیاسي ګوندونه په دې غور وکړي چې رياست خو دغه دی او مذهبي ګوندونو والا زمونږ د ځنګل اور په دې جنتي خاوره او جنتي قام د خدای عذاب بولي، خو د بيا د پاره کوم څهٔ په اولسي او سیاسي توګه مهم دي چې کهٔ داسې اور بيا لګي نو پهٔ ژړا او فرياد خو اور نهٔ مري؛ دا اوس سائنسي عصر دی، ډېر ممکنات کېدی شي خو پهٔ اړه ئې غور پکار دی.

# نورستان: جنت نښان

کۀ د ناواپاس لار پرانستلې شي نو د کوه قاف پۀ څیر پۀ ښکلا ډکه سیمه نورستان ته د پېښور نه د سېل د پاره پۀ پینځۀ ګېنټې کښې چې سړک سم کړی شي، رسېدل ممکن کېدی شي.
نورستان چې اوس هم پۀ خپله فطرتي ښکلا موړ اودۀ پروت دی، پخوانۍ ودانۍ، د غرونو ځنګلې، ورشوګانې، کنګلونه، د اوبو چړونه، سیند، څاروي او مارغان د خپل سوچه والي سره اوس هم پۀ نخا وي. د نورستان واورین کنګلونه پۀ سیمه کښې هغه یوازیني ځایونه دي چې واورین پړانګان پۀ کښې لېدلی شي.
نورستان پۀ 9,225 مربع کلومیتره خاوره خپور دی او دا خاوره ټوله پۀ قیمتي ځنګلونو کښې پټه ده. د وګړو شمېر ئې 160,000 دی. د سمندر نه د نورستان سیمه عموماً 10,413 فټه دنګ والی لري. غرونه ئې د دې نه هم ډېر اوچت دي. پۀ ژمي کښې ټول نورستان پۀ واورو کښې ډوب وي. پۀ ګرمۍ کښې د شلو درجو نه پورته موسم نۀ وي. نورستان ته به پخوا کاپرستان او بلورستان وئیلی کېدو. خپله ژبه ئې نورستاني ده خو پۀ پښتو هم ټول پوهېږي.
پۀ جغرافیائي او تاریخي توګه دا سیمه او د چترال سیمه یو دي، وګړي ئې هم یو نسل. پۀ چترال بمبوریت برېر کښې مېشت کېلاش خلک او د نورستان وګړي پۀ نسلي توګه یو دي. پخوا به د باجوړ د لوري لښکرې چور تالان له پۀ دې خلکو ورتللې. څاروي او لړګي به ئې ترې راوړل. 1896 پورې دا سیمه ازاده وه. د امیر عبدالرحمان خان پۀ وخت کښې ونیولې شوه او ټول نورستان پۀ ګډه اسلام قبول کړو.
نورستان سیمه د پرمختګ نه ډېره وروستو پاتې ده. د کابل اداري ورته کله هم سم پام نۀ دی کړی. وګړي ئې ډېر غریب دي. زیاتره پۀ ځنګلونو کښې څاروي

ساتي.
د اشرف غني په وخت کښې ټول نورستان په 'ملي پارک' سره نومولی شوی ؤ. په ځنګلو غوځولو بندېز لګولی شوی ؤ، د پرمختګ يو شمېر نورې چارې هم جوړې شوې وې.
د بدامنۍ له کبله مخکښې ډېر کم سېلانيان نورستان ته تلل خو د جنګ ختمېدو نه پس دغه کچه سپوا شوې وه (اوس چې په کابل بيا طالبان رژيم قبضه کړې ده نو د وېرې ترهې له کبله نورستان ته سېلګري مخه نۀ کوي).
د نورستان په پلازمېنه 'پارون' کښې د تېر وخت نه د سېلانيانو اووۀ هوټلې هم شته. د سلو کوټو يو لوی مېلمستون هم د اشرف غني په وخت کښې جوړ کړی شوی. پارون د سمندر څخه نهه زره فټه لوړه سيمه ده. د کونړ د لوري د سړک جوړولو چارې هم بشپړ کولې شي.
د کونړ هغه د قيمتي لرګو ځنګلي ځلوښت کاله داسې په بې رحمۍ سره چور تالان کړې شوې چې اوس ټول کونړ سپېرۀ پروت دی خو نورستان اوس هم د زمکې په سر د سمندر نه د لس زره فټه دنګ والي په برکت د منځنۍ ابشياء د کوم هېواد نه په ښکلا کښې کم نۀ دی.
د نورستان واورين سيند چې د يوې څېړنې تر مخه، د درې سوه شپېتۀ ورو برېښنائي بندونو ظرفيت لري، د نورستان په منځ کښې روان وي.
د نورستان دغه سيند د بريکوټ په سيمه کښې د چترال د سيند سره يو شي او د دغه ځای نه وړاندې د کونړ په سيند سره ياد شي. د کونړ سيند ته شپېتۀ سلنه اوبۀ د چترال او ځلوښت سلنه اوبۀ د نورستان سيند او د پيچ رود ورکوي.
دغه سيند وړاندې د جلال اباد د کامې په سيمه کښې د کابل سيند سره يو شي.
د پښتونخوا په لور د مومندو د تاترې په وېخ کښې ورسک بند ته را وځي او بيا وړاندې په نسته کښې د سوات پنجکوړې سيندونو سره يو کېدو نه پس په اټک کښې د اباسين سره غاړه غټې شي.

ځينې تاريخ پوهان دا ګڼي چې د نورستان او کېلاش اوسېدونکي د مقدوني سکندر د سرتېرو او جنګياليو پاتې شوي خلک او د ګريکوي کتېرين يعني يونانيانو لهٔ نسله دي چې د سکندر د يرغل پهٔ وخت کښې پهٔ دغه سيمه کښې مېشته شوي دي خو يو نظر دا هم دى چې د دوي ژبه د دارديک چې د اېنډو اريائي ژبو لهٔ کورنۍ ده او د هندي او سنسکرت ژبو سره ورته والى لري. دا قديم اريايان دي خو ځان ته د خپلې ژبې کوم ځانګړى رسم الخط يا ليکدود نهٔ لري. خو هنديان او د سنسکرت ژبې ويونکي هم د دوي پهٔ ژبه او لهجه نهٔ پوهېږي. تاريخ حيات افغاني د کېلاش د خلکو دمذهب پهٔ اړه داسې ليکي،

"دوي کوم مذهبي کتاب يا مذهي دستور العمل نهٔ لري. کهٔ څهٔ هم دوي پهٔ يو واحد خداى ايمان او عقيده لري خو يو شمېر بتان لري او د هغو عبادت هم کوي. دغه بتان د دوي د پلرونو او نيکونو پهٔ نومونو جوړ شوي دي. دغه خلک بتانو ته د قربانيو او نذرونو ورکولو پرته بل معمولي عبادت نهٔ کوي. د ځينې خدايانو نومونه ئې ډيزام، مهنديو، ډزلکس يادولى شي"

# کوکنار

افغانستان کښې د 'اپیم' (افیون) په کرونده بندېز لګولی شوی. دا بندېز په دوه وجو بېخي غلط دی: یو دا چې دوي ځان ته اسلامي امارت وائي – یعني هر کار د اسلام د امر لاندې کول. باید چې د 'کوکنار' په اړه د اسلام او فقهاء رایې وګوري، لکه څنګه چې د ښځو د حجاب او زدکړو په اړه د روح عصر نه پېژندلو له کبله د علمي او عملي تېروتنې ښکار دي. داسې تېروتنه د کوکنار په اړه هم کولې شي. په شریعت کښې د کوکنار او بنګو بوټي کرل او سوداګري بېخي روا عمل بللی شوی دی. د نشو د پاره کارېدونکي ټول بوټي په کلتوري بڼه طبي بوټي دي. نشه جوړول دوېم حېثیت لري، لکه څنګه چې د انګورو وربشو نه شراب جوړول د دې لامل نه دی چې انګور دې حرام وبللی شي؛ داسې کوکنار/ اپیم هم دي.

دا د مدینې د 'تأبیر النخل' په شان ذ رسول الله صلي الله علیه وسلم د حکم سره سم خپلو پوهانو اهلکارو ته د سپارلو په ځای د امارت د خپل ناسم تعبیر لاندې راوستل د اولس په فقر وژنه ده. تر اوسه هېڅ کوم فقیه هم اپیم ته ناروا نه دي وئیلي. په خپله پرېکړه دې د امارت مشران بیا نظر واچوي.

د اپیم بندېز یوه سیاسي ناسمه پرېکړه ده. دا کوم نوی عمل نه دی څکه چې په 1843 او 1860 کښې پېرنګیانو د خپلو تجارتي غرضونو د پاره چین سره دوه لوي جنګونه کړي وو. که امارت د کوکنار په سر د نړۍ نه ګټه کول غواړي نو خپل اولس دې له لوږې نه وژني.

د هند ستر عالم مفتي کفایت الله په خپله فتاوي 'کفایت المفتي' (کفایت المفتي 129/9،ط: دارالاشاعت) او مولانا رشید احمد ګنګوهي په 'فتاوي محمودیه' (فتاوي محمودي،عنوان :افیون کي تجارت اور اس کي آمدني کاحکم، 123/16،دارالاشاعت) کښې لیکي، 'بنګ، اپیم او چرس پاک دي، کرونده او

سوداګري ئې روا ده، ځکه دا څيزونه مباح الاصل دي.
مفتي رشيد احمد پهٔ خپله فتاوٰي 'احسن ال فتاوٰي' کښې ليکي، د اپيم کرونده او سوداګري روا ده، ځکه چې د اپيم اويا سلنه کارؤنه پهٔ دوايی/ درمل کښې کولې شي.
د کوکنار بوټی د اصل پهٔ اساس طبی بوټی دی. خاشخاش دوا ده. پهٔ خوراکي توکو کښې هم کارولی کېږي، تېل ترې هم ويستلی شي. دوا ساز کارخانې پهٔ لوی کچ کښې د اپيم د شپږ ويشت اجزاو نه درد کموونکي او نشه را وستونکي 'مارفين' او کوډين اجزاء د دوا د پاره جوړوي. پهٔ امريکا، هند، برطانيه، مصر او نورو ډېرو هېوادونو کښې د کوکنار د طبي بوټي پهٔ توګه اجازت ورکولی کېږي. پهٔ لوی کچ ئې کروندګر کري. د افغان وار پهٔ وخت کښې دا زمونږ کلتوري ګټور پېداواري فصل د يو سازش لاندې د 'پوډرو' پهٔ نشه بدنام کړی شو.
دوېمه غلطي د دې حکم دا ده چې اپيم د افغانستان د کروندګرو د معاش لويه وسيله ده. د افغانستان اتيا سلنه (80%) برخه د اپيم پهٔ کرونده ولاړه ده. پهٔ شپږ مياشتې نه لږ وخت کښې فصل رسي. اوبهٔ د غنمو نه کمې غواړي او ګټه او پېداوار ئې د غنمو پهٔ نسبت يو پهٔ لس ډېر وي. اوس کهٔ د دې کرونده بندولې شي نو وړومبی دې امارت افغانانو کروندګرو له د دې متبادل فصل، د کروندې جديد وسائل او د دغې د پاره وخت ورکړي. کروندګر غريبان ژاړي چې مونږ اوس بل څهٔ وکړو؟ کروندګر تنګول، پهٔ پړو تړل، وهل ټکول هېڅ اسلام نهٔ دی. د شريعت لهٔ نظره ناروا عمل دی. اسلام پښتنو پخوا منلی، اوس د اسلام پهٔ نامه تېروتنه به افغانان نور رنځور کړي.
پهٔ دې بايد چې د هر چا سر خلاص وي چې کارل مارکس وائي چې انسان معاشي حېوان دی – چې اقتصاد دې نهٔ وي نو نهٔ پهٔ کښې اسلام کامیابولی شې، نهٔ کيمونزم او نهٔ کېپټل ازم. د اوس وخت سائنس دا دی چې وړومبی اقتصاد دی بيا نظام – رسول الله مبارک د اقتصاد د اهميت پهٔ اړه څوارلس سوه کاله وړاندې

وئيلي دي چې معاش پۀ انسان داسې فرض دی لکه څنګه چې لمونځ فرض دی.
د مدينې پۀ رياست کښې چرې هم د اسلام پۀ ټولنيزو حقونو څوک نۀ دي ډبولی
شوي، بلکې د ترغيب پۀ اړخ خبره شوې. د خلکو معاش ته فکر نۀ کول، دې ته نۀ
کتل چې د افغانستان نه ټول خلک د معاش د ختمېدو لۀ کبله روان دي تښتي،
ژوند ژواک پۀ ټپه ولاړ دی. تش يو کروندګر پۀ وطن کښې ايسار وي. ځکه چې
د هغۀ زمکه وي. خو چې د هغۀ د ټول کال د ژوند وسيله هم ته پۀ زور جبر بندوې
نو هغۀ له کومه لار ورکوې؟ ښځې د پښتنو د وطن نه چرې هم نۀ تښتي خو هغه د
حجاب پۀ نامه تنګولې شي نو پۀ وطن کښې به ژوند څوک کوي؟
د قلارې د دې فرصت نه کۀ د افغانانو تر منځ د حکمت پۀ لار د لوی ملي تفاهم د
پاره ګټه وا نۀ خستلې شوه نو سل کاله به پۀ دې خاوره بيا بل عذاب وي.
د اپيم کرونده، سوداګري بندول د شريعت او حکمت د نظره غلطه ده. کۀ غلط
استعمال څوک کوي، د هغې غلط مخنيوی دې وکړی شي. د افغانانو نه دې
امارت پۀ ګران نرخ اپيم اخلي لکه څنګه ئې چې دا شل کاله ګانې چلولې او بيا
دې د نړۍ دوا ساز کارخانو ته ورکوي. کروندګر به هم خوشحال وي او افغانستان
ته به روپۍ هم راځي.
زمونږ پۀ سيمه کښې هم تر نژدې وخت پورې به مونږ اپيم کرل. زما نيکۀ مير خليل
بابا د کوکنارو کر به پۀ لوی کچ کولو. پلار مې د لواړګي او سدې پۀ مارکيټ به
د اپيم لويه سوداګري کوله. نور هم پۀ زرګونو پښتانۀ به د اپيم سوداګر وو. ډېر د
ګټې فصل او سوداګري وه. پۀ اوس وخت کښې يو کلو اپيم خواوشا پۀ دوه لکهه
روپۍ دي. يو کنال پټې به لس کلو اپيم کول. چې کله به کوکنار ګل شو نو دا ټول
وطن به ګلزار ښکارېدو. د پاکستان چارواکو پۀ مونږ دغه ګټور فصل پۀ زور بند
کړو. بل خوا د اېنټي نارکوټکس پۀ نامه زمونږ د کوکنارو پۀ سر به د لوېديځ نه
بيلينونه ډالر راتلل خو هغه ټول د پاکستان د چارواکو د ېډو ښکار وو. زمونږ
کروندګر ته پۀ کښې يوه روپۍ، يو ټيوب وېل، يو د کروندې اساني ور نۀ کړې

شوه چې په نتيجه کښې ئې د باجوړ نه د وزيرستان پورې کرونده هم ختمه شوه. کله نه چې زمونږ په وطن کښې پاکستان کوکنار ختم کړي دي نو زمکه هم د قهر نه غنم سم نۀ کوي. په صوابۍ ګدون کښې په لوی کچ د کوکنار کرونده په دې شرط ختمه کړې شوې وه چې کارخانې به درته لګوو، کرونده درته بنه کوو. کوکنار هم خلکو ختم کړل او د بجلۍ د نشتوالي لۀ کبله کارخانې هم اوس اديرې شوې دي. کله هم چې د وطن کلتوري کرونده د نشې په نامه د خپل غرض د پاره د منځه وړلې شي نو بيا به په ټولنه کښې د 'آئس' په شان د نورو هېوادونو بدرنګې نشې راځي، ځکه چې نشه کمولی خو شي خو ختمولی نۀ شي.

# د پېښور سانده

ستا تور قميص راوړل څۀ دومره معمه خو نۀ ده
سړی کۀ ځي نو پېښور ته به ځي، چرته به ځي؟
امام منظر

پۀ نړۍ کښې د وګړو د وسيلې نه پس ښارېې، تمدن او د يو ښار جغرافياني ارزښت د ټولو ستره وسيله وي. دغه تمدني پرمختګ د صنعتي او سائنسي پرمختګ پۀ اوس عصر کښې تر هر څۀ ګټوره وسيله وي. د زرګونو کلونو نه تر کال 1857 پۀ پېښور کښې 'د باجوړو دروازې' سره د منځنۍ ايشياء څخه راغلې قافلې به ولاړې وې. د اوښانو د سوداګرۍ راغلې جوپې به راتلې.
د باجوړو دروازې دا ځای د باجوړ، دير، سوات د سيمو د سوداګرو د استوګن ځای پۀ نسبت د باجوړو پۀ دروازه د پېښور پۀ تاريخ کښې ياد شوی.

انساني وګړي:
د قدرتي شتمنو شتون يوازې د پرمختګ لامل نۀ وي، تر څو چې د هغې نه پۀ منظم ډول د سياسي واک پۀ مرسته ګټه وا نۀ خستې شي. لوی مثال ئې افغانستان دی چې د قدرتي شتمنيو ډک دی خو سياسي عدم استحکام دغه هر څۀ شنډ کړي دي.
پښتانۀ بچي ډېر زېرږوي. پۀ نړۍ کښې چې کله د ژوند کومه منظمه تګلاره نۀ وي نو د وګړو زياتوالي سره بې شميره ټولنيزې ستونزې هم جوړې شي.
پاکستان پۀ نړۍ کښې د زېږون پۀ کچ پۀ شپږم او د پرمختګ پۀ څغل کښې پۀ 146م نمبر دی.
دغه ګڼه ګونه پۀ اوس وخت کښې د چين، ترکي او ملائشيا پۀ شان هېوادونو پۀ يو ګټوره وسيله بدله کړې چې پۀ لوی کچ ئې هنري زدکړې او لوي وارۀ صنعتونه

جوړ کړل. بې هنره وګړي نور په خپله خاوره بوج وي.
د پښتنو د وګړو اویا سلنه (70%) کچه د عمر د شلو نه تر پینځه دېرش کالو په ځوانانو ده. د پښتونخوا په هره ضلع کښې د هنري زدکړو ښوونځي جوړول پکار دي. د شپاړسم نه پرته تر لسم زدکړې هم دغه هنري زدکړو د پاره پوره وي. په لوی کچ ورې هنري صنعتي یونټې پکار دي چې په نتیجه کښې به ئې د وګړو ګنه د یوې ګټورې وسیلې په توګه مخې ته راشي.
پېښور ښار د تمدني او تجارتي پرمختګ په شان کښې څه دوه نیم زره کاله پخوانی تاریخ لري. دا ښار د منځنۍ اېشیاء او سوېلي اېشیاء په چوک پروت دی. د وخت ستر تهذیبونه ئې لیدلي دي. که چرته د پښتنو وطن د بد امنیو، پردي جنګونو په ځای د پرمختګ مزل کړی وی، د منځنۍ اېشیاء په لور تجارتي لارو ته تجارتي ارزښت ورکړی شوی وی، سوداګرۍ ته پام وی نو د خپل جغرافیائي موقعیت له کبله په دې کښې هېڅ شک نه ؤ چې نن به پېښور د 'دوبۍ' او 'شنګهائي' په شان ښارونو سره په تجارتي او تمدني پرمختګ په ځغل کښې سیالي کولې شوه.
د بده مرغه د نن پېښور یو ډېر خپلې وروستو پاتې ژوبل ښار دی. تر دې چې د وزیر اعلي څوکۍ ورکولو ته هم کوم ګوند نه وي تیار. د تېر شل کاله نه د قبائلي سیمو د خلکو یرغل دا ښار په یو ګنه ګونه بدل کړی دی.
نن د پېښور حالت دې ته رسولی شوی چې د دې ښار د ودانۍ د پاره هېڅ جدید انجنئیري نظام نه دی جوړ کړی شوی. د کنکریټ یو غر ترې جوړ شوی. د زمکې لاندې اوبه تولې د ګند د لاسه سخا شوي، اونې بوټي په سیمټو بدل کړی شوي. په نالو کښې د ګند د لاسه د پیشوګانو په شان مړې شوي، هر لوري ته ډېرانونه او بې ډوله ودانۍ دي. په پېښور کښې اوس د بارې د رود خوږې اوبه نه بلکې سخا نهرونه بهېږي. د پیسې خلک ترې پنجاب، کراچۍ او دوبۍ ته تللي دي. د جغرافیائي ارزښت کمولو او د پښتنو سوداګرو پنجاب ته د تولې مخې ستنولو

د پاره موټروی داسې جوړولې شي چې د پېښور په ځای پنجاب ته تګ لنډ او اسان وي. کهٔ د بربادۍ څهٔ کمی ؤ نو هغه د تېر لس کاله واکمنو د بي آر ټي په شان د ناکام پروژو په شکل کښې پوره کړې دی.

پېښور اوس د سنټرل ایشیاء او جنوبي ایشیاء په منځ کوم ارزښتناک تجارتي ښار نهٔ دی پاتې، بلکې د پاپړو او پلاسټکو د اټیو نه ډک ښار دی.

د پېښور وروسته ساتل د لاهور د ودانولو سیاسي فلسفه ده خو د پېښور د پښتنو د پاره دومره ارزښت دی چې کهٔ پېښور ودان وي نو ټوله پښتونخوا به ودانه وي او کهٔ پېښور وران وي نو ټوله پښتونخوا به ورانه وي.

د باجوړو دروازه په اوس وخت کښې د اوسنۍ مالګو منډهۍ سره نزدې د شعبه بازار په لور اوس هم په 'باجوړي ګېټ' یادېږي.

د پېښور شپاړس تاریخي دروازې چې د سکهانو د وخت ګورنر ابو طبېله په وخت کښې د ښار په چار دېوارۍ کښې سمې کړې شوې وې، هره دروازه د یو تجارتي ښار په لور جوړه وه. اوس د دغه دروازو تش نومونه پاتې دي.

1. کابلۍ دروازه
2. اندر شهر اسامائي دروازه
3. کچهرۍ دروازه
4. سرکي دروازه
5. رامپوره دروازه
6. اشنغرۍ دروازه
7. لاهورۍ دروازه
8. ګنج دروازه
9. یکه توت دروازه
10. کوهاټۍ دروازه
11. ریتي دروازه
12. ټهنډه کوهي دروازه
13. طبیبان دروازه
14. رامداس دروازه
15. ډبګرۍ دروازه
16. باجوړۍ دروازه

# د پښتونخوا نوې ضلعې او معدنيات

څۀ د پاسه سل کاله د پېرنګي د ظلم او جبر نه ډک د تور قانون ايف سي آر پۀ منګلو کښې ښکېل پاتې شوې پخوانۍ فاټا چې اوس ئې مونږ د پښتونخوا پۀ نوو ضلعو او منځنۍ پښتونخوا هم يادولې شو، د يو قامي پاڅون او غورځنګ پۀ نتيجه کښې پۀ يو دېرشم د مۍ کال 2018 د تل د پاره د دغه جبر نه خلاصه شوه. د ظلم پۀ دغه يوه پېړۍ کښې څۀ دوه برخې زمانه يعني څۀ دوه اويا کاله د پاکستان پۀ برخه هم ده.

پۀ تاريخي بڼه اوويشت زره (27,000) مربع کلوميټره دا خاوره د سوېلي وزيرستان نه تر د باجوړ د پښتونخوا تاريخي برخه وه خو څۀ د خپلو کمزورۍ او څۀ د پېرنګي زورورتيا وه چې د ښي لاس دا مټ ئې د پښتونخوا نه شوکولی ؤ. دا هر څۀ د پېرنګي د هغه دريغ برخه وه چې د مغل بادار نه ئې زده کړې وه چې 'خلک سره ووېشه او باچاهي پرې کوه!'

د پېرنګي د دور نه پس کۀ مونږ د پاکستان د دې سيمو پۀ اړه د ناورې پاليسۍ ذکر وکړو نو هم هغه د پېرنګي پۀ سترګه باندې د دې ملک بادارانو دې سيمې ته کتلي دي چې پۀ نتيجه کښې ئې څۀ د يو کروړ پښتنو ژوند د جهنم پۀ عذاب بدل شوی ؤ. دلته تش پۀ نامه واکمني وه، پولټيکل ايجنټ به د کروړنو روپيو پۀ رشوتونو رالېږی شو او چې کله به دغه پولټيکل ايجنټ يا د هغۀ لاندې چارواکي د دې سيمې نه واپس کېدل نو راغلي به د يوې جوړې جامو سره وو خو کډې به ئې بيا پۀ ټرکونو کښې بارېدې او پۀ ټرکونو کښې به هم نۀ سمبالېدې. د نغدو روپيو پۀ شکل به چې دلته کوم لوټ مار شوی ؤ نو د هغې به څۀ اندازه نۀ وه معلومه، ځکه چې پۀ دغه چور تالان کښې به دغه انتظامي چارواکي ځان له نۀ وو، بلکې د فاټا سېکټرېټ پۀ نامه چې کومه ځانګړې اداره وه، نو هر چا ته به

حصه بقدر جثه رسولې او ورکولې شوه.

د حکومتی کارمندانو د دغه چور تالان جائز کولو د پاره به دلته د دې سیمې د ځینې مشرانو نه یوه مراعات یافته ډله او طبقه هم په دغه هره ناروا او زیاتي کښې برخمنه وه چې هم د دوي په مرسته هره ناروا به روا کولې شوه. که د پښتنو د نسلي تاریخ څېړنې په اساس خبره وکړو نو ټول پښتانهٔ قبائل دي، یعني هر پښتون وګړی په لازم توګه د یوې قبیلې سره تړون لري. قبائلیت د یوې انساني ټولنې د یو وګړي یوه پېژندګلو وي او دا په تاریخي بڼه د انساني نسل د غورزو پرزو زمانه وه چې دې د قبائلیت په وندر ګېر او ښکېل وه. د پېژندګلو نه پرته قبائلیت نور ځان ته هېڅ رېښه نهٔ لري خو لهٔ بده مرغه د پېرنګي د اړخ نه چې کله دا سیمي د افغانستان او د هندوستان تر منځه یوه خالي ګاه (Buffer zone) وګرځولې شوه او دغه ځان له والي څهٔ د پاسه سل کاله زمانه واخسته نو لهٔ بده مرغه دلته د قبائلیت په نامه یو ځانګړی تشخص او انځور جوړ کړی شو او د پاکستان په اویا کلنه دوره کښې دې خلکو ته دا ځان له والی نور هم ورپوخ کړی شو. ځکه چې جناح صاحب هم ورته 'بازوئی شمشیر زن' وئیلي وو. کله چې به جنګونو او لښکرو ته اړتیا شوه نو تر کشمیر پورې به د دې سیمې نه لښکرې پاځولې شوې. که د شوروي اتحاد او که د امریکا خلاف اخ و ډب جوړول وو نو هم د قبائلو نه کار اخستی شوی. قبائلو د پاکستان د پاره هر جنګ کړی دی، ځانونه ئې وژلي، وطن ئې وران شوی خو چې کله د دې اولس د خاورې او د قامي حقونو خبره راغلې نو د پاکستان واکمنو پرې ټول عمر ځان شپېلی کړی دی.

پښتانهٔ که په هر ځای کښې دي نو اوس دوي له د قامي یووالي په اړه ډېر ګامونه نور اخستل دي، ځکه چې که د پخوانی قبائلي سیمې پښتانهٔ دي، که د سمې پښتانهٔ دي او که د سوېلي پښتونخوا پښتانهٔ دي، نو لا اوس هم د قامي مفکورې او پېوستون نه ډېر لرې دي. ځای په ځای قبائلي کرکې دي. هره قبیله ځان د بلې قبیلې تربوره او دښمنه ګڼي چې په نتیجه کښې ئې پښتانهٔ د قبیلو په نامه په

سلګونو قامونو وېشلی شوي دي. که پښتانه په نړۍ کښې سرلوړي غواړي، قامي ستونزې ختمول غواړي او د نړۍ سره ځان او قام سيال کول غواړي نو د افغانستان نه واخله تر پښتونخوا پورې به ځان په يو قام بدلول وي.
چې د قبيلو نه قاميت ته لاړ نه شو نو هم دغه شان به برباد يو، وطن به مو وران وي او د قامي شعور کچه به مو هم دغه راز ټيټه وي، څنګه چې د سابقه فاټا اولس ځان د قبائليت نه په قامي يووالي او مټ وويستو او د پښتونخوا برخه شوه، داسې بېداري بايد چې ټول پښتانه په ارادي او شعوري ډول په ځان کښې راولي. په سابقه فاټا کښې د پولټيکل ايجنټ شبکې به د افغانستان د سوداګرۍ او د سيمئيز تجارت نه ګام په ګام پېسې اخستلې چې د دغه روپيو به هېڅ کوم حساب کتاب او پوښتنه نه وه. ځينې ملکانو او خانانو ته به د حجرې د خرچې په نامه په لکهونو روپۍ ورکولې شوې چې دغه خرچو دغه خلک د قام د صف نه ويستلي وو او دغه راز د پښتنو تاريخي او دوديز روايت 'جرګه' هم د مرۍ نه نيولې شوې وه. د جرګې جوړول، بيا پرېکړليک اعلانول. دا هر څه به په معلوم نرخ باندې کولی شول. د انصاف په نامه به يو جمعه بازار لګېدلی ؤ چې چا به ډېرې روپۍ ولګولې نو د پولټيکل ايجنټ جرګې به د هغه په حق کښې پرېکړه اعلانوله. دغه رنګ د نشئيزو موادو په ضد به د اينټي نارکاټېکس په نامه په اربونو ډالر د دې سيمې د پاره د لوېديځ ملکونو له خوا وخت په وخت را لېږلې کېدل چې د کوکنارو کرونده پرې بنده کړې شي. د کوکنارو کرونده پولټيکل ايجنټ په زور بنده کړه او په دغه روپيو کښې يوه پېسه هم د دې سيمې کروندګر ته په بدل کښې ور نه کړې شوه. حالانکه کوکنار د دې سيمې د کروندګرو د زمانو نه د پټي روايتي فصل ؤ. دغه کوکنار د پوډرو د نشې نه بلکې د روزګار د پاره خلکو کرل، ځکه چې نن هم شپېته سلنه برخه د کوکنارو د طبي دوايانو په ضرورت کښې کارولې شي. خو نړۍ ته داسې ښودلې کېده چې بس دا سيمه ټوله د پوډرو د کارخانو نه ډکه ده. د کوکنارو په کرونډې د بندېز له امله د دې سيمې

کروندګر د ډېرې غريبۍ سره مخامخ شو. دغه رنګ د افغان جګړې د جرنېل مشرف د وخت نه چې د تندروي د جنګ په نامه کوم اربونه ډالر د سابقه فاټا د سيمې په برکت پاکستان ته راغلل نو د دې سيمې وګړي په کښې تر ننه بې برخې پاتې دي او نن هم دا سيمه کنډر کنډر ورانه ويجاړه پرته ده. بازارونه او کورونه د دې سيمې د پښتنو وران شو او ړنا ګانې ترې د نورو خلکو محلونو ته بوتللې شوې. يو شمېر وګړي اوس هم په کېمپونو او د ملک په نورو ښارونو کښې د بې کورۍ په حالت کښې ژوند کوي. د دې ټول زور زياتي په ضد په دې سيمه د ډېرشو کالو نه ډېر په پُر امنه ډول د آئيني بدلون د پاره يو غبرګون هم روان ؤ چې بالاخره په کاميابۍ سره سر ته ورسېدو او د سابقه فاټا سيمه د قامي وحدت او ترون په اساس د خپل تاريخي وجود پښتونخوا سره وتړلې شوه. دلته د اسټېبلشمنټ او د هغې ټولو علامتونو ته د عدم تشدد په مفکوره او په قامي مټ مېداني ماتې ورکړې شوه او په دې ډول د نېشنل ايکشن پلان د قامي سياسي ترون د برخليک په ړنا کښې فاټا اصلاحات او د دې سيمې د پښتنو د قامي حقونو مقدمه په پُر امنه ډول وګټلې شوه. د دې سيمې د تېر اويا کاله محروميو او ناخواليو ختمولو د پاره د پارلېمان لۀ خوا په آئيني توګه يو شمېر ليکلې ژمنې هم شوې دي چې مقصد ئې دا پاتې سيمې اوچتول او د ملک د نورو پرمخ تللو برخو سره په سيالۍ کښې يو شان کول دي چې د عدالتونو راتلل، د پښتونخوا صوبې د څوکيو د پاره ټاکنې تر سره کول چې په بشپړه توګه تر سره شوې هم دي، خو ځينې ډېر ګامونه اوس هم لا نيمګړي پاتې دي چې په قامي مالياتي انعام کښې درې سلنه برخه ورکول، هر کال سل اربه روپۍ ورکول، د زدکړو، روغتيا، پرمختګ او روزګار د پاره ګرندي ګامونه اخستل دي. خو تر اوسه د تحريک انصاف واکمن ګوند د دې سيمو په اړه هېڅ کومه تګلاره نۀ ده لرلې. بلکې دا سيمې ئې په ځان يو بوج ګڼلې دي چې د تاريخ پړه به د دوي په غاړه وي.

دغه رنګ په کليز بجټ کښې د دې ټولې سيمې پرمختګ د پاره هم څۀ مناسبه برخه نشته او صرف اتۀ څلوېښت اربه مختص کول د اوښ په خولۀ کښې شوړه ورکول دي. کۀ چرته د ملک واکمن د دې سيمو د پرمختيا د پاره په رښتيا ژمن وي او پکار ده چې شي، چې سره د هر څۀ بربادېدو نه پس هم د دې سيمې خلک بيا هم د دې ملک وګړي ځان شماري، د دې ملک وفادار دي او په آئيني توګه د کراچۍ، لاهوراو پېښور د دې سيمو د وګړو تر منځ هېڅ کوم توپير هم پاتې نۀ شي نو په دې باندې دې د ملک واکمن غوږونه خلاص کړي چې نور د دې سيمې پښتانۀ بېدار دي، د پردو جنګونو او اشرو نه ستړي دي خو په خپله خاوره امن او پرمختيا ته خامخا لېواله دي. دلته نوی کهول بېدار شوی دی او نور په خپله خاوره د بدبختيو په ځای پرمختګ غواړي.

موجوده واکمن ګوند دې وروستو پاتې سيمو ته يو ځل بيا شا کړې او په دوه کاله واکمنۍ کښې تر نن پورې په هغه آئيني ژمنو کښې پاتې راغلی دی چې کومې د دې سيمې د اولس سره شوې وې چې په هغې کښې د ټولو نه غټه خبره د دې سيمو د پرمختيا د پاره هر کال سل اربه روپۍ ورکول وو. دغه رنګ دا سيمې او د دې استوګن د ډېرې غريبۍ ښکار دي. د نورو حکومتي پروژو سره دلته په دې سيمو کښې پراتۀ معدنيات، ملي شتمنۍ ډېرې ګټورې کېدې شي.

د منځنۍ پښتونخوا داسې سيمه به نۀ وي چې دا معدنيات په کښې په لوی کچ نۀ دي پراتۀ چې په هغې کښې د وزيرستان نه را واخله تر باجوړ پورې لويې لويې زيرمې دي چې تانبا، سرۀ زر، ماربل، ګرېنائټ، نفرائټ، جسپر، آئرن هور، سوپ ستون، مېګنيز، کرومائټ، زمرود، بلور، اورئن ګېس او شيشه وغېره په کښې دي. د اسلام اباد د رِسرچ سنټر د وينا تر مخه، څۀ نولس ډوله د معدنياتو زيرمې په دې خاوره کښې پرتې دي او څۀ پينځۀ ډېرش ميليون ټن تانبا او سرۀ زر، شل ميليون ټن مېګنيز، يو سل اووۀ ډېرش ميليون ټن جپسم، يوولس ميليون ټن ډولومائټ او نور يو شمېر اندازه معدنيات پراتۀ دي. په باجوړ کښې ځان لۀ

5,860 میلیون ټن ماربل، په مومندو کښې 845 میلیون ټن او په خېبر کښې 345 میلیون ټن ماربل دي.
دلته که حکومت د دې سیمې د اولس نور خېرخواه وي نو باید چې د افغانستان سره ټولې د تجارت لارې تر د باجوړ د ناواپاس پورې پرانیزي چې اولس ځان په خپله په روزګار کړي. دغه رنګ د معدنیاتو زیرمې را سپړدل غواړي خو په معدنیاتو کښې باید چې یو څو خبرې په پام کښې ونیولې شي. یو په ټولو نوو ضلعو کښې په سائنسي اصولو یو جامع سروې پکار ده چې د دې زیرمو درسته اندازه ښکاره شي. دویم د پښتنو د زرګونو کالو ترون په اساس دا شریکې ملي شتمنۍ دي، حکومت دې په خپله ولقه کښې د دې د اخستو نه ډډه وکړي. په هر ځای کښې دې پرې د اولس په مشوره او جرګه کار شروع کړی شي. لانجې او اولسي شخړې دې په کښې ختمې کړې شي. اولس ته دې یا څېلمه قبیلې ته دې په کښې په یو خاص اندازه کمېشن ورکړی شي، ټهېکدار دې د مقامي سیمې وي. که د چا په ذاتي ځای کښې معدنیات وي نو چلوي دې خو د اولس برخه دې په کښې د کمېشن په شکل ومنلې شي. د دې زیرمو د چور تالان مخنیوی دې وشي. په سائنسي اصولو د را سپړدلو د پاره دې جدید سائنسي اوزار ورکړی شي او خام مال کراچۍ ته او نورو لرو سیمو ته د وړلو په ځای دې ورته هم په دغه سیمو کښې برقي فابریکې ولګولې شي چې د دغه سیمې اولس ورسره نور هم په روزګار شي او د لرې ښاریو وړل هم ختم شي.

چې زمرود ئې پېداوار دی
مونږ په هغه وطن کښې لوږې تېروونه

## 'داسو برېښنا بند'، او د تربېلې پينځمه پراختيائي پروژه

د پښتونخوا په بره کوهستان ضلع کښې د 4,320 مېگا واټ برېښنا جوړولو بند به تر 2026 سر ته ورسي. په بله معنې، په پښتونخوا کښې د تربېلا نه پس په اباسين جوړېدونکی دغه دوېم لوی بند به يوويشت اربه يونټ د اوبو نه ارزانه برېښنا په پاو باندې يوه روپۍ (Rs. 1.25) پېدا کوي خو بېرته به په پښتونو پنځوس روپۍ يونټ خرڅولی شي او لوډ شېډنگ به پرې د پاسه وي.

د دغه بند نه د برېښنا د پاره د تارونو لوی لائن د پنجاب لاهور واپډا هاؤس په لور روان کړی شوی دی.

د داسو بند دغه بجلي به د پښتونخوا صوبې د ټول لگښت 3,320 مېگا واټ نه يو په دوه زياته وي، خو پښتونخوا ته به يوه روپۍ نۀ د آئين د ارټيکل 161/2 لاندې منلې شوې خالص منافع ورکړې شي او نۀ به ورته د وړومبي حق ملکيت په شکل کښې ورته ارزانه بجلي ملاوېږي.

په اوس وخت کښې پښتونخوا د ټول پاکستان د اوبو نه جوړېدونکې اويا سلنه ارزانه بجلي پېدا کوي. د مومند ډېم او داسو ډېم سره به دغه کچه نوي سلنه (90%) ته جگه شي.

خو سوال د خپلو وسائلو د واک اخستلو او د گټې وټې دی– دغه سوال ته پښتانۀ په حېث د قام هېڅ ځواب لا نۀ وائي، ځکه خبر نۀ دي چې زمونږ په خاوره څۀ پېدا کېږي او واک به څنگه اخستل وي. د شپېتۀ کاله نه جوړ تربېلې نه د صوابۍ ځېږ پښتانۀ نۀ دي خبر. د صوابۍ هغه پښتانۀ چې پيرنگيانو ئې ځغلول، اوس د خپلو وسائلو او خاورې نه ډېر په هنر سره غوځ کړی شوي دي نو داسو خو هډو له څوک پېژني هم نۀ چې دا لا کوم وطن دی.

د داسو خلکو څۀ نه څۀ احتجاج کولو نو اووۀ زره نوکريانې او د زمکو يو څۀ

معاوضه ځائي خلکو ته ورکړې کېږي، خو بل لوري ته په مومند ډېم کښې سل کلومیټره زمکه هم ویړیا نیولې شوې او مومند اتمانخېلو ته د نوکریو/ نهر/ او بجلۍ هم څۀ ښېګړه نشته.

د پښتونخوا د تربېلې بند پینځمه پراختیائي پروژه په راتلونکي کال کښې د 850 میلیون ډالرو په لګښت سر ته رسېدونکې ده. دغه پروژه به 1,530 مېګا واټ برېښنا د هائډرو پاور په برکت نوره پېدا کوي چې ورسره به د تربېلې ټوله برېښنا 6,410 مېګا واټ ته ورسي. یوازې د تربېلې بجلي د ټولې پښتونخوا د ټول ضرورت نه یو په دوه زیاته ده. د دې پینځمې پروژې په برکت به د پښتونخوا نه واپډا ته څۀ د نوي (90) اربه روپیو بجلي د کال ملاوېږي.

ټوله پښتونخوا په ګرمۍ کښې په تیارو کښې ډوبه ده. د پښتونخوا په رڼا ګانو پنجاب پرقېږي. د پښتونخوا صنعت د بې اندازې زیات بلونو د لاسه په ټپه ولاړ دی. هر کارخانه دار ژاړي. د پښتونخوا صنعت ته د خپلو اوبو نه په پاو باندې یوه روپۍ جوړېدونکې بجلي په دوه شپېتۀ روپۍ یونټ ورکولی شي خو بل خوا د پنجاب صنعت د بلها ټېکسونو او ګرانې بجلۍ نه مستثنٰي کړی شوی دی.

ستونزه څۀ ده او حل څۀ دی؟

یو خو د پښتونخوا د آئین د آرټیکل 261/2 لاندې منلې شوې رائلټي پښتونخوا ته نۀ ورکړې کېږي، ورسره پښتونخوا د اوبو نه جوړېدونکې اویا سلنه بجلي پاکستان ته ورکوي. کال پس به دغه برخه د داسو او مومند ډېم په برکت اتیا سلنه شي.

په قانوني توګه باندې د پښتونخوا صوبې د بلونو نرخ هم د اوبو د بجلۍ د ارزان نرخ په کچ پکار دی خو دلته د آئي پي پیز په نامه د کمپنو ډله د پښتونخوا سره بله ګوته کوي- د فیول پرائس اېډجسټمنټ (FPA) په نامه د پښتونخوا دا ارزانه بجلي د نور پاکستان په تېلو او ګېس جوړېدونکې ګرانې بجلۍ سره یو کړي او بیا هغه د ګران نرخ په حساب دغه بجلي پښتنو پسې هم په بلونو کښې سره د

نورو بې شمېره ټېکسونو را وولي. دغه راز آئي پي پيز د لس کاله د پاره د پښتونخوا صوبې د صوبائي خود مختارۍ او اتلسم آئيني ترميم په برکت جوړېدونکي واړۀ بندونه هم د خپل پروګرام نه ويستلي. صرف غټ بندونه د خپلې ګټې او واک د پاره جوړوي.

د خېبر پښتونخوا وزير اعلیٰ ښاغلي علي امين ګنډاپور چې پنجاب ته د بجلۍ د پاره کومې دړکې او منتونه کوي، دا مسئله دومره ساده نۀ ده او نۀ په دې طريقه حل را وتلی شي، نۀ د يو ګړد په بتېن وهلو دا بوخته سمېږي؛ دا يوه سياسي مسئله ده او د سياست په لار به حل کېږي.

د پښتونخوا د بجلۍ سره د نورو آئيني حقوقو تر لاسه کولو حل دا دی چې صوبائي حکومت د پښتونخوا د ټولو سياسي ګوندونو سره جرګه کړې وی او بيا ئې په شريکه وفاق ته خپل دريځ ايښودی وی. هر څو کۀ دا ګام وړاندې هم اخستی شوی ؤ او د خېبر پښتونخوا د اسمبلۍ ټول سياسي ګوندونه ئې په ملاتړ ولاړ وو، خو واکمن پي ټي آئي ګوند بيا د خپلې مطالبې نه په شا شوی ؤ.

د صوبائي خودمختارۍ او نورو آئيني حقوقو تر لاسه کولو د پاره پي ټي آئي لس کاله وخت ضائع کړی او نور هم ضائع کوي. يو اړخ ته پښتونخوا د پي ټي آئي د وفاق سره د خپل سياسي رقابت د پاره په جنګ کښې ورومبۍ مورچه ده نو بل خوا پښتونخوا مسائلستان جوړه شوې. د پي ټي آئي د صوبائي حکومت د پښتونخوا د مسئلو د حل پاره هېڅ تياري نشته، نۀ ورسره د دې صوبې د پاره کوم منشور شته. کۀ ښاغلی ګنډاپور د پښتونخوا د بجلۍ مسئله حل کوي نو کۀ خپل ورسره نۀ وي نو د عوامي نېشنل پارټۍ منشور دې د بجلۍ په اړه وګوري. د پنجاب يو چېنل د پښتونخوا د خپلې بجلۍ د حق په مسئله د ښاغلي ايمل ولي خان ميډيا ټرائل څکه کوي او د هغۀ قامي خبرې ته د خپل تاريخي استعماري فکر په رڼا کښې لطيفه څکه وائي چې د بجلۍ د حق مسئله نېغ په نېغه د پنجاب د يو مخصوص قبضه ګير کلاس د صنعتي يونټو د ګټې تاوان سره تړلې شوې

ده. د دغه قبضه ګر کلاس د لوټ مار د جواز د پاره د محکوم قامونو د حق او خپلواکۍ مسئله د قام پرستۍ په نامه حرام بلل سیاسي دسیسه وي. د دغه ذهنیت هڅه دا ده چې په صوبائي اسمبلۍ/ قومي اسمبلۍ/ سېنټ کښې دې تل د پښتونخوا په نوم داسې چاړاګان ګونګیان ناست وي چې د مارګلې کنډاو نه اخوا وطن د پاره غږ نه کوي، تش د خپل وطن د بربادۍ او وسائلو د چور تالان تماشه کوي.

ایمل ولي خان د خپل ځان د ګټې نه بلکې د خپل قام د محرومیو او د هغې د وسائلو سره د چور تالان په ضد خبره کوي. ایمل ولي خان د بجلۍ حق څنګه اخستې شي؟ دغه د پنجاب دلاله میډیا پکار ده چې په دې ځان پوهه کړي چې د بجلۍ حق په آئین کښې منلی شوی دی. په اتلسم آئیني ترمیم کښې دا خبرې فېصله شوې دي خو په عمل کښې نه ورکولې شي. یا به د آئین نه اعلانیه نور انکار اعلانولی شي او یا به پښتونخوا ته د بجلۍ حق ورکول شي. د دې حق د پاره په سېنټ کښې ېوازې ایمل ولي خان هم پوره دی چې د دغه ټولو غاصبانو څهرې بربنډوي.

دغه دلاله میډیا باتد خبر وي چې د پاکستان د آئین ارټېکل b,d (2) 157 کښې په واضحه توګه د بجلۍ د حق په اړه لیکلی شوي دي:

b. levy tax on consumption of electricity within the Province; and
d. determine the tariff for distribution of electricity within the Province.

یعني کومه صوبه چې بجلي پېدا کوي، پېداواري یونټ وي، هغې ته د ټېکس لګولو اختیار هم شته او ټېرف به هم دغه صوبه Determine کوي، کومه چې بجلي پېدا کوي. Tariff مطلب څه دی، د یو توکي نرخ ټاکل، یعني fix the price of (something)، مطلب دا چې د بجلۍ د یونټ قیمت به په دغه پېداواري یونټ کښې څه وي؟ دا اختیار به د هغه پېداواري صوبې وي.

هم په دغه آرټیکل نور وضاحت دا کوي چې د پن بجلۍ پېداواري سټېشن کښې

به وفاق د هغه صوبې نه تپوس کوي. پېداواري صوبې ته به بجلي پۀ تهوک ورکولې شي. د صوبې دننه د بجلۍ د ترسيل ټول اختيار به دغه صوبې سره وي. هم دغه آرټيکل کښې وائي چې کۀ وفاق يا د صوبې د بجلۍ پۀ مسئله لانجه راشي نو مشترکه مفادات کونسل ته د لانجې وړلو اجازت او پرېکړه به کولې شي. دغه راز د آئين ارټيکل 2/161 هم د اوبو د بجلۍ د پېداواري يونټ د پاره د رائلټۍ خبره پاکه منلې خو د بې خونده صوبائي حکومتونو لۀ کبله عمل نه دارد. دا ټولې خبرې منلې شوي خو پۀ عمل کښې نشته. د عمل د پاره د اسمبلۍ دننه نمائنده خلک چپ دي. د پارلېمان بهر د حق اخستلو چل بايد چې وښودلی شي.

## عوامي نېشنل پارټي
## او د بجلۍ د ستونزې حل

کهٔ پهٔ پښتونخوا کښې پهٔ تېرو ټاکنو کښې د اې اېن پي حکومت راغلی وی نو پهٔ خپل صوبائي انتخابي منشور کښې د پښتنو د نورو ډېرو قامي مسائلو د جامع او سائنسي حل سره د بجلۍ د مسئلې د حل د پاره به داسې چټک ګامونه اخستلی شوي وو:

1. پهٔ پښتونخوا کښې د بجلۍ د نشتوالي سره ګران نرخ او د اوبو پهٔ ارزانه بجلۍ فیول اېډجسمنټ یوه لویه مسئله ده، هم د شته آئین لاندې د دې مسلې حل ټاکلی شوی خو دا حل اوس اخستل او خپلول دي. د اوبو ورو ډېمونو، هوا او نمر نه د بجلۍ جوړولو له به هر اړخیز کار شوی وُ.
2. وفاق ته د پښتونخوا د اوبو د بجلۍ د رائلټي د آئین د ارټیکل 161/2 لاندې چې کوم پهٔ زرګونو اربه روپۍ قرض دی، د دې اخستلو د پاره به ګامونه اخستی شوي وو.
3. هائډرو الېکټرک پېدوار او د بجلۍ د یونټ د پېداواري یونټ د اکایۍ پهٔ بنیاد د نرخ ټاکلو آئیني حق به پهٔ لاس کښې اخستی شوی وُ.
4. د بجلۍ جوړولو شته ډېرې پروژې چې ولاړې دي، اووهٔ زره میګا واټه نوره بجلي ترې ممکن ده. د پبلک پرائیوېټ شرکت (DFI) پهٔ مرسته د بهرنۍ سرمایه کارۍ پهٔ وسیله پهٔ آسانۍ سره به تر سره کولې شوې.
5. پهٔ غرنیزو سیمو رودونو کښې د هرې سیمې د بجلۍ ضرورت پهٔ خپل ځای کښې پوره کولو د پاره به دوه سوه نوي وارهٔ ډېمونه او مائېکرو هائډرو پاور سټېشنز (MMHS) جوړول وو چې د سیمې خلکو کورونو او مقامي صنعت ته به هم پهٔ خپله سیمه کښې د خپلې بجلۍ نه پهٔ آرزانه نرخ یونټ ورکولی کېدی شو.
6. د وفاق پهٔ کچه د هائډرو الېکټرک پاور جنرېشن زیات پېدوار ورکولو د پاره به د PEDO استعداد زیاتولی شو.

# د پنجاب پرمختګ او
# د پښتونخوا فقر دواړه مصنوعي دي

د پنجاب پرمختګ/ خوشحالي مصنوعي ده او د پښتونخوا بد امني/ غريبي/ فقر هم مصنوعي دي – څنګه ؟

څو ورځې وړاندې د پنجاب يو خبريال راته په ټويټر/X وائي، تاسو پښتانهٔ شکر وباسئ چې پنجاب شته، کهٔ نهٔ وه د لوږې به مړهٔ وئ. بيا وائي، ستاسو پهٔ وطن کښې چې پهٔ چا روزي قيامت شي نو پنجاب ته مزدورۍ له راځي.

ما وئيل وروره! خبره واوره! دا خبره يوازې ستا نهٔ ده، د پولټيکل انجنئيرنګ او د رسنيو د لارې دا خبرې دومره ډنډوره کړې شوې دي چې ډېر پښتانهٔ هم خپلو پښتنو مشرانو ته دا پېغور کوي خو خبره به لږه پهٔ دليل سپينوو.

پنجاب چې دا خبره کوي چې مونږ روزي درکوو نو دا خبره پهٔ دې بنياد کوي چې غنم پهٔ کښې ډېر پېدا کېږي. د پاکستان پهٔ اتهٔ ويشت ميليون ټن غنمو کښې يويشت ميليون ټن پنجاب پېدا کوي، خو بل خوا دا خبره پټولې شي چې د پنجاب د غنمو دغه وسيله د پښتنو پهٔ خوږو اوبو کېږي. کهٔ مونږ کله خدای د خپلې خاورې مالکان کړو، د پنجاب دغه دشتې به بيا مړه غونې پېدا کوي (مونږ د قامونو او ګاونډيانو سره پهٔ مساوي حېثيت د راکړې ورکړې او وروروليٰ تعلق باندې باور لرو).

پنجاب خپل درې سيندونه پهٔ 'سند طاس تړون' کښې پهٔ 1960 کښې بائيللي دي. د پنجاب اتيا سلنه (80%) زمکه د پښتنو پهٔ بهانده سيندونو خړوبېږي. د پنجاب وچ شوي راوي، بياس او ستلج د اباسين پهٔ اوبو ډک کړی شوي دي. چناب جهلم ترې نور هند ايساروي. د جهلم نيمې اوبهٔ هم د پښتونخوا خاوره ورکوي. د پنجاب ټوله اډانه پهٔ اباسين ده او د اباسين حقيقي مالک پښتون قام دی.

د پاکستان یو کم اویا سلنه (69%) خوړې اوبه پښتونخوا ورکوي. دغه اوبو کښې شپېتۀ سلنه (60%) برخه پنجاب، پینځویشت سلنه (25%) برخه سندھ، دوه میلیون ایکړ فټ بلوچستان او څلور میلیون ایکړ فټ پښتونخوا ته ورکولې شي، ځکه چې پنجاب نهري نظام لري. نهري نظام ځکه لري چې د پنجاب دننه یو خاص کلاس همېش د پاره د هر سامراج دلال وي. پېرنګیانو نهري نظام د پنجاب دشتو له پۀ 1886 کښې هم پۀ دغه بدل ورکړې ؤ او تر اوسه پاکستان چې څومره څلور زره کلومیټره نهري نظام جوړ کړی، دا هم پنجاب ته ورکړی شوی او پښتونخوا ته هېڅ جدید نهري نظام نۀ ورکړی کېږي. پۀ نتیجه کښې زمونږ د اوولس (17) بهانده سیندونو پۀ غاړه اویا سلنه زمکه للمه پرته ده.

بیا ما ووئیل، واوره! پنجاب د پاکستان اتیا سلنه (80%) غنم پېدا کوي. کرکیله صوبائي سبجکټ منلی شوی خو بل خوا پښتونخوا اتیا سلنه تماکو پېدا کوي خو تماکو د سره فصل نۀ ګڼلی کېږي او د شته فصل واک هم د مرکز/ پنجاب سره دی. د ټوبېکو بورډ ټول ممبران هم د مرکز وي. بهر نړۍ ته زما تماکو هم وفاق ورکوي. ټوله ګټه وټه هم وفاق اخلي. خو بل خوا ټول معدني وسائل د پښتونخوا دي خو دغه معدني وسائل د صوبې په ځای د وفاق حق ګرځولی شوی دی. پښتونخوا ته د وړو مالګې د رائلټۍ روپې هم نۀ ورکړې کېږي. بهر نه چې غنم اخستل وي نو مرکز سودا کوي خو چې کله پښتونخوا ته غنم ورکولی شي نو پښتونخوا نه د پنجاب پۀ آزاد مارکیټ کښې او د کرکیلې د وفاقي سبجکټ ګرځولو لۀ کبله غنم پۀ بهر نړۍ کښې د یوکرائن او قازقستان نه نۀ شي اخستی، بلکې د وفاق نه یا پنجاب صوبه نه ئې اخلي. ډېر ځل خو پۀ اټک بندېز هم لګوي؛ سره د دې چې د آئین آرټیکل 151 تر مخه هېڅ یوه صوبه د نورو صوبو سره پۀ سوداګرۍ بندېز نۀ شي اېښودی.

ما وئیل، کۀ د بلې پوښتنې ځواب درکړم چې مونږ پۀ مزدورۍ کښې پنجاب ته ولې محتاج یو؟ ما وئیل درروره واوره! پۀ آئین کښې دې را سره منلې دي چې د

دې ریاست هر وګړی د پاکستان په هر ځای کښې مزدوري/ سوداګري/ کولې شي، زمکه او کور هم اخستی شي. مونږ که پنجاب ته غریبۍ مزدورۍ له ځو نو چا ته څه سوال نۀ کوو، هم د دغه آئین په برکت دې زما ټول وطن چاونۍ او مورچه کړې ستا جرنېل هم د دغه آئین په برکت زما په خاوره ناست دی، خو زما خاوره دې صرف جنګي اقتصاد او بدامنۍ ته سپارلې او پنجاب ئې امن او اقتصاد ته! دا څۀ د پنجاب کمال نۀ دی، ځکه پنجاب د غنمو پرته یوه وسیله نۀ لري. وسائل زما وطن لري خو ودان پرې ستا پنجاب دی؛ بلکې د پاکستان سیاسي او اقتصادي نظام په داسې ظلم ودرولی شوی چې په یوه خاص سیمه کښې د سیاسي ګټو او د یو خاص کلاس د لاس بري تر لاسه کولو د پاره اقتصادي پرمختګونه په پنجاب کښې را غونډ کړی شوي. د مجبوریت نه ټول پاکستان پنجاب ته موتازه کړی شوی دی.

هم دغه پرمختګ/ انډسټري/ سوداګري چې په پنجاب کښې جوړه ده، دا په بله صوبه کښې ولې او څنګه ناممکن ده؟

آخره کښې ما ووئیل، خبره اوږدېږي خو ستا د پنجاب د صنعت د پاره بجلي زما د اوبو نه نهه سوه میګا واټه ورکړې شوې ده خو بل خوا زما د پښتونخوا خپل صنعت ته څلور شپېتۀ مېګا واټه برېښنا ده. پنجاب د پاکستان په ګېس کښې لس سلنه (10%) برخه پېدا کوي خو د پاکستان اتیا سلنه ګېس د پنجاب صنعت خوري چې شپېتۀ سلنه ګېس په کښې زما د پښتونخوا هم شامل دی. د پښتونخوا د پښتون په کور کښې خپل ګېس نشته خو د پنجاب صنعت ته پوره دی.

## اسلام او صوبائي خود مختاري

د خپل مقامیت او جغرافیایي په اساس قامونو ته حقوق ورکول اسلام په عملي شکل مني. د قامونو د مقامیت په اساس د حقونو خبره ښخي اسلامي ده. په قرآن کښې خدای پاک د قربت په اساس په ټولنیزو حقوقو کښې وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ هم وئیلي دي.

د رسول الله صلي الله علیه وسلم په زمانه کښې او بیا تر د خلافت تر وخت د مقامي واکمنۍ دوه بنیادي اصول وو: وړومبی دا چې د مقامي یونټونو حېثیت بغېر د کوم عصبیت خود مختاره منل شوي وو. د هرې سیمې والي به د فیډرېشن د یونټ په توګه خپلواک ؤ. حکمونه به د مرکز نه راتلل خو د هرې سیمې والي به په مالي توګه خپلواک او آزاد ؤ. د حج په موسم کښې به د عام اولس نه د والیانو په اړه پوښتنې کېدې.

د درېمې پېړۍ محدث ابو عبېد قاسم ابن سلام په خپل کتاب 'کتاب الاموال' کښې د حضرت عمر فاروق په زمانه کښې د یمن د والي معاذ ابن جبل یوه خبره لیکي. معاذ ابن جبل د یمن په ګټه وټه کښې په درې برخو کښې یوه برخه مدینې ته را ولېږله. حضرت عمر فاروق په دې خفه شو. لیک ئې ولېږلو چې دا ګټه وړومبی د یمن د صوبې حق دی، هلته به دې کارولې وې. معاذ ابن جبل بېرته ځواب ورکړو چې دلته ضرورت پوره شوی ؤ، باقي مې در ولېږلې. بل کال ته دوه برخې ګټه او په درېم کال ټوله ګټه مدینې ته ولېږلې شوه. وئیل دلته کوم ضرورت پاتې نشته. دغه تعامل په شام کښې معاویه ابن ابي سفیان هم کړی.

د یو فیډرېشن لاندې مقامي یونټې د خپلواک اکایانو په شکل پاتې کېدل د اسلام د نظره غوره کار دی. د اسلام په ضد نه بلکې د ټولنیز انصاف غوره ماډل دی.

CamScanner

ځيني خلک چې د اسلام د ټولنيزې فلسفې ناخبره دي يا واک فقط د يو څو وګړو په لاس کښې د ظل الهي په نامه ساتل غواړي، دغه فکرونه په اسلامي او علمي توګه شنډ وي.
صوبائي خودمختاري/ ضلعي خودمختاري په لاندې کچه اولس ته د يو نظام لاندې حقوق ورکول دي. حقوق ورکول د اسلام د نظره په شخصي او اجتماعي دواړه اړخونو کښې فرض دي. د دې د پاره غږ او چغه لوی د ثواب عمل او د خدای د خوښې لامل دی.

CamScanner

## سرچينې:

1. Yousfzai, Asim, Dr. *Afghanistan: From Cold War to Gold War*, Washington D.C, Ace Publishing, 2013
2. تابان، لياقت، ډاکټر، د سياست ،معيشت، ادب تراو او د پښتنو شتمنی، پښتانهٔ مترقی ليکوالان، 2021
3. رضا، محمد ، سنېټر، مخطوطه مقاله: د پښتونخوا وطن اوبهٔ او قامي دولت، مارچ 2022
4. Waqar, Hussain, Sayed, Dr. *The Impact of Afghan Transit Tarde on NWFP's Econmy,* Peshawar, Area Study Centre, 2008
5. وزارت معادن و پټروليم افغانستان، معادن و پټروليم مجله، 1393 ع ز.
6. Malkani, Sadiq M. *Mineral Deposits of KP and FATA*, www.researchgate.net
7. Gas and Oil in Khyber Pakhtunkhwa, www.google.com
8. نامعلوم، پهٔ افغانستان کښې د منرلي اوبو چينې (کولن: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه)
9. رحمان بونېرى، نئى اضلاع کى معدني ذخائر، شهباز، نومبر، 2019
10. ډاکټر فاروق زمان جيالوجسټ سره ژبني مرکه، مالګو منډى، اپرېل 2021
11. نامعلوم، د تېلو پېدا کوونکې لويه صوبه، پښتون مجله، جولائي 2011
12. بګټي، عبدالرزاق، ل کرنل، پاکستان کي آبي وسائل، لاهور، فکشن هاؤس، 2018
13. رضا محمد، سنېټر، د جنوبي پښتونخوا جغرافيه او لنډ تاريخ، کوئټه، يونائټډ پريس کلب، 2022
14. خاکسار، محمد رحيم، پوهنيار، د افغانستان کاني زيرمې، ننګرهار، هاشمي خپرندويه ټولنه، 2015
15. رانيزى، عزيز، د پښتونخوا مقدمه، دي پرنټ مين پرنټرز اينډ پبلشرز، پېښور
16. پښتونخوا اولسي تحريک، پشتون وطن کى وسائل اور مسائل، 2016
17. عوامي نېشنل پارټي، انتخابي منشور، 2008
18. حکيمزى، بدرالحکيم، پروفيسر، د پښتونخوا لنډه مطالعه، سوات: مشال پښتو ادبي ټولنه، اګست 2020
19. خټک، راج ولي شاه، ډاکټر، روهالوجي، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي، 2013
20. غورغشتي، عبدالعلي، لويه افغانيه، کوئټه، اداره تحقيقات، فروري 2015
21. مندوخېل، عبد الرحيم، افغان او افغانستان، کوئټه، يونائټډ پرنټرز، 2015
22. مولانا خانزېب، باجوړ د تاريخ پهٔ رڼا کښې، پېښور، مفکوره، 2020

CS CamScanner

23. صابر، محمد شفیع، تاریخ پښتونخوا، پېښور، یونیورسټي بک اېجنسي، 2020
24. مندوخېل، ایاز، پښتو: د پسماندګی وجه او د پرمختګ لار، پېښور، پوهه فاونډېشن، 2012
25. Khan, Amanullah, *The Pashtun Resistance Against the British Raj: 1897-1947*, Department of History, Islamabad, Quaid-e-Azam University
26. Himayatullah, *Pakistan National Awami Party: Nature & Direction of Politics,* Department of History, Islamabad, Quaid-e-Azam University
27. Qazi, Raza Rahman, Khan, *Extremism-Terrorism in the Name of Islam in Pakistan: Causes & Counterstrategy*, Department of International Relations, University of Peshawar
28. Nabahat, Syeda, *Impact of Micro Finance On Women Empowerment: A Cas Study of Selected Districts of Khyber Pakhtunkhwa,* Deparment of Economic, University of Peshawar
29. Tabassum, Iffat, *Degradation of Communal Natural Resources and their Impacts on Mountain Women: A Case Study of Karak District in Khyber Pakhtunkhwa,* Pakistan Journal of Social Sciences, Vol. 32, NO. 1 (2012)
30. Khan, Naeemullah, *Khudai Khidmatgar Movement and its Impact upon the Frontier Tribes (1929-1948)*, Department of History, Quaid-e-Azam University, Islamabad
31. Amjad Ali, *Economic Effeciancy of Sugercane Crop in Khyber Pakhtunkhwa* The University of Agricultures, Peshawar
32. Asif, Muhammad Ali Khan, *Suicide Bombing in Pakistan*, Department of Anthropology, Quaid-e-Azam University, Islamabad
33. Sheikh, Ilahi Bakhsh, *Water Resouces Management of Pakistan, Database Development & Analysis for Future Strategies*, Preston University, Islamabad
34. سهار، نذیر احمد، وزیرستان: وروستی تمځای، کابل، شبیر مطبع، 2014
35. باوري، محمد رسول، پوهنوال، زمونږ لرغونپوهنه، کوئټه، پښتو اکېډمي، 2015
36. هوتي، محمد اکبر، د پښتونخوا آبي وسائل، چارسده، پښتونخوا مطالعاتي مرکز، باچا خان پوهنتون، 2014
37. شمس مومند، پشتونخوا کی وسائل، پشاور، اعراف پرنټرز، 2023
38. حکیمزی، بدر الحکیم، ډاکټر، د پښتونخوا لنډه مطالعه، پېښور، اعراف پرنټرز، 2018
39. ملازئ، مهر خلیل، د خیبر پښتونخوا سېلګري، پېښور، آفاق پرنټرز، 2020
40. خدوخېل، شېرین زاده، د صوبه سرحد ځنګلي مرغی، پېښور، رضوان پرنټرز، 1995
41. ایسپزی، یاسین اقبال، پروفېسر، خاوري کډ لعلونه، پېښور، اعراف پرنټرز، 2018
42. ارمان، سمیع الدین، ډاکټر، د افغانستان لرغونپېژندنه، پېښور، مفکوره، 2023

پۀ پاکستان کښې د برېښنا (بجلۍ) د پېداوارې زېرمو جاج — %




د اوبو نه تولېدونکې برېښنا پۀ لږ لګښت (څۀ پاو کم دوه روپۍ يونټ) د نورو زېرمو نه د جيګ لګښت سره د پښتونخوا اولس پسې را لېږل کله هم سمه او د زغم ور خبره نۀ ده. د رېغه کۀ پۀ صوبه خېبر پښتونخوا کښې اولسي خلک پارلېمان ته ورسي او د اتلسم آئيني ترميم د ننه د صوبو د وسائلو حق تر لاسه کړي.

## د واپډا الهٔ خوا د برېښنا نوي پروژې

| لړۍ | د پروژې نامه | شته توان (MW) | د توانایي د تولید کلیز اټکل (Gwh) |
|---|---|---|---|
| 1 | دیامر بهاشا بند | 4,500 | 18,097 |
| 2 | داسو بند (ورومبی پړاو) | 2,160 | 12,220 |
| 3 | تربیله (پینځم پراختیائي پړاو) | 1,530 | 1,347 |
| 4 | مومند بند | 800 | 2,862 |
| 5 | کیال خوړ | 128 | 418 |
| 6 | منګله | 310 | 644 |
| 7 | ورسک | 242.96 | 1,144 |
| 8 | اتاباد | 54 | 373.6 |
| 9 | هرپو | 34.5 | 170 |
| 10 | کرم تنګي بند (ورومبی پړاو) | 18.9 | 79 |

## د صوبو ترمنځ د اوبو د وېش رڼاوې

| لړۍ | صوبه | د 1991 د تړون ترمخه برخه (MAF) | د 1992-93 د کال 2015-16 پورې کارولې شوې اوبه (MAF) | توپیر/فرق (MAF) |
|---|---|---|---|---|
| 1 | پنجاب | 55.94 | 49.91 | 6.03 |
| 2 | سند ه | 48.76 | 40.96 | 7.80 |
| 3 | بلوچستان | 3.87 | 2.57 | 1.30 |
| 4 | خیبرپښتونخوا | 8.78 | 5.78 | 3.00 |




د ترهګرۍ بهیر، چې تر ټولو زیاته ئې خیبر پښتونخوا، پهٔ ډېر لږ کرښه پرتې سیمې او بلوچستان ځپلي دي، د کابل لهٔ سقوط وروستو ترهګري لا پرېوانه او پراخه شوې ده. پهٔ دې حال کښې چې نهٔ د بهر نه استثمار راځي او نهٔ اولس د خپلو وسائلو نه ګټه پورته کولې شي، دا حالات کوم خوا جیلب کېږي؟

د مولانا خانزېب دا کتاب د رسا رهنمایۍ یو مستند علاج دی. باید دا کتاب د پښتونخوا سره تړلي هر وګړي ته ورسېږي. د دې ژباړه په نورو ژبو کښې وشي او بیا بیا چاپ شي. زهٔ ګڼم چې دا کار دې وخت کښې په تعلیمي ادارو او پروفېسرانو څېړنکارانو فرض ؤ خو هغوي نه پوره نهٔ شو او مولانا خانزېب دغه فرض ادا کړو –

ډاکټر سمیع الدین ارمان

څوک چې خپل ځان د قوي، علمي او سائنسي دلائلو په بنیاد د خپلو قدرتي وسیلو نه خبرول غواړي نو هغهٔ له دا کتاب خامخا لوستل پکار دي. د وسائلو تر لاسه کولو د پاره د ملک په متعلقه هر فورم کښې دا کتاب یو داسې دلیل او ثبوت دی چې څوک هم ترې مخ نهٔ شي ګرځولی –

روښان ایسپزی

په تېرو څو لسیزو کښې پښتنو 'من حیث القوم' د لاریونونو او پرلتونو رویې له وده ورکړې ده. پښتانهٔ به نهٔ را ټولېدل، اوس را ټولېږي. هغوي به خبرې نهٔ کولې، اوس خبر لوڅ شوي دي. هغوي به وېرېدل، هغه د وېرې تبه شلېدلې ده. هغوي به د 'محبِ وطن' نامې ته پسخېدل، اوس په غدار یادېدلو ویاړېږي –
د سیاسي اګاهۍ په مزل او بهیر کښې به تاریخ تل د مولانا خانزېب علمي او سیاسي برخه د ویاړ سره یادوي او زبادوي –

حیات روغانی

9 789692 110457
2024/10-01
03469850225